
Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالله جان مغموم

# تړون

دَ هغو ډېرو ډېرو او پاکو او ښکلو په نوم

چې کومې دَ دې دردناکو او غمناکو واقعو دَ

پېښو په وخت زما د سترګو نه لکه ملغلرې دَ

بې واره بې اختیاره راڅڅېدلې دي -

مغموم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول حقونه په حق د یکونکي کښې محفوظ دي


د کتاب نوم ——— "ارمانونه حسرتونه"

د چاپ کال ——— فروري ۲۰۰۱ء

شمیر ——— ۵۰۰

قیمت غیر مجلد ——— ۷۵/ روپۍ

قیمت مجلد ——— ۱۰۰/ روپۍ

پریس ———

کاتب ——— محمد رسول پښتو اکیډیمي


## د موندلو درک:

۱- یونیورسټي بک ایجنسي - خیبر بازار پېښور

۲- عبدالله جان مغموم

بمعرفت پوسټ ماسټر

شاهین ټاؤن

یونیورسټي پشاور

د کور فون نمبر ۴۵۵۵۹

# فهرست


| شمېر | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | عبدالله جان مغموم ښه شاعر، ښه ادیب او ښکلی انسان - جان محمد زلمی | ۱۱ |
| ۲ | ارمانونه حسرتونه (د کتاب په حقله څو خبرې) عبدالله جان مغموم | ۲۰ |
| ۳ | څلورمه لور | ۲۲ |
| ۴ | جبینه | ۲۹ |
| ۵ | حرص | ۳۹ |
| ۶ | شمشېر کاکا | ۴۶ |
| ۷ | دوه مېنان | ۵۸ |
| ۸ | مقدّسه هستي | ۶۸ |
| ۹ | سزا | ۷۴ |
| ۱۰ | پښېماني | ۸۱ |
| ۱۱ | انتقام | ۸۹ |
| ۱۲ | اوښکې | ۹۵ |
| ۱۳ | چپې | ۱۰۱ |
| ۱۴ | انسان او انسانیت | ۱۱۰ |
| ۱۵ | دوه یاران | ۱۲۱ |
| ۱۶ | تربور | ۱۲۸ |
| ۱۷ | وید بابا | ۱۳۴ |
| ۱۸ | احمد | ۱۴۰ |
| ۱۹ | ژونده | ۱۴۶ |

# عبدالله جان مغموم

## "ښه شاعر - ښه ادیب او ښکلے انسان"

(جان محمد زلمے)

عبدالله جان مغموم زه پېژنم - د وړوکوالي نه ئې پېژنم زما خپل دے - زما زړه ته ډېر نژدې دے - ځکه چې ښه انسان دے څو په دې موقعه به زه د هغه د ښه سړیتوب خبرې نه کوم - د هغه د شرافت - د پښتو او د غیرت خبرې به نه کوم - ځکه چې د غه داستان ډېر اوږد دے او په دې لنډ تنګ وخت کښې دومره اوږد داستان احاطه کول ګران دي - څو دومره قدر له به اووایم چې د غه ښکلے شاعر - ادیب او ښکلے انسان په تېرو ورځو کښې ماله راغلو او راته ئې اووے لاله (زه ترې نه په عمر کښې مشر یم نو ځکه ماته لاله وائي) دا فائل واخله دې کښې ما مختلف مضمونونه لیکلي دي دا اوګوره ډېر په غور او په فکر سره ئې اوګوره څو ورځې پس به زه راشم نو په دې حقله به مې د خپلې رائې څخه بیا خبر کړې دې مضمونونو له ما نوم ایښے دے "ارمانونه حسرتونه" فائل ئې ماله راکړو او په خپله لاړو - خدائے شته چې فائل ته مې او کتل نو وار مې ورته خطا شو چې دا به څنګه کوم - څو د مغموم غوندې ځوان نېي آدم ته مې انکار نه شو کولے - فائل مې ترې نه واخستو او د شپې مې ډېر

په ناڅوالۍ را وا خستو ما وے چې وعده دې کړې ده نو پوره کول به غواړي - دَ فائیل دوه پاڼې مې چې واړولې نو په دریمه پاڼه دَاولنۍ مضمون نوم وَه " خلوریمه لوُر" په لوستو یې شروع اوکړه ، اولنۍ پاڼه ورپسې دویمه پاڼه او بیا دریمه پاڼه - تلم ورپسې دَ هرې پاڼې په لوستو به مې دَ زړهٔ درزارے سیوا کېدو - دَ هرې کرښې په لوستو به مې څوله نوره زیاته اوچه اوچه کېده - غوږے به مې زیګ زیګ کېدو او تاسو یقین اوکړئ چې دَ قصې آخرنۍ پاڼه سرته اورسېده نو په ځان هم پوهے نهٔ وم څو رڼې رڼې ترمې ترمې اوښکې مې دَ سترګو نه راروانې وې په مخ مې څورې ورې بهېدې او په ګرېوان کښې مې څڅېدې - دَ دې نه پس په قصې پسې قصه - په واقعې پسې واقعه او په حادثې پسې حادثه مې اولوستله - په یو نشست کښې مې ټولې قصې اولوستې - د ټول فائل نه بوُت اووتم او هغه دروند فائیل چې زما ورته وارخطا وَه چې دا به څنګه ګورم هغه مې په ژړا او په سلګو کښې تکے په تکے اولوستو - دَ هرې قصې په لوستو مې غوږے زیګ زیګ شو - هره یوه قصه یو غم لړلے غم زپلے او غم سیزلے داستان وَه - یو دَ بلې نه زیاته دردېدلې او په غمونو کښې لړلې وه - هره یوه قصه مې اولوستله او دَ لوستو نه پس به مې دَ غم یوه سړیکه په ټول بدن کښې خوره شوه - او سوچ به وا خستم چې دا څو ند دُکهنې خلقو دپاره څومره غمناک دے څومره دردېدلے او تنز نېدلے دے -

مغموم ډېره موده ما په رېړېدو اورېدلے وَه - "دَهدایت خانّ"

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کردار کښې د "پائنده خان" په کردار کښې د "مرچکي" په کردار کښې او د پښتو هرې ډرامه کښې ما د هغه د فن او صلاحیتونو ننداره کړې وه - خو ماته دا نه وه معلومه چې دا هر وخت په خندا (مغموم) دا هر وخت خوشحاله مغموم کني په زړه کښې دومره غم هم لري چې قلم ئې د اور بخرې هم شیندلې شي - زه نه وم خبر چې د مغموم ذهن او قلم د مظلومانو انسانانو د جذباتو او احساساتو ترجماني په دې ډول هم کولې شي - ماته دا نه وه معلومه چې د مغموم په قلم کښې دومره زور شته چې لوستونکي هم د خپل ځان سره د احساساتو په بهیر کښې بهولې شي - زما په ذهن کښې مغموم یو هر وختي خوشحاله او په خندا انسان وه یو داسې انسان چې نه د غمونو نه خبر وه او نه ئې د چا په غمونو دومره څه پروا وه - زما په ذهن کښې مغموم یو ښکلې رنګین شاعر او د پښتو ژبې یو منفرد طنز نګار او مزاح نګار خو وه، خو د دې نه خدا ئے شته چې نه وم خبر چې دا په ظاهره خندا او خوشحاله مغموم په خپل زړه او سینه کښې د دردونو او غمونو دومره لوئے لوئے طوفانونه هم ګرځوي - د "ارمانونو حسرتونو" د سرخط لاندې چې لیکلې شوې قصې او واقعې چې په دې یقین سره ښه په غور سره او لوستې چې دا هر څه حقیقت دے - د "وائي" قصې نه دي - دا ځکه د اکثرو داستانونو په رنګ افسانې نه دي - ځکه چې مغموم چې ماله د "ارمانونه حسرتونه" ټائپ راکولو نو ورسره ئې راته دا وئیلي وو چې دا هر څه چې ما لیکلي دي نو د هرې قصې او هرې واقعې بنیاد په حقیقت باندې ایښودے

شوی دی - البته هرې قصې او هرې واقعې له ما په خپلو الفاظو کښې سرخته کړې دي او د الفاظو جامې مې ورته اغوستولې دي -

څو ورځې پس مغموم راغلو تپوس ئې اوکړو چې قصې دې اولوستې - ما ورته وې اؤ یار او مې لوستې خو زړه درنه یو تپوس کوم چې دې لوستونکو تاسره څه بد کړي دي چې تا ئې داسې په خفه کولو او زهیرولو پسې قلم راخستې دے - تاسره خو د خندا خبرې هم شته - د توقو وشتو داستانونه درسره هم شته نو په دې غمونو ډېلې ماحول کښې خو تاله پکار وو چې پرېشانه زړونه دې خوشحاله کړې وے - او څه داسې قصې او واقعې دې په دې کتاب کښې راجمع کړے وے چې د لوستونکو نه د څه ساعت دپاره خپل غمونه او پرېشانۍ هېرې شوې وے - ما خو ټولې قصې اولوستې او د هرې قصې په لوستو مې غم سیوا او زړه دلګیره شو - هرې واقعې په سرو سترګو او ژړولم - او دا مې یقین دے چې هر لوستونکے به لکه زما د هرې قصې د لوستو نه پس د خپلو اوښکو د اوچولو دپاره یا د رومال او یا د څادر د پسکې نه کار اخلې نو داکنې دلوستونکو سره زیاتے نهٔ دے -؟

زما په دې اوږد بیان مغموم مسکے غوندې شو او راته ئې اووے چې "غم او خوشحالي" ورود او خور دي نو د ورور او خور ترمنځه بې ناحقې جدائي ولې راولئ - د خوشحالئ په خوند هغه خلق پوهېدے شي چې د غمونو په اغزنه لار منزل اوکړي -

د مغموم په دې دلیل باندې زهٔ غلے شوم - دهرشاعر او هر ادیب خپل خپل اصول دي - په تېرو ورځو کښې ما د مغموم صیب د شاعرۍ

کتاب د تور "وربل تورو کمڅو خیري" لوستلی وه. د هغې په حقله مې څو تپوسونه په زړه کښې وو نو دا موقعه راته موزونه ښکاره شوه او تپوس مې ترې نه اوکړو چې مغموم صیب دا دومره موده خپل څو وه چې خپله د ځوانۍ شاعري دې دا سې پټه ساتلې وه او په دې آخر عمر کښې دې د ځوانۍ رباب او ټنګولو ټکار څو دا وه چې دا د ځوانۍ شاعري دې په ځوانۍ کښې چاپ کړې وې او په دې عمر کښې دې دې ددې عمر شاعرۍ له کتابي شکل ورکړے وے. زما د دې خبرې په جواب کښې مغموم مسکې غوندې شو او راته ئې اووے چې لاله ستا خبره په سرسترګو منم خو زمونږ د خلقو المیه دا ده چې مونږ د مجبورو دلاسه یو کار هم په وخت نۀ شو کولے. مونږ غوندې خلقو خپل ژوند د خپلې خوښې او خپلې مرضۍ مطابق نۀ چرې تېر کړے دے او نۀ ئې تېرولے شي مونږ چې د حالاتو نه مجبور شو نو خپل شپې په ورځو او ورځې په شپو بدلوو. نو زما د ځوانۍ شاعري خو به ما هله په وخت چاپ کړې وے چې زۀ د رېړه یو د دُنیا په دَلْ دَلْ کښې ورېوځت شوے نۀ وے. ځکه چې په ریړه یو کښې زما ژوند څور وور او دا نه وانه شو زۀ یو ځې د ستمو د ښتانو او زلمو رنګین شاعر پاتې نۀ شوم بلکې زما شخصیت په مختلفو برخو کښې په دا سې طریقې سره تقسیم شو چې زمانه ئې شاعري تېره کړه. هغه شاعري چې د طالب العلمانو او زلمو به خوښه وه هغه شاعري چې زما په هر هر نښه به زلمو او ځوانانو ماله دومره شابسې راکولې چې شاید اشنا زه ئې نه وه. زما د پاره شاعري تېرول نا ممکنه خبره وه خو لا له ! دا خلق هم عجیبه دي. یا خو به

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوي زما په شاعرۍ دومره مست وو چې په واه واه بیا اووایه په
چغو سورو به ئې اسمان په سر راخستے وَه - او یا چې زهٔ د رېډیو د
یو اهم پروګرام "ججرې" د یو اهم کردار "پائنده خان" په نامه یوه
ورځ په سندرا سور ججرې ته راغلم نو ځوانان او زلمي خو پرېږده
چې بوډاګانو هم داسې هرکلے اوکړو چې راشه کهٔ ئې ګورې -
هغه چا به چې زما په مستو مستو شعرونو لاسونه پړقول اوس
زهٔ د "پائنده خان" په شکل کښې د هغوئ آئیډیل شوم - د
انسان دا فطرت دے چې په کوم کار کښې هغه ته زیات شاباسے ملاوېږي
هغه کار په زیات شوق او مینې سره کوي نو ما هم شاعري هېره کړه
او د رېډیو پروګرامونو ته اړم شوم - نوې نوې تجربې مې پکښې شروع
کړې - نوي نوي پروګرامونه به مې لیکل - نوې نوې ډرامې او فیچرونه
به مې لیکل او پېش کول -

رېډیو ته د ننوتو په وخت زهٔ صرف یو شاعر وم - او چې
رېډیو ته ورننوتم نو زهٔ اناؤنسر هم شوم - کومپئیر هم
شوم - پروډیوسر او راېټر هم شوم د ډرامو هیرو هم شوم -
د هرې ډرامې د سرکردار به ما اداکولو ځکه چې ما به د هر چا نه ښهٔ
اداکولے شو - نو په دې وجه د هر ډرامه نګار به دا خواهش وَه
چې زما په لیکلې ډرامه کښې دې د سرکردار (د هیرو پارټ)
عبدالله جان مغموم اداکړي - او د هرې ډرامې پروډیوسر به
داکوشش وَه چې زهٔ دې د هغه په پېش کوونکې ډرامه کښې حصّه
واخلم - په ډرامه کښې زما شمولیت به د ډرامې د کامیابۍ سند

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګڼلے شو -

لالا! ته خو په ریډیو کښې پاتې شوے یې - تا ته د خوا نو خلقو محنت او خوارې معلومه ده - په دغه خوارې کښې افسرانو کښې یو مشهور نوم د قاضي احمد سعید صاحب هم دے تا ته پته ده چې هغه به د خپل پروګرام سره څومره محنت کولو - نو دا د کال ۱۹۷۲ء خبره ده په ۲۷ دسمبر زما واده وه (د ډولۍ ورځ وه) او په دغه ورځ دغه قاضي احمد سعید چې هغه وخت د پښتو ډرامو انچارج وه په سائیکل سور زمونږ کلي ته راغلو - چې ما اولیدو نو تپوس مې ترې اوکړو چې قاضي صیب ولیمه خو صباله ده او تاسو نن ....؟ نو مُسکے غوندې شو او راته یې اووے چې او ولیمه صباله ده خو نن ماځیګر له "محمد بن قاسم" ډرامه نشرکېږي او ما سره تا نه بغیر بل څوک داسې نشته چې د محمد بن قاسم پارټ سره انصاف اوکړے شي - نو ته به مهرباني اوکړې او ما سره به لاړ شې چې ډرامه اوشي بیا به راځې - نو ما قاضي صیب ته خپلې مجبورۍ په مخکښې کېښودې او معذرت مې ورته ښکاره کړو - نو دا دومره اوږد بیان مې په دې پوره اوکړو چې په ریډیو کښې زما ژوند برخې برخې شوے وه - په مختلفو حصو کښې تقسیم شوے وه او زما اورېدونکو د ریډیو د پروګرامونو په هره برخه کښې زما آواز اورېدل غوښتل - زما کردار ادا کول یې پکښې خوښول - د خلقو نه زما د شاعرۍ د "تور او ربل تورو کمڅو خبرې" هیرې شوې وې او زمانه هغه مسته شاعري هغه چې د ځوانانو په جذباتو کښې به یې زلزلې راوستې هغه رانه داسې پاتې شوه چې هر و بیا راته

(c) ketabton.com: The Digital Library



را یاده نهٔ شوه -

اوٌ لاله ! داېٔ لاځهٔ کوي ، دَ رېډيو دَ عروج په زمانه کښې چې دَ هوا په چپو صرف دَ رېډيو بادشاهي وه - چې لاټيليويژن دَ پاکستان په مزکه قدم نهٔ وُ ایښودے - په دغه وخت کښې زهٔ دَ هدایت خان او پائنده خان دَ کردارونو نه علاوه دَ ریډیائي ژوند یو بل اهم دور کښې داخل شوم - په دې دور کښې ما هغه مقصد ترلاسه کړو چې کوم دَ ریډیو په نشریاتو کښې یو نوے مثال قائم کړو دَ یو نوي باب اضافه ئې پکښې اوکړه - په دې دور کښې زهٔ اورېډيو ننکو ته دَ یو نوي پروګرام ''خوابهٔ تراخهٔ'' او دَ یو نوي توم ''سرچکي'' سره مخامخ شوم - اوٌ لاله زما په ریډیائي ژوند کښې زما د پاره دا یوٌ ''ځلنده'' دور وهٔ ، یو داسې دور چې ما پکښې دَ پښتنو قام اوٌ پښتنې معاشرې هغه خدمت اوکړو چې کوم به شائد چې ما دَ شعرونو په ژبه نهٔ وے کړے شوے - او ځکه خو چې زهٔ خپل دَ رېډيو پـه ټول کاله ژوند یو سرسري نظر واچوم نو ''دَ خوبو و ترخو'' دَ پروګرام په تخلیق او دَ ''مرچکي'' په کردار فخر محسوسوم - ''خوابهٔ تراخهٔ'' یو داسې اصلاحي پروګرام وهٔ او ''مرچکے'' دَ دغه اصلاحي پروګرام یو داسې کردار وهٔ چې کهٔ یو خوا ته به ئې خلق ټول عمر یاد ساتي نو بل خوا ته به دَ ادب او دَ نشریاتو په دنیا کښې زما نوم هم ټول عمر ژوندے وي -

نو لاله دَ ریډیو په دې دومره ناوزګاره او کنجې لکه ژوند کښې کتې ما دَ اولنې دورنه علاوه په بل دور کښې هم شاعري کولے شوه ؟

ما سره کښي وخت وه؟ زه کښي په بې شمېره ځايه تقسيم شوے نه ووم.
نو په داسې حالاتو کښې تاسو زما د دويم دور د شاعرۍ طمعه زمانه
ولې کوئ؟

ما چې د مغموم بيان واورېدو نو دا خبره مې اومنله چې واقعي
چې د ريډيو په دومره نا اوزګاره ژوند کښې د مغموم نه د دويم دور
او دريم دور د شاعرۍ طمعه کول زياتے دے. زه دا منم چې مغموم د
ريډيو په ژوند کښې ډېر نه هېرېدونکي کارونه او کردارونه اداکړي
دي نحو "خوابده تراخه" او "سرچکے" به ټول عمر د خلقو ياد وي -
او د مغموم نوم به په عزت او احترام سره اخلي -

( زلمے )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# "ارمانونه حسرتونه"

## (د کتاب په هکله څو خبرې)

---

دا زما د هغه کتاب نوم دے چې په شروع کښې ورله ما د ستر شاعر صابر شاه صابر په خوښه "یادونه یادګارونه" نوم ایښودلے ؤ، خو دیو ملګري د خط په بنیاد چې دا نوم زما مرحوم پلار د خپل کتاب د پاره خوښ کړے وُه او نن صبا د طباعت د مختلفو مرحلو نه لګیا دے تیریږي نو ما مجبوراً خپل کتاب له د "یادونه یادګارونه" په ځائے "ارمانونه حسرتونه" نوم خوښ کړو۔ "ارمانونه حسرتونه" زما د هغو مضمونونو مجموعه ده چې کوم ما د خپل ریډیائي پروګرام "خوږې ترخې" د پاره وخت په وخت لیکلي وو۔ او دا مې خیال ؤ چې دا به په خپل آواز اوریدونکو ته پیش کوم او هغه درد او تحریکي کومې چې د دې قصو۔ واقعو او حادثو د اوریدو یا د لیکلو په وخت زما زړۀ ته رسیدلي وې هغه به د خپل دردیدلي آواز په ذریعه د خپلو اوریدونکو زړونو ته ورښکته کوم او کومې اوښکې چې د دې واقعو د لیکلو په وخت زما د سترګو نه لکه سیلاب بهیدلې وې هم هغه رنګ د رنړو او ترخو ترخو اوښکو یو سیلاب به د خپلو اوریدونکو د سترګو نه دارووانوُم - خو زما دا ارمان پوره نهٔ

شو نهٔ مې د خپل زخمي زړهٔ حال اوریدونکو ته اووئیلے شو او نهٔ مې په دې غم کښې هغوئې د ځان سره شریک کړے شول - خو زهٔ د خپل خدائے نه دا طمعه لرم چې کهٔ لوستونکي د دې کتاب هره واقعه په غوږ او سړه سینه اولولي نو هم هغه تاؤ به محسوس کړي کوم چې ما محسوس کړے وُ - د هرې واقعې په لوستو کهٔ دَ اوښکو لړۍ دَ سترګو نه راروانه نهٔ شوه نو بیا زهٔ ملامته - زما د مضمونونو - واقعو او حادثو دې مجموعې له زهٔ د افسانو نوم نهٔ ورکوم ځکه چې په دې کښې اکثرې واقعې د افسانې د فن په تله پوره او نهٔ خېژي دا مضمونونه ما دَ ریډیو د اوریدونکو د پاره خاص دَ ریډیو په ټیکنیک لیکلي دي - نو ځکه زهٔ دا نهٔ شم وئیلے چې " ارمانونه حسرتونه " کښې دَ افسانو مجموعه ده - په دې کښې به افسانې هم وي - په دې کښې به قصې - حادثې او واقعې هم وي - خو یوه خبره زهٔ تاسو ته په دې یقین سره کوم چې دا هرڅهٔ لکه دَ افسانو په رنګ صرف افسانې نهٔ دي بلکه دا هرڅهٔ چې ما لیکلي دي دا ټولې داسې واقعې دي چې بنیادې په حقیقت باندې اېښودے شوے دے - دا د رښتیا، قصې مې راجمع کړي دي - کتابي شکل مې ورله ورکړے دے او نوم مې ورله " ارمانونه حسرتونه " اېښودلے دے او اوس ئې په دې دواړه تاسو ته وړاندې کوم چې تاسو ئې په خپله هم اولولئ زنانه او ماشومان دې هم اولولي - زهٔ د خپل خدائے نه دا طمعه لرم چې هر لوستونکے به ترې نه د خپل ځولۍ ډکه کړي - انشاءالله -

عبدالله جان مغموم

# څلورمه لور

بېګاه د زرغون د دوو میاشتو ماشومه لور آخر مړه شوه خدای دې اوبخښي .... خو یقیناً چې خدای به بخښلې وي ځکه چې د دوو میاشتو د ماشوم د نه بخښلو هډو سوال نه پېدا کېږي .... او داسې ماشومه - داسې تنکۍ کلۍ چې چاته په دنیا کښې د سترګو د غړولو سره سمدستي د نفرت په نظر او کتې شول .... د چا په پېدائش چې د زرغون مور خپلې انږور له په خوله کښې د پېغور سپېڅونه وراومندل او د چا په پېدائش چې د زرغون تېر په سرو سترګو روژړېده - ولې .... ؟ ځکه چې دا د زرغون څلورمه لور وه ... او د زرغون لور نه زوی پکار و - د زرغون د مور نمسی نه نمسۍ پکار وو - خو د زرغون په قسمت کښې زوی او د زرغون د مور په قسمت کښې نمسی نه و .... قدرت ته به دا نه وه منظوره چې د مور او د زوی دا ارمان دې پوره شي .... خو د زرغون مور د قدرت فیصلې ته سر ښکته کولو ته تیاره نه وه .... هغې د الله پاک فیصلې ته غاړه نه ایښوده ... نو ځکه خو داسې لیونۍ سپېلنۍ شوه .... ځکه خو داسې په کنډو کپرو سر شوه .... د حالت د بودې کانو ښځو سره صلاح کانۍ او شوې د دایانو سره مشورې اوشوې - چا ورته وې چې زرغون له بل واده اوکړه - او چا ورته اووې چې

ماشومې له د څلوېښتي نه اګاهو اګاهو په سودکړي انکار کښې په
سروکړو سیخونو دواړه پوندې اودا غه - کهٔ غواړې چې د زرغن زوئے
دې اوشي نو راپاسه او د ماشومې دواړه پوندې په سُورکړي سیخ
اودا غه چې خدائے پاک د ر له نمسے درکړي - چې دَ جینکو پا تلي
به له شي - دَ زرغن د سور زړهٔ ته دا صلاح پرېوته ..... او آخر
یوه ورځ سحر وختي دوه سیخونه دَ نغرې په سُور انګار کښې ښخ
کړے شو .... او ربلېدو - سیخونه سره کېدهٔ - ماشوم دَ چېلي نیا
د ارادو نه نا خبره - په اور نږي کښې تړلې په خوابهٔ خوب اودهٔ وه..
.... ماشوم کلي نهٔ وه خبر چې په څهٔ ساعت پس څهٔ قیامت
را تلونکے دے - تنکے کلي نهٔ وه خبر چې دا او سنے خوب دَ دې دَ ژوند
آخرے خوب دے - او شائد چې بیا ترمرګه پورې دا سې د آرام خوب اونهٔ
کړے شي ..... او چې څهٔ ساعت پس پېدو نو .... دواړو سیخونو یو
ځنځنادې کړل - دَ ماشومې د خولې نه دا وتلي درد بدلې سوزېدلې کوکېکه
د سحر په خاموشۍ کښې خوره شوه - په ټول کور کښې د سوزېدلې غوښې
بوئې شو.... د ماشومې مور د غوجل نه په هیبت را منډې کړې او چې
او ئې ته را ننوته نو دَ زرغن سور لکه خونړی سرهٔ کړي سیخونه
په لاس ولاړه وه .... مور په لُور ورپرېوته ... لُور ئې را پورته کړه -
په سینې پورې ئې اونیوله - او .... (په ژړا) دا ولې؟ چې - دا دې
څهٔ اوکړل - زما په لُور دې څهٔ اوکړل هٰ.... چپ شه سر دې اوخوړے
شه کهٔ غیر دې اوکړو نو دا سیخونه در ته په سترګو کښې منډم - ته
هم د... شې تا څو زما دَ زوئے ژوند په غذاب کړو - د لونو قطار دې جوړ

کړې دے - بل څهٔ علاج ئې نهٔ ؤ - جینۍ له مې پوهېدې او داغې چې زما زوے له خدائے پاک زوے ورکړي - (په ژړا) بي بي دا دې څهٔ اوکړل - دومره ظلم .... زهٔ به دې مړه کړې وُم - ماله به دې سترګې ړندې کړې وې، خو دې ماشومې له به دې دومره درنه سزا نهٔ ورکوله .... بي بي دَ دې څهٔ قصور دے - دې کوم ګناه کړې ده - ګناه خو زما ده چې ماله خدائے پاک زوے نهٔ راکوي .... ډېر ظلم دې اوکړو بي بي -

مور لُور په سینې پورې نیولې پاس په کوټه روخته - دَ ښو په سر کېښناسته - ماشومه ئې په غېږ کښې واچوله - هغې ورېتې ورېتې چغې وهلې .... دَ هغې پوندې سرې غوښې وې - مور دَ ماشومې نرۍ نرۍ او سپینې پاپې په خپلو سترګو پورې مښلې - دَ مور دَ سترګو نه د اوښکو لړۍ روانه وه په خپل قسمت پورې ژړا نه وه - دَ ماشومې ژړا د هغې په زړهٔ کښې پرهرونه جوړول - دَ هغې دَ زړهٔ نه وینې څڅېدې - خو په خوله ئې هیڅ نهٔ شو وئیلے - دَ ماشومې لُور سره ئې لکه دَ لیونو خبرې کولې .... " لُورې ستا دَ دې ماشومې څېټې نه ځار شم ته ولې دې ظالمې دنیا ته راغلې - تا ته دَ دې دنیا شرمځانو نهٔ وُو معلوم - تاته نهٔ وه معلومه چې دلته دَ انسانانو زړونه دَ کاڼي شوي دي - ته نهٔ وې خبره چې دلته دَ نیاګانو په جامه کښې قصابانې هم شته .... ته ولې راغلې هُن؟ ستا په ما باندې هم زړهٔ نهٔ زېږېدو - لونه خو تل دَ میانو و له زاړېږي قربانیږي، نو .... ته خو هم زما لُور ئې کنه ته به نهٔ راغلې - ته به دې ظالمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنیا ته نه راتلې چې دومره نه په عذابېږي او زما ژوند درسره هم داسې نه په سروتڼکو کېدے .... ته مړه شه لورې - دې دُنیا ته ستا ضرورت نشته - دَدې خلقو زامن پکار دي زامن -

یو لور ته چې د پېدا کېدو حق نشته بیا ئے لویه خدایه ته بیا ولې پېدا کوې - ولې پرې باندې میا ندې زهیروې - ولې .... ولې .... (ژړا) او دلته د ماشومې دَ مور په زړه تیاره راغله بې هوشه شوه - راوغورځېده وره په زمکې سملاسته - ماشومې ژړل او مور دَ دنیا دَ حالاتو نه بې خبره - دَ لور دَ ژړا انګولا نه بې پرواه په زمکې بوره بورې پرته وه - خدائے خبر چې څه وختې ئې خوا بسې پاس راوختله - ماشومې ئې دَ مور دَ غېږې نه راوُښوکوله په زنګو کښې ئې ورلره کړه او په انګور ئې دَ خرڅوړې کمبل وراچوله .....

دَژوند شپې ورځې تېرېدې دَ ماشومې دواړه پوندې سخا شوې - دوه میاشتې مور او لور دَژوند شپې ورځې لکه په سور انګار او سرو سروتڼکو تېرې کړې - په دې دومره موده کښې مور او لور نه دَ ورځې سترګه پټه کړه او نه ئې د شپې آرام اوکړو .... او آخر بېګاه دَ زړغن دَ لور سختې معاف شوه .... (غریو) ماشومه کله د ګل کېدو نه مخکښې اوژړېده - دَ مسېدو نه آګاهو اوژړېده - دَ غوړېدو نه آګاهو اودوړېده .... نه ئې سپرلے راولېدو او نه دَ سپرلي نه خبر شوه دَ ماځیګر نسرچې زېړېدو نو ماشومه تورو خاورو ته اوسپارلے شوه .... مور ئې ژړل دېر ئې ژړل - په ژړا ژړا ئې سترغلي پرسېدلي وُو - دَ مور دَ سینې پسې دا وېخ

شوي وو. څو د ښو څکو نکي د تورو خاورو د لاندې په جوړه
خوب اوده وه .... مور شپه په الوڼ بلوڼ تیره کړه ـ او سحر
وختي چې ملا بانگ وېلو مور برقعه په سر اديرې ته لاړه ...
لويه اديره .... کنډر کنډر، هيبت هيبت اديره خاموشه
خاموشي ـ ذړه لړزوونکي او بوگنوونکي خاموشي ..... گېرچاپېره
قبرونه ـ ډېر قبرونه ـ بې شمېره قبرونه .... او د قبرونو په
دغه ښاريه کښې ددې د ماشومې لور قبر دے ته لکه د يو ورکوټي
تاج محل په رنگي ښائسته ښکاره شو ـ او ښائسته به ولې نه
ښکاريږو ـ د يوې مظلومې تنزيد لې ماشومې قبر خو د تاج محل نه
زيات ښائسته وي .... مور د نجيلې لور په قبر ور پريوته ـ قبر
له يې غاړه ورکړه ـ لکه چې نجيله ماشومه لور يې سينې ته رانزدې
کړه ـ يو څو بې واره بې واره چغې يې اووهلې ـ او بيا.... ؟ .......
ور لورې تا بېگاه شپه په دې خوشي بيابان کښې يواځې تيره کړه ـ
ويريدلې خو نه وې ... ته خو به اوږدې شوې وې کنه ... لېونۍ
زما سينه خو هم هغسې ډکه ده ـ راپاسه راپاسه چې په نجيلو
ښو دې سره کړم لورې پښې خو دې بېگاه نه خوږيدې کنه ....
بېگاه خو يه دې ډېوند و دلاسه تر تقي نه وې وهلي کنه .... ؟
اؤ ته به بېگاه په ارام وې ـ بېگاه به دې ايله په آرام خوب کړے
وي .... لورې ما خو بېگاه هم ټوله شپه په سترگو سترگو کښې
تيره کړه ـ زه خو بېگاه هم ناقلاره وم ـ ډېره ناقلاره ـ
دومره ناقلاره چې ذړه مې بس ټق ټق چاودو ـ اوس مې هم ذړه

څرېکي وهلي - د دا تللو توان مې نه وُ خو تاله را غلم - ما وے چې شا
دا نوے کور اوګورم .... ډېر ښائسته دے - لور چې ډېر ښائسته کور
دې دے دا نوے کور دې مبارک شه -

دَ مور په مرګ کښې اواز اوښتلو - دَ اوښکو سېلاب دَ سترګو
نه را روان شو .... دغه سېلاب رو رو کمېد و کمېد و چې دوه اوښکي
توې نه جوړې شوې - دوه رڼې رڼې اوښکې دَ کوګو نه را بهر
شوې او د دواړو سترګو په ښو کښې لکه سپینې مرغلرې را حصارې
شوې - او څهٔ ساعت پس چې دغه د اوښکو مرغلرې د ښو نه
دَ قبر په ګلونو را توې شوې نو .... د لور مور یوه آخرنۍ سلګۍ
اووهله ...... لکه چې دَ مور زړهٔ اوچوو .... اوُ ! د بد نصیبي مورَ
زړهٔ په رښتیاء اوچاودو - دَ مور زړهٔ چې دَ اولاد د پاره اوټه چوي
نو نور په دَ چا دَ پاره چوي ....؟

دَ مور د پاره په زوے او لور کښې فرق نشته - دا فرق دَ جاهلانو
د پاره شته - د ظالمانو د پاره شته - ګني دخدائے په نزد زوے او لور
یو برابر دي - نو اے د جهالت په تورو تیرو کښې پرتو روندو - اے دَ کرکې
او نفرت په ناولو جذبو ککړو روندو او نخوښند و دَ قدرت په قانون
کښې ګوتې مهٔ وهئ - الله پاک چې څهٔ کوي ښهٔ کوي - لور دَ زوے
نه په هر لحاظ سره ښهٔ ده - لور خو د زوے نه زیاته مینه ناکه ده - دَ
مور پلار د پاره په زړهٔ کښې دَ مینې او محبت چې شانه ډېر جذبات
لري - لور خو رحمت دے - هم دغه لور صیاله دچا خورشي دچا دَ
[illegible] دچا مورشي - نو اے دخدائے دقانون خلاف بغاوت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه خو بنیادم د ظلم مه کوئ - د ناروا مه کوئ - د خدای د قهر نه ووېرېږئ - ګوره د الله تعالی انتقام ډېر سخت دی - د ظلم انجام ګوره ډېر بوګنووُنکی دی - او د زړغونی ښځې - ای دېوې بد نصیبې تُور بد نصیبې سوری - ستاسو د دواړو ځنځو نه نصیب شه - په دې دنیا کې د دنیا او سپینو نکو ډېر اوژړولی ډېر ځی اوکړولی - اوس مو دهغه جهان خوشحالی نصیب شه - آمین -

---

# جینه

ه     په مرګ به دواړه سره مړهٔ شو

ارمان مې دا دے چې به مخکښې روستو شو نه

دَ مرګ هیڅ پته نهٔ لګي هیڅوک نهٔ دي خبر چې زهٔ به کله کوم ځائے او څهٔ رنګې مرم - مرګ ډېر بې اتیاره څیز دے دَ مرګ دپاره دَ څهٔ نېټې دَ وخت او دَ عمر قید نشته - او که شته نو هم انسان ترې نهٔ دے خبر مرګ یوه ناګهانې حادثه ده -

مرګ یو ناګهانې شړک دے چې

په چا راپیوځي او خپلې ځوانۍ پنځې ورته په مړي غښې کړي -

څومره ماشومان په ماشومه ځته

مرګ دَ لحد تورو خاورو ته اورسول

څومره ښکلي ښکلي ځوانان چې

د پلارانو دَ ملاتیر او دَ میاندو د سترګو تور و

دَ مرګ ناترسه څپېړې

د دنیا نه پورته کړل

څومره پلاران اوژړېدل ؟

څومره میاندې بورې شوې ؟

او څومره تورې سرې کونډې شوې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



تور سرې!

او هغه تورې سرې

چې څوک د پلار د کوره

د بې شمېره ارمانونو سره په ډولۍ کېنې

په سره ډولۍ کېنې

دَ خاوند انو کورونو ته راغلې وې څو دَ خپل تقدیر نه خبر نهٔ وې

دَ خپل قسمت نه خبر نهٔ وې

چې دا سره ډولۍ دَ دوئ

دَ غمونو په لور .... مصیبتونو په لور او ازمېښتونو په لور آخرنے

سفر دے او هر کله چې دا سفر پوره شي نو د بد بختۍ اؤ

بد نصیبۍ یو نوے دوره شروع شي.

جبینه! .... هغه ښکلې او ښائسته جبینه.

هغه دَ ګلاب ګل به ئې چې دمخ نه شرمېدو، هغه چې شفق به

ورته پسخېدو.

هغه جبینه! هغه چې ډېره ښکلې او ښائسته وه. دومره

ښائسته چې زهٔ ئې ښائست په الفاظو کښې نشم بیانولے.

جبینه ښکلې وه،

څو اکبر هم په ښائست کښې د چا نه کم نهٔ وُ.

کهٔ د جبینې د ښائست ذکر به جینکو په کور ونو کولو

نو د اکبرخان ښکلې ځوانۍ به په حجره کښې ستائیلے شوه.

جبینه کهٔ د کلو لخته وه نو اکبرخان د ګلاب ګل.

جبینه کهٔ د جونو درځو وه، نو اکبرخان د ځلمو آدم خان وُ۔

دوه ښکلي، یوه پېغله او یو ځلمے

د ترهٔ لُور او د ترهٔ زوے۔

دواړه د یو نیکهٔ اولاد

ښکلې رشته وه - ښکلې جوړه وه - ښکلي سیالان وُو۔

اُوځکه خو چې د اکبرخان مور د جبینې د غوښتو د پاره هغوي کره لاړه نو .... خدایے خیر چې څهٔ چل وُ۔

خو نن جبینې ته د خپلې چاچي راتګ څهٔ بل رنګ ښکاره شو نن به چې هغه خپلې چاچي ته مخامخ کېده نو شرمېده به ترې او دغه وجه وه چې څنګه یې چاچي په کوټه راښکاره شوه جبینه لاړه په کوټه کښې پټه شوه۔

د اکبرخان مور دراتلو سره د جبینې د مور سره خبره اوچته کړه۔ جبینې د مور او چاچي خبرې اورېدې زړهٔ یې یې واره دړزېدو۔ تهٔ پوهېده چې دا ولې د ځان نه یې تپوس اوکړو جبینې دا ولې؟ دا ولې نن ستا دا زړهٔ داسې بې قابو درزېږي اے زړهٔ داسې بې قابو کېږه مه - کهٔ نن تهٔ بې قابو شوې کهٔ نن تهٔ د قابو نه اووتې نو زما د ژوند ټول ارمانونه به ګورے چوره چوره شي -

جبینه ! د ځان سره لګیا وه، او چې د خیالاتو د سمندر نه را بهر شوه نو د مور غږ یې تر غوږو شو۔

دا جبینه خو ستاسو امانت دے خودې چې کله ستاسو خوښه

وي ،، نجیل کوډته یې بوتلې شي -

لاړه د جینۍ او اکبرخان دنیا بدله شوه - دواړه به هر وخت
د یو بل په خیالاتو کښې چپه چپه وو - د یو بل په تصور کښې
به یې د ژوند شپې ورځې تېرېدې - د خیالونو او تصور دنیا
یوه رنګینه دنیا - د ارمانونو او خوشحالو دنیا - یوه داسې دنیا چې
د دوو مینو زړونو درزا پکښې په یوتوله وه - حرکت یې په
یو رفتار ؤ -

دواړو داسې محسوسوله لکه چې د شپې د آسمان د ستورو
پړقانو هم سپوا شوه -

دواړو ته سپوږمۍ هم د مخوا په نسبت زیاته ښکلې او
ښائسته ښکارېده - ټوله فضا او ټول ماحول -
د ځوانۍ په رنګینو کښې راو نغښتې شو -

اؤ! دوه مینې زړونه چې د ژوند په لارې د ملګرتیا تابیا
اوکړي نو ماحول ورته هم دغه رنګې رنګین ښکاري - لنډا دا
چې د ژوند شپې ورځې د رنګینې دنیا په تصور کښې په تېرېدې
تېرېدې اوچې اکبرخان د انجینۍ د کوي وانسته نو مور
پلار یې د واده بندبنا اوکړه - د واده نېټه کېښودے شوه
جینه په ګنج کښې کښېناسته -

ګنج ...... چې د مور پلار په کور کښې د جینۍ د ناستې ځائے
وي چې جینۍ پکښې میلمنه وي -

خدائے خبر چې څهٔ چل ؤ - د جینې په زړهٔ کښې ویره ګونډی:

وه - خدای خبر چې څه چل ؤ چې نن د جبینې د زړه په دروازې
کښې هغه تلوسه نه وه - هغه خوشحالي نه وه - هغه د خیالونو
او تصور رنګینه دنیا جبینې ته څه سپېره سپېره او ورانه
ویجاړه ښکارېده -
په لاسونو او پښو لګېدلو نکریزو نکه چې چیچل کول د هغې زړه
غوښتل چې دا نکریزې د لاسونو او پښو نه لرې کړي - او لاسونه
پښې په یخو یخو اوبو اووینځي - چې دا سوځې یې په قرار
شي - خو جبینې داسې نه شو کولے - ځکه چې هغه په کنج
کښې ناسته وه - شپه تېره شوه .... غرمه شوه - ماښام
شو - مخکښې ورا .... او ورپسې جنج راغلو د جبینې او بل
کور شو .... ښایسته ټې یې په دوه شو هرچا د ناوې ښایست
او ستائېلو -
په خوشحالو او نندارو ډولۍ کور ته شوه -
د الا الا په چغو سورو او د ټوپکو په ټقار کښې ډولۍ د
اکبرخان په کوټه ورد ننه شوه -
او د دې ځاے نه د جبینې د ژوند دویم دور شروع شو -
اکبرخان به د جبینې سترګو ته کتل - چېره پرې ګرانه وه -
په جبینې هم اکبرخان کم ګران نه ؤ -
دېنې کور ؤ - د خوشحالۍ او اطمینان ورځې شپې وې چې
تېرېدې - اکبرخان انجنیر ؤ - او یوه ورځ داسې راغله
چې هغه د اعلیٰ تعلیم د پاره لندن ته روان شو -

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ رخصتېدو په وخت يې جبينې ته اووې ـ

"جبينې خفه کېږه مه زهٔ به که خېر يې ژر دراشم"

"څومره ژر به راشې اکبرخانه"

"بس که خير يې دوه کاله دي د سترګو په رپ کښې به تېر شي"

"دوه کاله به دَ سترګو په رپ کښې تېر شي"

اکبرخانه ته نهٔ يې خبر چې دَ جدائي يوه لمحه هم لکه دَ کالے
هومره اوږده وي نو دوه کاله به څنګه دَ سترګو په رپ کښې تېر شي"

"جبينې زما دَ پاره هم دا جدائي ګرانه ده خو څهٔ اوکړم"؟

"اکبرخانه خدائے خبر چې زما دا زړهٔ ولې دومره ناقلاره دے ـ
ستا لندن ته په تلو زما زړهٔ ولې ډوبېږي ـ ستا په دې تلو کښې
ماته څه تباهي ولې ښکاري؟

"ناداني جبينې ستا څهٔ خيال دے چې ستا اکبر به کښې تا هېره
کړي؟"

"ته په ما داسې بدګمانه يې"

اوُ هره ښځه په خپل خاوند باندې تر څهٔ حده پورې بدګمانه وي ـ
زما ستا په مينه باندې باور دے ـ ولې بيا هم زما زړهٔ ....."

"دَ زړهٔ نه وسوسې اوباسه ـ پښتون په ژوند کښې يو ځل
مينه کوي .بيابيا نهٔ کوي"

"او خوره دوې ماشومې لونګينې په سر قسم ـ

اکبرخان دَ لونګينې په سر دواړه لاسونه کېښودل اوُ دَ جبينې
سره يې لوظ اوکړو چې زهٔ به تا نهٔ هېروم" جبينې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژړېدلو سترګو اکبر له رخصت ورکړو او دا ټپه يې ورته اووے

په مرګ به دواړه سره مړه شو !

ارمان مې دا دے چې به ځمکښې روستو شونه

اکبر لاړو په کوڅه اووتو - جبينه کوټې ته ننوته په کټ کښې پړمخې پرېوته او په چغو چغو يې اوژړل -

هم دغه رنګ ګړونه په ماښامونو او ماښامونه په تورو شپو بدلېدل - په هره دوېمه ورځ به د اکبر خط راتلو - د جبينې سره دَ مينې لوظونه به پکښې تازه کېدل - جبينې به د يو خط نه تر بل خط پورې ورځې شپې شمېرلې -

خطونه رو رو کمېدل د دوېمې ورځې نه خط هفتې ته اورسېدو - او د هفتې نه خبره مياشتو ته اورسېده دَ اکبرخان په خطونو کښې د مينه ناکو الفاظو ځاے سپوره ستغو او بې مطلبه خبرو اونيولو -

جبينې به دَ لوظ مطابق هره ورځ اکبرخان ته خط ليکلو خپل لوظونه به يې ورته يادول - دَ لونګينې خبرې به يې ورته ليکلې - ورته به يې ليکل ، چې لونګينه زما ډېره خوښه ده ځکه چې د دې سترګې بالکل ستا په شان دي - اکبره لونګينه دې ډېر ياده وي - اوس يې بابا هم زده کړي دي - په ترتره ژبه خبرې هم کوي - خو دومره اوبه د خط په جواب کښې به صرف دوه کرښې خط راغلو - زهٔ ډېر نا روزګاره يم دومره نا روزګاره چې تاسو ته د خط ليکلو وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



راسره هم نشته -

لاړه جبینه دَ فکرونو او وسوسو په سیند لاهو شوه - دَ اکبر سره اوس دومره وخت نشته چې جبینې ته خط اولیکي؛ دَ جبینې زړهٔ تمکه اوخوړه .... او چې څهٔ وخت دَ کلي یو بل ز لمے دلندن نه راغلو او دا خبره ئې راوړه چې اکبرخان هلته بل وادهٔ کړے دے - نو جبینه لیونۍ شوه - بالکل لیونۍ - جامې ئې اوشلولې - دَ سرو ویښته ئې په موټو موټو را اوشوکول او کهٔ لونګینه ترې نه خوا ښې زخوا کړے نهٔ وے نو شائد چې په سرۍ به ئې ورته زور کړے وُ - ډیره لویه صدمه وه - دَ جبینې نازک زړهٔ دومره لویه صدمه داسې په اسانه نهٔ شوه زغملے - خو انسان له خدائے پاک ډیر صبر ورکړے دے - څو ورځې دَ لیونتوب دا چپه وه - رو رو دَ جبینې زړهٔ دَ حالاتو سره سمجهوته اوکړه او چې لږ ساه صورت شوه نو خپله لور لونګینه ئې راتې غاړه ایسته په چغو چغو ئې اوژړل ..... " خوږې لورې ارمان چې ستادا سترګې دَ بې وفا اکبر په شان نهٔ وے - زړهٔ مې غواړې چې دادواړه سترګې درله ړندې کړم - چې ستادا غټې غټې کاتې ویلې شي - چې ستادا چپې چپې بانړهٔ بونډې سوندلې شي - ویره چې دا دَ بې وفا اکبر نخښه ستادرې سپین مخ نه را وُشوکوم خو ...... څهٔ اوکړم هیڅ هم نشم کولے لورې - تهٔ زما لورې زما د بېلتون د تکو تورو شپو ملګرې زهٔ به

دا خپل پاتې ژوند ستا په مینه پورې تېروم .... نو څنګه
به تېر شي .... په ځوانه ځوانۍ کښې د جدایۍ لمحې ډېرې
بوګنوونکې شي - ډېرې درنې او ډېرې سپېرې شي په
جدایۍ کښې خو د جدایۍ د ژوند شپې ورځې په غنو په
اغزو تېرېږي - زهٔ به دا اوږد ژوند په غنو په اغزو
څرنګ تېر کړم - د خاوند جدائي خو د ښځې د پاره مرګ دے
..... زهٔ هم په ژوند مړه شوم مړه - داسې مړه چې ....
خلقو ته په ژوند ښکارم خو اکبر زما په ځوانۍ پورې
خندا اوکړه .... ښځه ذات هر څهٔ زغملے شي خو په مینه
کښې شریک نشي زغملے هغه چا ته په کړېده چې -

هره ناپسنداه به دې یوسم
یو دې په مینه کښې شریک نهٔ قبلوم

هر څهٔ وُو - دولت وُ جایداد وُ خپل خپلوان وُو، خو ....
ښځه ذات خو صرف د سر سورے غواړي - او چې د چا د
سر نه سورے اخوا شي نو هغه په ژوندونې مړه شي ....
غم د جبینې زړهٔ ته پرېوتو - هغه د چا خبره چې په زړهٔ ئې
کوڼے اولګېدو .... نرے رنځ ئې شو هر وختې تبه
او تهو خے .... او یو ورځ زیړه ماځیګر چې په جبینې بېهوشي
دا غله، نو په اشاره ئې لونګینه ځان له را وُغوښته - لونګینه
مور ته رانزدې شوه - د جبینې نظر د لونګینې په غټو غټو
سترګو پرېوتو - زړه ئې سترګې ښتې کړې - لونګینې د مور

په سینه سر کیښودو په ژړا شوه - دَ مور دَ سترګو نه داوښکو
سیلاب دا روان وُ - په ترپ ترپ ژبې دَ لُور سره ګډیا وه -
بې وفا اکبره دَ ژوند په آخرنو سلګو کښې هم را ښکاره نشوې -
لږ خو به را غلے وے - زما دَ ژوندون دا سلګۍ خو به دې لږ بې
ییښ لې وې - زما خو دا خیال وُ چې موږ دواړه به یو ځائے مړو -
دَ مرګ په خوشې لاره به یو ځائے سره ځو ..... اکبره کهٔ ستا
یاد شي نو ستا دَ رخصتیا و په وخت درته ما دا ټپه کړې وه -

په مرګ به دواړه سره مړهٔ شو
ارمان مې دا دے چې په مخکښې روستو شونه

نو اے دیو رپ په رنګینو کښې ورک شویه اکبره جبینه روانه
ده یوا ځې روانه ده زړهٔ چاوُ دې روانه ده تهٔ خوشحاله
اوسې هر ځائے کښې چې چې - خو دَ قیامت په ورځ به ستا
ګریوان او زما لاس وي - اکبره .... بې وفا اکبره ....
او چې خوا ښې لونګینه دَ مورد سینې ته راپورته کړه نو جبینې
یوه آخرنۍ سلګۍ او وهله او ښکې دا روانې وې او دَ جبینې
په زیړ مخ په زیړو انګو اول سپینې سپینې او بیا زیړې زیړې
غوندې خورې شوې او بیا او چې شوې.

# حرص

(اسویلي) او ... دچاپه سترګو چې د حرص پرده پرېوځي را واوړي هغه انسان بیا د انسان په جامه کښې حیوان شي - حرصي انسان بیا چیچل کوي - حرصي انسان بیا داړل کوي - توبه خدایه توبه انسان څومره ناپوهه مخلوق دے - د دنیا د دې څو ورځې ژوندون دپاره دے څومره ناپاکو چارو ته تیار شي -

ښئه مې یاد شي داسې مې یاد شي لکه دا ساعت - که اعتبار مو نه کیږي نو ورشئ د ګل آباد کلي هغه کنډرونه د ماضي هاغه یادګارونه به درته روس هم د سید خان د حرص داستان د حال په ژبه بیان کړي - ورشئ او ګورئ د ګل آباد کلي کنډرونه روس هم د سید خان په ناپاک کردار د غم اوښکې توېوي - ورشئ او ګورئ چې د ګل آباد کلي کنډرونه اوس هم د سید خان د مشر ورور امیرخان د مظلومیت قیصه په سلګو سلګو بیان وي - رونړو که تاسو ګل آباد ته نه شئ تلے - که تاسو د ګل آباد وران ویجاړ کنډرونه نه شئ لیدے نو دا د غم داستان به درته زه بیان کړم - داسې چې د انسان په جامه کښې د شوم قصه درته زه اوکړم -

امیرخان د ګل آباد کلي خان و - ډیر درونډ - ډیر خوږ او ډیر د عزت خاوند و - د دې امیرخان د کشر ورور نوم سید خان و - د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه هم د امیرخان هومره جایداد و. خو په دغه جایداد د
سید خان د حرص تنده سړه شوې نه وه. هغه په خپل جایداد
کښې نور زیاتوالے کول غوښتل. او ددې دپاره د ډیرې مودې
نه هغه یوه منصوبه جوړه کړې وه خو د حالاتو انتظار یې کولو.
راځئ چې د څه ساعت دپاره سید خان پرېږدو. او امیر خان
له به لاړ شو. امیرخان چې څنګه په ظاهره دروند خوېږ دے، داسې
ورله خدائے خوئي هم موړ او دروند ورکړے دے. د امیرخان یو
زوے و "فرید" د لسو کالو ماشوم. دومره ښائسته و لکه د ګلاب
ګل. سور سپین. غټې غټې سترګې. پلن تندے. لوړه دنګه
پوزه. فرید په پلار ډېر ګران و. ځکه چې هم دغه یو زوے یې و.
نور اولاد یې نه و. نو ځکه خو فرید د مور د سترګو تور او د پلار
د زړه ټکور و. امیرخان به د هرې جمعې په ورځ د ماسپښین
مونځ له ښار ته تلو. هم دغه رنګ یوه جمعه چې د هر پشکال سخا
ګرمي وه امیرخان سم د سټره پاکې جامې واغوستې څادر یې په اوږه
کېښوو او ښار ته روان شو. او د تلو په وخت یې فرید ته تاکید اوکړو
چې نهر ته لامبیا دپاره لاړ نه شې خو فرید چې د غرمې ډوډۍ
اوخوړه نو مور ته یې اووے چې زه په نهر کښې لامبم نو سمدستي
راځم. مور ډېر منع کړو خو فرید لاړو د کوڅې نه اووتو. په لاره
کښې ورسره خپل تره سید خان مخکې شو. سید خان په خبرو
خبرو کښې فرید د کلي نه بهر ته باغونو ته بوتلو. او څه وخت
چې دا دواړه تره او وراره د باغ منځ ته اورسیدل. نو سید خان

ناساپه فرید د مړي نه اونیوه - په مزکه یې راسملولو او دواړه

پنجې یې لکه د شوګ د چپل ورا ره په مړي ښخښې کړې فرید د ږیرې

لشتې او ټکولې - د ځان د خلاصولو د پاره وسې یې وکړې خو د

سید خان د زور و پنجو نه یې ځان خلاص نه کړے شو - لنډه دا

چې بقې سترګې یې راووتې - په خوله کښې یې زګونه راغلل او

آخر یخ شو.... فرید ساه ورکړه د خپلو ناولو ارادو د تکمیل د پاره

حرصي انسان د خپل خوب ورا ره په وینو خپل لاسونه سره کړه

او بیا...؟ د تکنیه غوړې          په خاموشۍ کښې سید خان د مور

پلار د ارګي یو نیازبین زوے لاش د مزکې نه راپورته کړو او ځنت

د نهر اوبو ته یې اوسپارلو - چونکه د مور د غېږې په شان

فرید په خپلو ځانګونو کښې راغونډ کړو او د ځان سره یې تل ته

ښکته کړو -

د فرید د مور زړه ناقراره وو - کله کوټې او کله دروازې ته

کېده او څومره چې وخت تېرېدو د مور په زړه کښې قِسم قِسم شکونو

غزونې کولې - پریشانۍ زیاتېده د زړه حرکت یې وروه کېدو -

فرید ولې رانغلو - ولې یې دومره ناوخته کړو - دا ته د مور زړه

نه دے معلوم چې .... زما زړه د فرید په نه لیدو څومره خوږیږي

څرګې وي څو مور غریبه نه وه خبره چې فرید سره څه کانې وشوې -

کومې توپې ورسره وشوې لاړه غرمه په ماسپښین بدله شوه

او د مور پریشانۍ نوره هم سېوا شوه - بې شمېره وسوسې

یې په زړه کښې راپیدا شوې - قِسم قِسم شکونه او ګمانونه

په زړهٔ کښې کړځېدل - وخت په تېرېدو سره ځځ په ورانډې روان وُ - لاړو ما ښخين په ماځيګر بدل شو خو دَ فريد هېڅ پته ونهٔ لګېدهٔ - او تېر ماځيګر چې اميرخان دَ ښار نه کورته راغلو نو دَ فريد مور ورته ټوله قصه تېره کړه - اميرخان هم په هغه ښښو دکور نه رووتو او دَ فريد په لټون پسې ئې سرې خوارهٔ کړهٔ خو ترما سخته پورې دَ دَ فريد هېڅ پته رونهٔ لګېده - دَ اميرخان زړهٔ ټکه اوخوړهٔ خو.... هېڅ نتيجې ته رونه رسېدو - په خپل کشر ورور سيدخان پسې ئې جواب اوکړو او چې هغه راغلو نو اميرخان ورته ټوله قصه تېره کړه - سيدخان صلاح ورکړه چې ..... راځئ چې نهر کښې ئې اولټوُ کېدے شي چې په نهر کښې ئې لامبل ماشوم وُ او ډوب شوے وي - دکلي خلق راغونډ شول لالټېنونه په لاس دَ فريد په لټون پسې نهر ته روان شو - سيدخان هم دَدې خلقو سره ملګرے وُ - او هر کله چې دا خلق د باغ خوا ته شا را ورسېدل نو په نهر کښې دَ ونو په يو پې جنګله کښې دَ فريد سپين لاسونه او پښې دلالټېنونو په رڼا کښې خلقو ته ښکاره شوې - لاش دَ نهر نه راووېستے شو او په غاړه باندې په شين کبل واچولے شو - دَ فريد سترګې بقې بقې راوتې وې - پلارخپل نياز بين زوئے په خپلو لاسونو کښې راپورته کړو - دَ اميرخان زړهٔ غوښتل چې په چغو چغو اوژاړي خو دا ورته خپله کمزوري ښکاره شوه نو چپ پاتې شو - او ټول خلق چُپه خوله خاموش زوړند سرونه ځځ په کلي روان وُو - اميرخان سرزوئے په خپلو ځانګو نو کښې نيولے ځځ کښې او نور خلق

ورپسې روان وُو - او چې څۀ وخت دا دِ له دَ باغ منځ ته را ورسېده نو

.... ناګهانه دَ کلاشنکوف یو بار او چلېدو - امیرخان پرمخ دا پرېوتو

دَ زوے لاش لاندې او د پلار لاش پرې د پاسه په وینو کښې لت

پت پراته وُو - خلقو درېږې منډې ترې. او وهلې نو د شپې په

تیارۀ کښې هیڅ پته او نۀ لګېده چې دا هر څۀ ولې او شو؟ دا چا

او کړۀ .... دَ کلي نه کټ را او غوښتے شو، په یو کټ کښې پلار او

زوے دواړه غاړې غړې واچولے شول - او هر کله چې دا کټ په

کوټه ورد ننه شو، نو رونړی زۀ به در ته هغه نقشه څنګه بیان

کړم - ماسره دومره درد یدلي الفاظ نشته، ماسره داسې په غم

لړلي الفاظ نشته چې زۀ په دغه زخمي زخمي واقعې نقشه را کاږم -

دَ قرین دمور هغه لېونی بېونی چغې هغه څېرې کړېوان او

بېرسر .... توبه خدايه توبه دومره لوئے غم - داسې ښکارېده

لکه چې دَ آسمان فرښتې هم په ژړا دي - داسې معلومېده لکه

چې ټول کائنات یوه سلګۍ شو - یوه روچه سلګۍ یوه داسې

سلګۍ چې دَ هرچا په زړۀ کښې ئې پرهر جوړ ولو - هر څوک دا میرخان

او د هغه دَ زوے قرین په مرګ خفه وُو - ټول کلے خفه وُ، دومره

خفه وُو چې د دغه خفګان د بیانولو دپاره ماسره الفاظ نشته -

ماسره حوصله نشته .... او سباله چې دا غیر کې جنازې دَ کوټې نه

او وتې، نو د قرین دَ مور لکه چې زړۀ او چودۀ - په زړۀ باندې ئې

داسې تیارۀ را غله چې دغه تیارۀ بیا په دنیا بدله نشوه - دغه

تیرې دَ امیرخان تبر او دَ قرین مور هم دَ قبر تورو تیرو ته او رسوله -

د پوډ تپونه اوشول - تفتیشونه اوشول ، تپوسونه اوشول خو
د دې ورانې ماشورې سر را ښکاره نهٔ شو - لاشعوري طور د سپد خان
حرکات سکنات داسې وُو چې د پولیس پرې باندې شک راتلو
د هغهٔ حرکات سکنات داسې وُو چې لکه د غل په بېره نس وي -
سپد خان خېل ضمیر ملامته کړو چې دا مې څهٔ اوکړهٔ - د جایېداد د پاره
مې اول د خپل نیازبین ورارهٔ په مرګ زور کړو - او بیا مې د خپل مشر
ورور سینه په ګولو سورې سورې کړه دا ما څهٔ اوکړهٔ دا ما ولې
اوکړهٔ - ننداره چې د سپد خان مړضمیر راژوندے شو - او دے
ئې دومره ملامته کړو چې یوه شپه ناسا په راپا سېد او ټوپک ئې
راواخستو - کړ د نی دې ئې ملا ته واچوله او په کوټه اووتو ......
سپد خان کلے پرېښودو وطن ئې پرېښودو - ښځه او بچي ئې پرېښودل -
اولاړو د تورو غرونو مسافر شو -

سپد خان د امیرخان خونه ورانه کړه او د سپد خان نه قدرت
انتقام واخستو - داسې انتقام چې د سپد خان ژوندے - د سپد خان کورنې
د خلقو دپاره یو عبرت شو - یو داسې عبرت چې ټول عمر به
د خلقو یاد وي -

رو نېو ! راشئ اوګورئ د ګلاآباد کلي هغه کنډرونه نن هم
د امیرخان په مظلومیت او د سپد خان په بربریت د غم اوښکې
څڅوي - امیرخان او قرین شهیدان شول او سپد خان دوزخي -
د الله تعالی انتقام ډېر بوګنوونکے دے - د ظلم انجام ډېر عبرتناک
وي - اے د دنیا په مال او جایېداد پسې لېونو رونړو مه کوئ ظلم

مه کوئ - چا پېداوونه چا ځان سره قبر ته نه دي وړلي - سړکه
چا ځان سره په سر نه ده کړی ځولي - دا هر څه پاتې کېدونکي دي -
دا هر څه به د لته پاتې شي - او هر څوک به دوه لاس او دوه پښې
د قبر تورو خاورو ته او سپارلے شي - نو بیا؟ بیا دا چې د حرص انجام
ډېر بوګنونکے وي -

ه

ارمان به هغه وخت کښې در شي
چې کښت دې واخلي تورو خاورو ته دې وړينه

# شمشیرکاکا

اے لوید خدایه، اے عظیمه خدایه، ستاپه دې بې شمېره مخلوق کښې ستاپه دې بې شمېره بندیانو کښې نېکان هم شته، بدان هم شته، ښه هم شته خراب هم شته - په دې بې شمېره مخلوق کښې داسې هم شته چې ستا دَ قهر و غضب نه شپه ورځې په لړزان دي - چې ستا دَ وېرې نه ئې حراموته شاکېږه - بد وچاروته ئې شاکېږه - او داسې انسانان هم شته چې دچا دَ ژوند هره لمحه په ګناهونو کښې تېرېږي چې دچا هر قدم دَ بدۍ په لور پورته کېږي - منه پوهېږم چې داسې کسانو په خپلو زړونو کښې څه فېصله کړېده - نه پوهېږم چې دوي ولې داسې باغیان شوي دي آیا دَ دوي دا خیال دے چې دوي سره به دَ قیامت په ورځ دَ دوي دعمل حساب کتاب نه کېږي - که چرې دَ دوي دا خیال وي چې دا ټولې بې حقیقته خبرې دي - دا ټولې د نه منلو خبرې دي نو دا خیال ئې غلط دے - دَ قیامت په ورځ دَ حساب کتاب په ورځ به دَ هر چا سره دَ ذرې ذرې حساب کولے شي -

دَ دې حقیقت نه انکار نشي کېدے چې ګناه کوو نکي ګنهګار دے او دَ قیامت په ورځ به ورله سزا ورکولے شي - هر بدي کوؤ نکے

د لوی خدایه مجرم دې او د دې جرم سزا به ورکول شي - هغه لوی
خدایه دوزخ د ګنهګارانو د پاره د مجرمانو د پاره - د قاتلانو د پاره
د منکرانو د پاره جوړ کړې دے - په دې وجه زۀ درته منت کوم چې
رونړو داسې بې پروا کېږئ مه - داسې بې سره کېږئ مه - هسې نه
چې اوبۀ د ورخه تېرې شي نو بیا به کوړے خبره کوا نه شي - هسې
نه چې د ژوندا ګهړئ ناګهانه پوره شي نو بیا به ګوړے د توبې وخت
هم نۀ وي -

اے لویه خدایه مونږ انسانان کړې - مونږ نېکان او صالحان
کړې مونږ ټول صحیح مسلمانان کړې چې په ښۀ بد کښې تمیز او کړے
شو - چې ستا په ښودلې شوې لار باندې روان شو - چې د ګمراهۍ او
بد نامۍ په تورو تیرو کښې رانه لاره خطا نۀ شي - چې په ناپوهۍ
کښې د تباهۍ تورو تیرو کښې ورک نۀ شو -

اے عظیمه خدایه ! په دې کښې شک نشته چې تا انسان
اشرف المخلوقات پیدا کړے دے - په ټولو مخلوقاتو کښې اشرف
د عزتونو خاوند - د مرتبو خاوند ځو.... هله چې انسان په صحیح معنو
کښې انسان وي - چې انسان د انسانیت په چوکاټ کښې دننه ژوند
کړي وي - چې انسان په ښه لار روان وي - او هر کله چې انسان د
انسانیت د دائرې نه اوځي نو بیا د حیوان نه بد تر شي - چې انسان د
انسانیت د چوکاټ نه بهر اوځي نو بیا ترې انسانیت هم انسان خوځیږي -
... نو شرمخ داړل کوي - شرمخ ماتول کوي - شرمخ خوړل کوي نو
هله چې ... وي - چې د لوبې د لاسه مجبوره شي - چې به

ګېډه نه‌ړشي نو هله .... کله چې په ګېډه موړ وي نو په ځنګل کښې د ونې د سوري لاندې پټې سترګې یو څو اته پروت وي، که دنیا تېرېږي دا تېرېږي نو غم غرض پرې نهٔ کوي -

او انسان؟ انسان چې موړ شي نو داړل کوي -

انسان چې موړ شي نو ظالم شي -

انسان چې مالداره شي نو حرص ئې زیات شي - او د بل په مړي غلي کېدل ورته هم خپل حق ښکاري -

نو اے رونو! زهٔ تاسو نه دا تپوس کوم - تاسو ماله د دې خبرې جواب راکړئ چې د دا سې انسان ته کله شرمخ ښه نهٔ شو دا سې انسان کله د حیوانیت د درجو نه لاندې پرې نهٔ وتو -

ولې پرې نهٔ وتو - د دا سې انسان نه حیوان - بلکه شرمخ چې کارئې د خپلې ګېډې د تنور د کولو د پاره د ژوندو حیوانانو او انسانانو داړل دي - د دغه شرمخ نه هم دا سې حرصي انسان چې د خپل حرص د تندې سړولو د پاره د بل انسان په مړي چاړه راکاږي بد تر دے - پرېوتے او د نفرت جوګه دے - او دا لا څهٔ کوئ - دا خبرې به پرېږدو - بل مثال به درکوم بل حقیقت به درته په ګوته کړم -

تاسو ماته دا او وایئ چې سپي تر څو پورې وارنهٔ وي راوړلے نو سپي پرې بانډې غم غرض کوي! - تاسو چرې لیدلي دي چې یو سپي چرې سپي ته لاره نیولې ده - یو بې سپي ته ئې په بد نظر کتلي دي - د غسې هر یو ځناور به را واخلو - د هر یو ځناور مثال به ځکنبې کېدو چې په دې حقله یو ځناور هم د مقرره حدونو نه

تجاوز نهٔ کوي - بلکه د تجاوز د کولو مثال قدر له هم زمونږ په مخکښې نشته په ښځاورو کښې د یو صنف ښځاور به هیڅ کله د خپل مخالف صنف سره د هغې د مرضۍ نه بغیر غیر اخلاقي عمل او نهٔ کړي - غیر فطري حرکت به ورسره او نهٔ کړي -

او انسان .... ؟ چې الله تعالیٰ ورله د اشرف المخلوقات درجه ورکړې ده ، دے چې د انسانیت د دائرې نه او وځي - نو دے د حیوان نه بدتر شي - په دهٔ باندې سترګې پټې شي د شرافت ټول زنځیرونه اوشلوي ، دے بیا خور نهٔ پیژني دے بیا مور نهٔ پیژني - دے بیا خپله نهٔ پیژني ، پردی نهٔ پیژني نو تاسو نه زهٔ پوښتنه کوم -

چې ! اے رونړو داسې انسان ګڼي د انسان بللو جوګه دے - داسې انسان ګڼي د حیوان نه بدتر نهٔ دے - داسې انسان ګڼي د سپي غونډی د ګنده حیوان نه هم سپک ګنده او ذلیل نهٔ دے - دو نو دوه لاسونه او دوه پښې - دوه غوږونه او دوه سترګې او ژبه د انسان نه انسان نهٔ جوړه وي - انسان د انسانیت نوم دے - انسان د شرافت نوم دے - انسان د اخلاقو نوم دے - او په چا کښې چې دا څیزونه نهٔ وي دا خوبیې نهٔ وي - دا اخلاق نهٔ وي نو بیا زهٔ بخښنه غواړم چې داسې انسان ته نهٔ زهٔ انسان و یلے شم او نهٔ بل - ځکه چې داسې انسان د الله تعالیٰ د طرفه مقرر کړے شوو حدونو نه تجاوز کړے دے دهٔ د خدائے د لارې نه روګرداني کړې ده نو ...... داسې انسان ته به څوک څنګه انسان او وائي -

اے لویه خدایه ! ته په خپل فضل و کرم سره موږ انسانان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي صحیح انسانان - موږ د ګناهونو نه په امان کړي - موږ مسلمانان
کړي چې په ښه بد کښې تمیز اوکړے شو -

انسان څومره غافل دے - څومره ناپوهه دے څومره احسان فراموشه
دے که چرې انسان غافله نه وے - ناپوهه نه وے - احسان
فراموشه نه وے نو ده به د الله تعالیٰ دا بې شمېره احسانونه ولې
هېرول ده به د مور پلار سره بې زړې ولې کوله - د هغوئ بې عزتي
به ئې ولې کوله - ولې به ئې د هغوئ حقونه هېرول ؟

مور او پلار ! چې د اولاد دپاره د کعبې حېثیت لري - چې د
پښو لاندې ئې جنتونه لوغړېږي - چې د چا د قدمونو خاورې
د اولاد دپاره د ښکلولو جوګه دي - نو د داسې هستو سره د اولاد
سپک او ناروا سلوک کښې ناروا نه دے - د مور پلار په بې عزتۍ
به کښې الله تعالیٰ نه خفه کېږي ولې به نه خفه کېږي - څوک چې
د هغه لوئے ذات د احکامو خلاف ورزي کوي الله تعالیٰ به ترې ضرور
ناراضه کېږي -

نو بیا .... ؟ بیا ولې دا ځنې ځنې اولاد د الله تعالیٰ د دې
اټل قانون خلاف ورزي کوي - ولې د مور پلار سپکاوے کوي ولې
د مور پلار سره په ترس چلېږي دا اولاد ولې دومره نافرمانه ،
داسې سرکشه، او دومره احسان فراموشه شي ؟ ........

خدائے پاک دې شمشېر کاکا او بخښي ! - ډېر ښه سړے وُ - ډېر
نېک انسان وُ نو .... ډېر زړه چاوَدے دد نیا نه لاړو - دد نیا ټول
غمونه او مصیبتونه دا یوځائے شوي وو او د شمشېر کاکا نو دومند

(c) ketabton.com: The Digital Library



توږې نه بجوړ شوي وُ - دَ شمشېر کاکا دَ ژوند دوېم نوم غم وُ -
او ښکې او سلګۍ چې دَ ژوند په آخونو ورځو کښې دَ هغهٔ ملګرې شوې
وې - سلګۍ چې په آخر عمر کښې دَ شمشېر کاکا په شونډو مېشته
شوې وې - دَ هغهٔ ټول ژوند یوه سلګۍ وه یوه داسې سلګۍ چې
دهغه دَ هر هر زړهٔ دټل نه به راپورته کېده - د هغهٔ دَ
زړهٔ د مُسپد ونکو هرونو نه به راپورته کېدهٔ - دَ هغهٔ دَ زړهٔ
دَ تنهاکونه به راپورته کېده - دَ هرې سلګۍ سره به د شمشېر کاکا دا
خیال وُ چې ګني درد به لږ قلار شي څرېکې به لږې په آرام شي - خو
دهغهٔ دا خیال غلط وُ دردونه او غمونه، څرېکې او فریادونه اوس
دهغهٔ دَ ژوند سره بېخي عاره غړې شوي ووَ - او چې ژوند ختم شو؟
نو سلګۍ هم په قلار شوې - دردونه هم په توږو غرونو
سر شول -

اوس دَ شمشېر کاکا په رګونو کښې نهٔ وینه زغلېده اونهٔ دَ
هغهٔ په شونډو اوچې سپېرې سلګۍ خورېدې - اوس دَ
هغهٔ په سینه کښې نه هر هر زړهٔ حرکت کولو او نهٔ د زړهٔ دَ
تنهاکونه اوچ اوچ دردونه راپورته کېدل - هر څهٔ یخ یخ شول -
چې شمشېر کاکا یخ شو نو هرونو هم نخولې وروستل - تنهاکې او چول
او سلګۍ په قلار شوې -

شمشېر کاکا! نهٔ یم خبر چې دَ مرګ په وخت به ستا احساسات
څهٔ ووَ - چې تا به څومره په ناخوالی مرګ ته غاړه اېښودلې وي -
چې تا به څومره په نامرادۍ ساه ورکړې وي -

اے غم ژپلیه شمشیر کاکا خدائے دې اوبخښه - هغه د دنیا دې نیاسته شه - دَ دې کهاخ ژوند په بدل کېښې دې دَ هغه دنیا ژوند دَ خوشحالونه ډک شه - که دلته دَ دنیا په اوسېد وشکوکیښې انصاف نشته نو نه به وي خو دَ الله تعالیٰ په دربار کښې انصاف شته - بې انصافي نشته - زور زیاتے نشته -

رونو دَ شمشیر کاکا دَ ژوند قیصه، دغمونو قیصه ده - دَ اسوېلو او فریادونو قیصه ده، دَ دردونو او فریادونو قصه ده - په دې قصه کښې عبرت دے خو دَ هغه چا دپاره چې د چا دَ زړهٔ سترګې بیناوي - چې د چا احساسات ژوندي وي - چې ضمیر ئې مړ نه ژوندے وي -

دا سې مې یاد شي لکه دا ساعت چې دَ شمشیر کاکا زوئے ګل شېر پېدا شو نو ډېرې خوشحالۍ اوشوې - دَ شمشیر کاکا دَ خوشحالۍ هیڅ حد انتها نهٔ وه - هغه خوشحاله وه چې دَ هغه دَ جائېداد مالک پېدا شو - دَ هغهٔ وارث پېدا شو دَ هغه ملاتړ پېدا شو نو څکه خو دومره ډېر خوشحاله وو کنه -

ګل شېر دَ پلار ایکې یو زوئے، دَ مور دَ سترګو تورې او دَ پلار دَ زړهٔ ټکورې ډېر نیازبین وُ - دَ مور پلار دغه ایکې یو نیازبین زوئے په نازونو نعمتونو کښې دَ ژوند شپې ورځې تېرولې - ورځې په میاشتو او میاشتې په کلونو بدلېدې - لاړو له څېره ګل شېر زلمے شو، او شمشیر کاکا دَ ګل شېر په وادهٔ کښې سستي او نهٔ کړه او سمدستي ئې ورله وادهٔ اوکړو - دَ ګل شېر دَ وادهٔ په

ړومبي کال د گل شيرين مور مړه شوه. شمشير کاکا کونډ شو. يواځې شو،
د ژوند په لويه لاره تک خو يو لوے شوا خون و. خو شمشير کاکا د گل شيرين
په ذات د تنهايي احساس ځان ته نژدې نه پرېښودو. د گل شيرين
بچي شو. ماشومان شو، هغه د خپلو بچو سره مشغول شو. او
داسې مشغول شو چې پلار ترې نه هم هېر شو. پلار يو فالتو
څيز شو يوه بې کاره پرزه شوه. کله کور کله بهر د خپلې تنهايي
احساس يې په سينې پورې نيولے و. د خپل ژوند نه خوشحاله نه و.
ځکه چې هغه خو خپلې ټولې خوشحالي اوس گل شيرين پورې غوټه
کړې وې. او گل شيرين د پلار نه بې پروا د ژوند په ډگر سکه
بې مهاره او بس روان و. دولت و جائيداد و. دومره جائيداد چې
گل شيرين پرې خانې کوله. دا جائيداد د گل شيرين نه و پيدا کړے. دا
د شمشير کاکا د سر خيرات و چې گل شيرين پرې خانې کوله. گل شيرين
خانې کوله او د هغه پلار شمشير کاکا په خپل کور. خپل جائيداد کښې
د بې ارزې ژوند تېرولو. هر څه يې ليدل. د گل شيرين سلوک او روېې
ته يې کتل خو په خوله يې غږ نه کولو. ځکه چې گل شيرين ډېر
نياز بين و. دومره نياز بين چې پلار ورته يوه خوله گيله قدرله
هم نه شوه کولے. خو د خپل نياز بين زوے په بې رخۍ او بې
پروائۍ به هر وخت غمژن و. او چې د شپې به په کټ کښې
پرېوتو نو ټوله شپه به يې په سترگو کښې تېره کړه.
ډېرو غمونو او فکرونو شمشير کاکا د زړه په رنځ اخته کړو.
سالنده يې مذکرے شو. لاړو هغه لوړ رنگ شمشير کاکا په بوډ

د هډوکو پنجره شوه ..... شپه ورځې تېرېدې او د سینې خرنجارے
او ورسره بلغم د شمشېر کاکا د ژوند ملګري شول او د پلار د سینې
خرنجاري د بې واره تېرېدې او بلغمونو نه کل شپې تنګ شوے وُ.
او رښتیا خبره خو دا ده چې زوے له اوس د پلار نه کوکه ورتله هغه
نهٔ غوښتل چې د هغهٔ ماشومان دې نیکهٔ ته نزدې شي نو په دې
وجه کل شپې په کوټ کښې پروت وو غونډې کو تنهٔ وه هغې کښې
د پلار کټ وړه چولو د روبو منګې ئې ورته کېښودو او کټورے ئې پرې
پټ کړو. لاړو شمشېر کاکا په خپل کور کښې د ځان له دنیا خاوند شو.
تنګه ترشه کو تنهٔ ځان له پروت وو ته چې نهٔ پرې د چا لار وه او
نهٔ به ورله څوک راتلل. تېر له ورځ تېرې بلغمونه او تنهائي
د هغهٔ ملګري وو. دغه ئې کور شو او په دغه کور کښې به دشتهٔ
جائیداد خاوند. دشتهٔ زوے پلار شمشېر شپه ورځې یواځې پروت وُ.
او یوه ورځ چې د کل شپې زلمو تې زوے اسلم د نیکهٔ کو تنهٔ
ته راغلو نو شمشېر کاکا ځان ته را نزدې کړو. په تندی ئې ښکل
کړو او ورته ئې اووے چې. بچیه دا سر دې لږ زما په سینه کېږده.
او هر کله چې اسلم د خپل نیکهٔ په سینه سر کېښودو نو شمشېر کاکا
ئې په ویښتو کښې ګوتې وهلې او ورته ئې اوښکې ئې د سترګو
نه بهېدلې. د اوښکو بهېدو د بابا د سترګو نه راروان وُ او
چې اسلم سر راپورته کړو نو ..... «ته وئ ژاړې بابا یخني
دې کېږي او درېږه چې کمبل درله راوړم» ..... نه بچیه زما
یخني نهٔ کېږي. زما څوک مې کېږي. زما په سینه کښې اور بلېږي.

„نه بابا نن ډېره یخني ده - او درېږه زه تا لا کمبل راوړم“

„نه بچیه زه اوس د کومې یخنۍ د احساس د حد نه تېر
شوے یم - اوس زمانه ګرمې کېږي او نه یخني“

بچیه خدائے دې لوے کړه - د خپل پلار په بېنه راشې ستاسو
د غم د آواز نه مې خدائے ساته - ځه بچیه لاړ شه لوے شې -
او .... اسلم چې کور ته راغلو نو پلار ته یې اووے چې
د بابا ډېره یخني کېږي - نو .... ګل شېر ډېر په بې پرواهۍ
سره زوے ته اووے چې ورشه په ګودام کښې هغه زړه
کمبل پروت دے هغه را واخله او واچوه پرې - اسلم د
ګودام نه کمبل راواخسته راغلو د مورنه یې قینچي اوغوښته
پلار ترې نه تپوس اوکړو چې .... قینچي څه کوې بچیه -
اسلم ورته اووے چې دا کمبل به دوه ځایه کړم نیمه به
په بابا واچوم او نیمه به سنبال کېدم چې صباله ته د بابا
په رنګ بوډا او ناتوانه شې نو دا پاتې نیمه کمبل به بیا
زه په تا باندې واچوم د اسلم دې خبرې ګل شېر لکه چې
د غفلت د خوب نه را بیدار کړو - د زوے ولې او پلار ولې
احساس یې ورله راژوندے کړو - په خپل کردار یې شرمنده
کړو او په درنو درنو قدمونو کوټهۍ ته روان شو
هغه کوټهۍ ته چې پکښې شمشېرخان بې پرسانه ژوند
تېر وولو - چې پکښې د ګل شېر پلار د ژوند شپې ورځې شمېرلې
.... زوے د پلار نه د معافۍ غوښتو د پاره روان وو ....

زوے پلار ته په پښو پرېوتو دپاره روان ؤ زوړنی سر -
ملامته ملامته چې دکوټنی دروازه یې لرې کړه نو په پلار
ورپرېوتو .... دا بابا زهٔ معافي غواړم زهٔ بخښنه غواړم ما
او بخښه - زهٔ په خپلو کړو پښېمانه یم ما معاف کړه بابا ......
(ژاړي) دَ اوښکو سیلاب دَ ګل شپې دَ سترګو نه روان ؤ-
شمشیر کاکا خپل زوے خپلې سینې ته رانژدې کړو - دَ سر
ویښتو کښې یې ورله ګوتې وهلې -
دا دا ستا ویښته خو هم هغه رنګ پاسته دي بچیه .....
ستا دَ دې ویښتونه خو هم هغه رنګ خوږ خوږ بوئي راځي
لکه چې په وړوکوالي به ترې ختو - بچیه دَ مرګ نه مخکښې
مې دا ارمان ؤ چې تا یو ځل بیا خپلې سینې ته رانژدې کړم
او ستا دَ ویښتو دا مراوې خوشبویه یو ځل بیا زما
په سپېږمو ورننوځي - او زما زړهٔ ته آرام او سکون
ورسي - خو بچیه ته جوړ دې نا روزګاره وې دومره ناروزګاره
وې چې زما دا معمولي غوندې ارمان دې هم نهٔ شو پوره کولے -
... خو شکر دے چې نن راغلې - شکر دے چې نن زما دَ زړهٔ
ارمان پوره شو - اوس به زما ساه په قرار او سکون سره
ووځي - خدائے دې خوشحاله لره تو بد یاد دربانده یې او مه لږه -
دَ ژوند په خوږو مو رشي - دا سر دې لږ زما په سینه باندې
کېږده ګل شېره چې دا زړهٔ مې لږ په قرار شي - او زما روح په
آرام او اطمینان سره ووځي .... په دې کښې په شمشیر کاکا

د سالنډۍ دوره راغله - ټوخې شروع شو - سالنډۍ لنډه شوه - او يو ځل چې شمشير کاکا يوه اونده سا راکښله نو بيا واپس نهٔ شوه - بيا هم په بدن کښې د ننه مړه شوه - بيا دغې سا هم د شمشير کاکا په وجود کښې ساه ورکړه او د دنيا د غمونو - مصيبتونو او شورونو نه د ټول عمر د پاره خلاص شو - ګل شېر په خپلو کړو پښېمانه وُ - د پلار سره په دې سلوک نادمه وُ دومره نادمه چې ډېر يُ اوژړل ډېرې اوښکې يُ توئې کړې خو اوس هيڅ هم نهٔ شو کېدے اوس وخت تېر وُ - او د رحمان بابا خبره -

ه تر ورخه تېرې اوبهٔ بېرته نهٔ جاروځي
نهٔ جاروځي تېر ساعت په بېرته بيا

# دوه مېښنان

نه پوهېږم چې د روح تسکین به انسان ته کوم ځای حاصل شي داسې به کوم ځای وي چې انسان به د دنیا د دې کشالو د دې لانجو کونجو ـ د دې مصیبتونو او دردونو چا ودون نه د ژوند یو څو شېبې په آرام او اطمینان تېرې کړي ـ په دې دنیا کښې خو ژوند د بربکرانو شو ـ هر طرف ته خود غرضي او فریب دی ـ اولاد خود غرضه خپل خپلوان خود غرضه ـ دوستان خود غرضه او کله کله خو مور او پلار هم خود غرضه شي ـ د مور په سترګو هم د حرص پرده پرې راولوېږي ـ مور هم د نام و نمود په خبره سپلاب کښې لاهو شي مور هم د خپل اولاد د پاره ظالمه شي ـ دومره ظالمه چې د هغې د ظلم داستان د انسانیت په لمن تور داغ شي ـ د هغې حرص د ځوان زوی ـ د زلمي زوی د فرمان بردار زوی په ژوند کښې ازغي اوکري د هغه د ځوانۍ په لار کښې غنې چوکه کړي ـ نو داسې مور ته به هم څوک مور اووائي ـ داسې مور هم کښې هغه مقدسه هستي ده چې د چا د قدمونو د لاندې جنت دی؟ څه اووبم نو ـ په دې حقله خو زه خپله رای نشم ورکولی ـ زه په دې حقله هېڅ هم نشم وېلی ـ ځکه چې په دې کښې د څه وېلو هډو ګنجائش

نشته؟

رونهو! زه د تاسو نه تپوس کوم - تاسو ماله زما د دې تپوس جواب راکړئ چې کومه مورچې نهه میاشتې اولاد په نس اوګرځوي دوه کاله پرې یالنې د زړه وینې ورخښوي بیا چې د ژمي اوږدې اوږدې شپې ورسره شوګیره کړي - بیا چې په زړه چاودون او شوا ځون ئې لوئ کړي نو دغه مور هم ... د دغه اولاد سره زیاتې کولې شي - په دغه اولاد باندې ظلم کولې شي - او د خپله لاسه ئې د غمونو او مصیبتونو ګړنګ ته ورلړه کولې شي؟ ..... تاسو به وائې چې نه، مور دومره ظالمه کیدې نه شي - مور دومره سنګدله کیدې نشي - ځکه چې اولاد خو د مور د زړه ټکړه وي - اولاد خو د مور ژوند وي - د مور ساه وي - نو خپل ژوند څوک پخپله نشي ناقلاره کولې - خپله د زړه ټکړه څو اورته د خپله لاسه نشي ورلړه کولې، خو ..... رونهو شته په دنیا کښې داسې میاندې هم شته چې د دنیا حرص - بیا چې د دنیا لالچ او نام ونمود ورباندې داسې سترګې پټې کړي، چې د خپل زړه ټکړه پخپله، په خپل لاس د اورسرو لمبو ته ورلړه کړي -

اسلم مې یادشي - هغه د انسانیت او شرافت نمونه مې یاد شي - هغه د مور د سترګو تور مې یادشي - هغه چې هر وخت به ئې د مور سترګو ته کتل - بیا چې هر وخت به ئې د مور ځولۍ

ته کښل - هغه چې هر وخت به مور ته لاس په نامه ولاړ وهٔ - اسلم
نیول ژوند د مور خدمت ته وقف کړے وهٔ - د مور دُعاګانې د
اسلم سره وې - د نیمې شپې په خاموشو کښې چې ټوله دنیا به
په خوږ نهٔ خوب اوده وه، د اسلم مور به خدا ے پاک ته په
سجده پرته وه - د اسلم د کامیابئ او کامرانئ دُعاګانې به ئې
کولې - اودا د دغه مور د دُعاګانو برکت وهٔ چې اسلم د ژوند
په لارې په کامیابئ سره روان وهٔ، ژوند ئې په ورانئ روان
وهٔ - د اسلم د مور ارمانونه زړه پډل د کندهتون د بچې ارزی
د ژوند هغه په غم لړلې ورځې شپې تېرے شوې او هېرې شوې -
اسلم ډاکټر شو - د مور د زړهٔ یو ډیر لوئے ارمان پوره
شو - او اوس لکه د نورو میاندو په شان د اسلم د مور په
زړهٔ کښې هم د زوے په سر د وادهٔ د څهرو د لیدو ارمان غزونې
او کړې - هر وخت به په دې سوچونو کښې ډوبه وه چې هغه
په کومه ورځ وي چې د اسلم سره ډولۍ په کوڅه رادننه کړي -
بل خوا ته به اسلم هم د تصور په یوه رنګینه دنیا کښې هر وختې
ورک وهٔ - د مینې او محبت یوه رنګینه دنیا چې ګل سانګه د دغې
دنیا بنا پیښ ئې وه - د دهٔ د محبت شهزادګۍ وه او ولې به نهٔ وه
ګل سانګه خو د دهٔ د ترور لُور وه - چې د دهٔ په نامه ناسته وه
چې په وړوکوالي کښې د دواړو د قسمت فیصله شوې وه، چې
د وړوکوالي نه دواړه د یو بل په حقله سوچونه کول -
ګل سانګه د اسلم سیاله وه - او څُکه د اسلم ډېره زیاته خوښه

وه - هغه په خپل زړهٔ کښې د ګل سانګې د پاره د مينې تاج محل د
ږغوانه جوړ کړے وهٔ - او ځکه خو به اسلم د شپې په خاموشۍ
کښې اکثر د ګل سانګې په حقله سوچونه کول خو اسلم د مور د
ارادو نه نهٔ وهٔ خبر - هغه ته پته نهٔ وه چې د مور په سترګو
د دولت پړدې راوړې لې دي - د هغې نه خپله غريبي هېره شوې
وه د هغې نه خپله ناداري هېره شوې وه، ځکه چې د هغې
په خيال اسلم اوس لوے سړے شوے دے - اوس اسلم پيسې
ګټي - د ګټې خاوند شو، په دواړو کسانو کښې ئې نوم اخستے شي -
نو ځکه خو د هغې د مور ارادې بدلې شوې - د هغې خيالات
بدل شو - اوس د هغې په نزد د اسلم او ګل سانګې جوړ نهٔ
برابرېدو - ځکه چې ګل سانګه غريبه وه - ترلسم پورې
تعليم ئې وهٔ خو د اسلم د مور په نظر کښې دا تعليم ډېر کم وهٔ - هر
څو که ګل سانګه د اسلم د مور خوږه وه سکه خوږه، خو هغه
سکه خوږه کهٔ هر څو د دې خوږه وه خو غريبه وه، او چې غريبه
وه نو د مور په خيال کښې د اسلم سره ئې جوړ نهٔ برابرېدو ځکه
چې اسلم اوس ډاکټر وهٔ، او هغه به هر ما ښام د روپو پېټکه مور
ته جوړلې کښې اچوله - نو بيا؟

بيا دا چې د اسلم مور هيڅ کله دا نهٔ غوښتل چې د ګل سانګې او
اسلم د رشتې په حقله ږغوانې لوظ له عملي شکل ورکړي - نتيجه دا
شوه چې د اسلم مور خپلې خور له جواب ورواستولو چې لور دې
سنبهال کړه - ستا لور زما د زوے سيال نهٔ ده - زما اسلم اوس هغه

اسلم نۀ دے چې ستا اُور ورته ترغاړه کړم - زۀ به اسلم له واده
کوم نو...... دچا عزت دارو کړه دچا یادو خلقو کړه - د جرګو مرکو
خلقو کړه ..... دمور دا انکار د اسلم دپاره د شیخ آسمان تندر
وۀ - مور د سترګو په رپ کښې د زړوے د مینې په دُنیا اور اولګولي-
د هغۀ د مینې تاج محل ئې دړې وړې کړو - اسلم مور ته زاری اوکړې-
منتونه ئې ورته اوکړۀ - په ښسو ورته پرېوتو چې مورې دا ظلم
را سره مۀ کوه - دا زیاتے را سره مۀ کوه - ګل سانګه پردئ نۀ ده،
ستا خورزه ده - ګل سانګه پردئ نۀ ده زما د تُرور لُور ده - زما په
نامه ناسته ده - د پخوا راسې ناسته ده، مورې اوبه شرمېږو -
په خپلو خپلوانو او چم ګاوند کښې به اوشرمېږو - د خدائے خاطر
اوکړه چې داسې مۀ کوه -

خو د اسلم ذارو او منتونو د هغه مور د خپلې ارادې نه منع
نۀ کړے شوه - او چې څو ورځې تېرې شوې نو خبره خوره شوه چې د
اسلم مور د اسلم دپاره د کوز کندي د خان کاکا لُور اوغوښته، او
د خان کاکا کور والاؤ ورته "ښه" اوکړه - خبره په ټول کلي کښې
خوره شوه - هرچا واورېده - د هرچا تر غوږ و اورسېده - اسلم
هم خبر شو او ګل سانګه هم خبر شوه ..... ګل سانګه .....چې د
اسلم په تصور کښې ئې د ژوند شپې ورځې تېروې چې اسلم سره د
نوي ژوند سوچونه ئې کول د اسلم په مینه کښې ورکې ګل سانګې
چې د ځان دپاره د مینې یوه رنګینه دنیا آبادول غوښتل - دې آواز
د هغې دنیا دړې وړې کړه - د هغې زړۀ غوښتل چې په چغو چغو

اوږدېږي - خو هغې نه څه وېلے شو او نه يې څه کولے شو - هغې خو بس دا چې سينه ته ټوپ کړي او د خپل ژوند خاتمه اوکړي. خو پښتنې پېغلې نه سينه ته ټوپ کړو او نه يې جامو ته اورپورې کړو - غم يې زړه ته واچولو - چُپ يې اونيوُو - هر وخت خاموشه هر وخت لکه چې د فکر په ټال زانګي - هر وخت په فکرونو او خيالونو کښې ورکه - نه د روټۍ فکر او نه د جامې - بس د ناخوالې ژوند وه چې تېرېدو - خو د ناخوالې ژوند به تر کومه پورې داسې غلے غلے او خاموشه تېرېدو - تر کومه پورې به ګل سانګې دا دومره دروند غم داسې په خاموشۍ سره ګړځولو .... آخر اول ټوخے، ټيپه ورځ ټوخے - هر وختې ټوخے، او بيا ورسره تبه - کله تېزه او ټنده تبه او کله نرۍ او مړه تبه، تبه او ټوخے دوه مرضونه د ګل سانګې په وجود پورې لکه ګونګي اونښتل - او دغه ګونګي د ننه د ننه د ګل سانګې پړپوس خوړو - د ګل سانګې اينه يې خوړه - د هغې زړه يې خوړو -

بل خوا ته د اسلم حالت هم ښه نه وُو - مور به ورته هره ورځ د وادهٔ په حقله وے چې بچيه پېدې لُور به تر کومه پورې ناسته وي. هغوئ به تر کومه زموږ انتظار کوي - اسلم به مور له هيڅ جواب ورنکړو خو په سترګو سترګو کښې به يې ورته اووے چې مورې زهٔ وادهٔ نه کوم - خدائے خبر چې ولې ما ته داسې ښکاري چې ستا دا ارمان به شائد چې هم د غسې ارمان پاتې شي - شائد چې ستا زما په سر د وادهٔ د ګُهرو د ليد و ارمان پوره نشي - اسلم به هر وخت

ځان له ناست وه - د فکرونو په تیال به څنګیده و - نه به کلینک ته تلو او نه به یې مریضان کتل - د هر څه نه یې زړه موړ وه - ورځ په ورځ به یې صحت پرېوتو - داسې معلومیده چې اسلم لکه ناجوړه وي، ډېر ناجوړه وي - خو که ناجوړه وي نو بیا دې د ځان علاج اوکړي کنه - دے خو ډاکټر دے، دے خو په خپل مرض او د دغه مرض په علاج د هرچا نه ښه پوهېدے شي - خو..... هغه ته که خپل مرض معلوم هم وه خو علاج یې هغه سره نه وه - بلکې د هیچا سره نه وه د یو ډاکټر سره هم، ځکه چې د هغه مور د هغه په زړه کښې داسې پرهر جوړ کړے وه، چې د هغې نه ناسور جوړ شو.. ناسور، هغه ناسور چې علاج یې نشته، هغه ناسور چې رغېدل توې نشته، هغه ناسور چې انجام یې مرګ وي - نو اسلم په ناعلاجه مرض پرېوتو - مور ډېرې منډې ترړې اووهلې - ډېر علاجونه یې اوکړل - په ډېرو ډاکټرانو یې اوکتلو - خو آخر ډاکټرانو جواب کړه - ډاکټرانو ورته اووے چې د څو ورځو مېلمه له ژوند په بیعه نه شي اخستے - هسې ځان مه کړه وه ..... او آخر یوه ورځ زېړے ماښیګر چې د ورځې نمر ستړے شومانه د غرونو نه پناه کیده و نو اسلم خپلې مور ته اشاره اوکړه - ځان سره یې کښېنولو له او ورته یې اووے -

او موري زما د ژوند شمعه په ګل کېده وده - په دې کښې شک نشته چې زما مرګ به ستا د پاره یوه لویه صدمه وي، خو د خدائے په کارونو کښې څوک هیڅ نشي کولے

موري زما په زړه کښې پرهرونه دي - زما د زړه نه وينې
څاڅي - ما ډېره موده غم په زړه اوګرځولو - خو دې غم
آخر زما زړه ټوټې ټوټې کړو - زما ژوند په ختمېدو
دے - خو د ژوند په دې آخرنو سلګو کښې زه تاته داسوال
کوم چې لاړه شه ګل سانګې ته په سر لاس راکاږه خپلې سينې
ته ئې رانزدې کړه او ورته اووايه چې د تقدير ليک نوريدے
نشي - دا به زمونږ په قسمت کښې ليکلې وُو - موري د
ګل سانګې د ذهن نه د غريبې احساس اوباسه - او
...... ورته .... او .... وايه ..... چې ..... (ساه ورکړي)
(اسوېلے) اسلم خبره پوره نکړے شوه .... يوه ورځ
غونډې سلګۍ ئې اووهلے او د دواړو وَښکونه ئې دوه
څاڅکي توئې وينه دارروانه شوه واقعي چې د اسلم
زړه او چاؤدو .... څومره توره وينه وه ، او توره
به ولې نه وه ،.. چې د هغهٔ په زړه او سينه کښې
اوربلېدو اسلم مړشو ، اسلم ځوانې مرګ شو - او چې
څهٔ وخت ګل سانګې ته د اسلم د مرګ خبر اورسېدو
نو اوچته په کټ کښې کښېناسته رنبے اوچې ګلکې
سترګې ئې اخوا دېخوا واړولې - خو ..... په خوله ئې
هيڅ اونهٔ وے - هغې غوښتل چې په چغو چغو
اوژاړي خو پښتنې پېغلې ژړلے هم نشو ....... په
شونډو شونډو کښې ئې دومره قدر له اووے چې ....»

د ترورې زویه آخر ځوانې مرګ شوې - آخر زړه چاودې لاړې -

ته څو داکتر وې .... د ترورې داکتره زویه تا څو به د نورو خلقو د رنځونو علاج کولو، خو د خپل رنځ علاج دې ونه کړے شو داسې زر دې مرګ ته ځان ورسپارلو - تا نه څو زړه بنځه ده ست بنځه یم چې تر اوسه مې د مرګ مقابله وکړه ..... اسلمه! زما څو هم ډېره موده کیږي چې زړه چاودلے دے - ما څو چې ستا د کوژدنې اورېدلې وو لا په هغه ورځ مې زړه چاودلے وو، خو ما ددې هر څه مقابله کوله ما څو ستا په داده هر څه تېرول، خو چې ته هم لاړې نو.... اوس په دې ژوند کښې څه پاتې شو. اوس به زه دا ژوند د چا په داد تېروم - نور ژوند تېرول څو ګران دي - ډېر ډېر (اسوېلے) په کل سانګې د ټوخې دوره دا غله .... ډېره سخته دوره وه - او د څه ساعت ټوخې نه پس کل سانګه غلې شوه .... چپ شوه .... خاموش شوه - مور ئې را منډې کړې خو کل سانګه یخه یخه وه - غمونو ورله زړه وچولو - او زړه چاودې د دنیا نه لاړه -

صبا سحر له د یو کلي د یو مالت نه دوه جنازې پورته شوې. دواړه ځوانې مرګان وو - د دواړو زړه چاودلے وُه او دواړه په یوه ادیره کښې خاورو ته ورسپارلے شُو - ټول خلق خفه وُو - ټول کلي ژړل - په دغه خلقو کښې د اسلم مور هم وه ..... بیرسر پښې آبله پښې - سیرې کسپو ان - هغې هم ژړل - ډېرې ئې ژړل. په وازه خوله ئې ژړل .... ماوے چې ورشم او ورته ووایم چې اے

دمور په جامه کښې دَ خپل زوئ دشمنې ! خپل زوے دې دَخپله
لاسه دَ دولت دَ سره زار کړو - د زوئ خون هم ستا په غاړه دے
او یوا ځې دَ زوئ نه، دَ خپلې خودزې هم - هغه هم ستا دَ حرص
او دنیاپرستې دَ سره زار شوه ..... اسلم او گل سانګه دوه انسانان
وُو - دوه مئینان وو - دوه شهیدان وو - الله پاک دې ورله
په جنت کښې ځائے ورکړي - (آمین)

# مقدسه هستي

---

روڼو .... ځوږو روڼو .... نن به د څه ساعت د پاره خندا پرېږدو .... د څه ساعت د پاره به ټوقې وشتې پرېږدو راځئ چې د دنيا د دې رنګينونه د دنيا د دې هنګامونه ..... د دنيا د دې نظارونه د څه ساعت د پاره يو خوا ته لاړ شو .... لږ تنهايي ته لاړ شو .... لرې نه .... بلکه نږدې .... ډېر نږدې ..... دا خپل سرونه به لږ په دې خپلو ګرېوانونو کښې ښکته کړو .... خپل احساسات او خپل جذبات به لږ دا ولړزوو ..... د خپل زړه پردې به لږې اولټوو د دې خپل زړه نه به لږ تپوس اوکړو ..... دومره قدر له تپوس چې اے زما زړه ته ولې ناقلاره يې ...... ته ولې پرېشانه يې ...... ستا د پرېشانو څه علاج شته - ستا د پاره اطمينان شته؟ .... او! د ناقلاره زړه د پاره قرار شته، د پرېشانه زړه د پاره تسکين شته - ځوکه چرې موږ د خپل زړه نه تپوس اوکړو .... موږ په خپل ګرېوان کښې سرونه ښکته کړو .... که چرې موږ د خپل عمل جائزه واخلو .... نو تسکين او اطمينان .... سکون او خوشحالي هر څه شته - هر څه پيدا کېدونکي څيزونه دي ..... هر څه موندے کېدونکي څيزونه دي ......

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسان الله تعالیٰ اشرف المخلوقات پیدا کړے دے ..... د ټولو مخلوقاتو نه افضل دَ ټولو مخلوقاتو نه غوره .... نو یو دومره افضل مخلوق دومره غوره مخلوق، څنګه ناقلاره کېدے شي ـ څنګه پرېشانه کېدے شي؟ .... دا ځکه چې مونږ صحیح انسانان شو، نو اوګورئ چې د دنیا ټولې خوشحالۍ زمونږ نصیب کېږي او کنه ....... دا ځکه چې دا خپل سرونه هغه لوئے الله ته ښکته کړو، چې کوم رازق دے، کوم مُسبّب الاسباب دے ـ چې د چا په اختیار کښې زمونږ ژوند او زمونږ مرګ دے ـ دا ځکه چې دَ انسان خوشاندې پرېږدو ـ دا ځکه چې انسان ته صرف د انسان په نظر اوګورو، د رازق په نظر نه ..... دا ځکه چې انسان صرف انسان اوګڼو خپل خدائے او خپل رازق نه ـ دا ځکه چې په خپل خدائے باندې د مضبوط ایمان او مضبوطې عقیدې نو نه خو لږ واخلو ـ دا ځکه چې په دې رنګ د خپلو ټولو پرېشانو او مصیبتونو خاتمه اوکړو د زړهٔ تسکین الله تعالیٰ ته په سجده لګولو کښې دے ..... د روح تسکین دَ الله په دربار کښې په زارۍ او منت کښې دے ـ د دنیا او د آخرت ټولې خوشحالۍ ټولې سُکالۍ د الله تعالیٰ په حضور کښې شته، نو دا ځکه چې دا خپل سرونه هغه ته ښکته کړو، او د خپلو مشکلاتو او مصیبتونو د حل دُعا ترې نه اوغواړو ..... یو حَل نه، دوه حَل نه، درې حَل نه، ټول عمر.... چې ترڅو پورې مو په بدن کښې ساه شته ـ چې ترڅو پورې مو په بدن کښې طاقت شته ـ

دا شو د تسکین او اطمینان یو مقام ـ د الله تعالیٰ په مخکښې سجده،

او بیا؟ .... یو ځائے یې هم شته، یو مقام یې هم شته، یوه هستي بله هم شته، چې ډېره مقدسه - ډېره پاکه او ډېره بزرګه هستي ده دغه زبرګه هستي مور او ... دغه مقام د مور د پښو خاورې دي - دغه مقدسه هستي مور ده، چې د چا د پښو لاندې جنت دے - دغه بزرګه هستي مور ده، چې د اولاد د پاره رحمت دے - مینه ده، محبت دے ....چې د چا د سترګو یوه اوښکه د کاڼي په شان زړونه هم نرم کړي - موم کړي ..... د مور د سترګو اوښکه؟ .... او د مور د سترګو په اوښکو کښې دومره طاقت شته چې عرش په لړزان کړي - د مور اوښکې د الله تعالیٰ غیرت رالړزولے شي، د الله تعالیٰ قهر او غضب رالړزولے شي، نو اے د میاندو زامنو! ستاسو دا زړونه کنې د کاڼي نه هم سخت شو؟ ستاسو احساسات کنې داسې مړهٔ شوي دي، چې د مور د پاکو سترګو پاکې اوښکې یې هم رالړزولے نهٔ شي...؟

اے رورنو! لږ په غور سره، لږ په فکر سره د خپلې مور مخ ته اوګورئ، لږ په ژور نظر ورته اوګورئ - نو په دغه مخ کښې به، په دغه پاک مخ کښې به تاسو ته د انسانیت حقیقي تصور ښکاره شي .... په دغه مخ کښې انسانیت شته، په دغه مخ کښې شرافت شته، په دغه مخ کښې، دد غه مخ د تندي په ګنجو ګونجو کرښو کښې زمونږ د پاره محبت شته، .... نو په داسې مخ باندې، د اوښکو سیلاب کنې زمونږ د انسانیت او شرافت په لمن تورتور داغونه نهٔ جوړوي .....؟ مور د کور برکت دے .... مور د کور عظمت دے.... مور د کور رڼا ده - اے د شتهٔ میاندو زامنو

د مور قدر اوکړئ چې د کور برکت مو زیات شي، د مور په سر د مینې لاس راکاږئ چې د کور عظمت مو زیات شي - مور خوشحاله اوساتئ چې د کور دنیا مو قائمه پاتې شي - مورمه ژړوئ مورمه خفه کوئ - مورمه زیږوئ، کنې یقین اوکړئ چې خوار به شئ - سپک به شئ - او ژوند به مو په عذاب شي -

مور مور ده - د انسانیت په دې ویړه دنیا کښې د مور نه زیات همدرد کنې یو هم څوک شته؟ .... نشته، بالکل نشته .... کنې نو د درد او تکلیف په موقعه د مصیبت او زړه چاودون په موقعه به ولې مونږ چغې وهلې چې .... " وی مورې مړ شوم " .....
ولې د بابا نوم نه اخلو - ولې د دادا نوم نه اخلو .....؟

اے رونړو د هغه ساعت نه اویریږئ - د هغه موقعې نه اویریږئ چې مور سر سرتور کړي او د الله تعالی په حضور کښې د اولاد نه د فریاد د پاره لاسونه پورته کړي - په دغه فریاد کښې طوفانونه وي کوړے - په دغه فریاد کښې قیامتونه وي کوړے -

اے رونړو! لږ د مور سترګو ته اوګورئ - د دغه سترګو په کګو کښې اوګورئ - نو درته به معلومه شي چې د مور په دغه سترګو کښې د دغه سترګو په کګو کښې د اولاد د پاره د مینې او محبت یو طوفان په غورزنګ دے - په دغه کګو کښې به تاسو ځانونه اووینئ - تاسو به پکښې د خپل ځان د پاره مینه او محبت بیا مومئ - په دغه کګو کښې ستاسو د پاره کوکه نشته - نفرت نشته - بغض نشته، کینه،

نشته، صرف او صرف مینه ده.

اې رونړو! تاسو یقین اوکړئ چې د مور شال د ګل دے. ګل یو غوړېدلے ګل یو مسېدلے ګل. بلکه مور خو د ګل نه هم ښائسته ده. د ګلاب نه ښائسته ده. ګل هر وخت مُسکے وي، خو چې ترڅو د خزان سپېرو بادونو نه وي وهلے خو چې د خزان سپېره سیلۍ راشي نو ګل مړاوے شي ګل اوړېږي. او مور؟ د خزان سپېره بادونه د مور د شونډو نه، د اولاد دپاره مُسکا نه شي ختمولے. مور اولاد ته تل په خندا وي. تل به ورته مُسکۍ وي، اګر که د دنیا ټول غمونه او مصیبتونه د هغې په برخه شي نو هم. د خدائے په مخلوق کښې د ټولو نه ښه او افضل مخلوق مور ده، مور د اولاد په شکل کښې یو انسان زېږوي مور د انسان ژوند جوړوي، مور انسان، د انسانیت درجې ته رسوي، مور انسان ته په ښه بد کښې تمیز ښائي. د مور جولۍ د انسان دپاره اولنۍ مدرسه ده.

د اولاد دپاره د ټولو نه ښه ځائے د مور زړه دے. د هر اولاد دپاره د مور په زړه کښې ځائے شته، داسې ځائے چې هلته د مینې او محبت نه سوا بل څه هم وشته نه.

اې رونړو! د هغه زړه خیال اوساتئ، کوم زړه چې ستاسو د آرام د خاطره تل ناقلاره وي. د مور زړه د اولاد دپاره څومره تکلیفونه تېر کړي دي. څومره غمونه ئې تېر کړي دي. څومره زخمونه ئې خوړلي دي. او دې دومره تکلیفونو او مصیبتونو هم چرې د مور په زړه کښې د اولاد دپاره نفرت راپیدا نه کړو. بلکه په غم او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصیبت کښې په تکلیف او شوانځون کښې د اولاد د پاره د مور په زړه کښې مینه او محبت نور هم زیات شي -

نو اے رونړو! داسې هستي - داسې محبوبه مور هم کښې د خراب سلوک حقداره ده - مور هم لا چرې د ضدونو او قصدونو ده - کوم داسې بد قسمته اولاد به وي چې هغه په خپلې مور ته سپک کوري کوم داسې بد نصیبه اولاد به وي چې هغه به مور سره په ترس چلېږي .... شته په دنیا کښې داسې ناپوهه کسان شته، داسې بد قسمته اولاد شته چې د هغوي د نارامو د کبله د میاندو په زړونو پولې را ختلي دي - د هغوي د ظلمونو د لاسه د میاندو په زړونو تنهاکي جوړې شوې دي -

اے رونړو دا پولې به آخر یوه ورځ اوچوي - دا تنهاکي به آخر یوه ورځ تق ناري کړي... او زه تاسو ته په یقین سره وېم چې د مور د زړه د تنهاکو چودل به ستاسو د پاره یو قیامت وي - ستاسو د پاره به دوزخ وي - او به سوزېږئ کورے .... لولپه به شئ کورے - مه کوئ رونړو د خدائے خاطر اوکړئ چې د مور سره زیاتے مه کوئ - د مور سره په ترس مه چلېږئ - مور ته سپک مه کورئ - مور مور ده، د مینې او محبت یو غر .... د مینې محبت یو سمندر .... راشئ د مور احترام اوکړئ چې د عزت ژوندن تېر کړے شئ - راشئ د مور عزت اوکړئ چې په دنیا او آخرت سرخرو شئ - راشئ د مور قدر اوکړئ چې ټولې پرېشانۍ او مصیبتونه مو ختم شي - د مور د پښو خاورې جنت ته د رسېدو د پاره یو آسانه لاره ده -

# " سزا "

ورستے پهار وُ چرګانو کلے په سر راخستے وُ - ځُماګل د چرګانو
بانګونه واورېدل - خوا ړخ ئې واړولو او مخ سرئې په
بړستن کښې راونغښتل - خدائے خبر چې څهٔ چل وُ
نن دهغه زړهٔ پاسېدو ته نهٔ کېدو - نن دهغهٔ زړهٔ
وئېل چې دا شپه نوره هم اوږده شي - دومره اوږده
شي چې د سبا کېدو ویره هډو ورکه شي - هغه د شپې
نه په پټي کښې تخم شیندلے وُ په دې نیت چې سحر
وختي به پټے اوځم ...... هغه ته پټے او شیندلے تخم
دواړه یاد وُو - خو بیا ئې هم پاسېدو ته زړهٔ نهٔ کېدو
..... څنګه ساعت تېرشو - د کوز کندي دَجمات نه دبانګ
غږ ئې تر غوږو شو ..... ډېر خوږ اواز وُ - دے دَبانګ
د الفاظو په معنیٰ نهٔ پوهېدو - دے په دې نهٔ پوهېدو
چې دې بانګ کښې په څوانهٔ خوب اودو دپاره کوم
پېغام اورولے شي - هر څو کهٔ ځُماګل دَ بانګ په معنو نهٔ
پوهېدو خو دومره ئې نن ډېر خوند ورکړو - نن دَ سحر
بانګ دهٔ ته مرګ رایاد کړو - دے ئې په دې باندې پوهے
کړو چې دا دُنیا فاني ده او مرګ حق دے - دَ مرګ هیڅ وخت

نۀ دے معلوم ټول ژوندي به یوه ورځ مري - او زۀ .. زۀ
خو به هم یوه ورځ مرم .... او که خدائے مۀ کړه زۀ نن
مړ شوم نو زما دا ماشوم زوے او ځوانه ښځه به څۀ کوي.
دوئ به څۀ خوري - زما ځوانه ښځه به پردي خدمتونه
کوي؟ زما ماشوم زوے به پردو کوڅو کښې لوغړیږي؟
..... دا به څۀ کیږي لویه خدایه، دا به څنګه کیږي ؟
داسې خو او مۀ کړې خدایه .... ما خو د دوئ نه مخکښې
مړ مۀ کړې - د دوئ د سر نه خو زما سورے پورته مۀ کړې
.... څو سمد ستې د جمال ګل خیال د تصویر بل اړخ ته لاړو
او د ځان نه ئې تپوس اوکړو، چې ما د دوئ نه مخکښې ته
مړ کړې نو مطلب دا شو چې زما زوے دې زما نه مخکښې خدائے
پاک مړ کړي چې د یتیمۍ د سپیرۀ آواز نه بچ شي ....
زما ښځه دې زما نه مخکښې مړه شي چې د کُنډتوب د
سپیرۀ ژوند نه په امان شي .... نه نه داسې هم او مۀ
کړې خدایه د فقیر ګل بچي مرګ به زۀ څنګه برداشت
کړے شم - که فقیر ګل زما نه مخکښې مړ شو نو ما ته به بیا بابا
څوک وائي او زۀ به بچے چا ته وایم بیا به ښتې ته ساله روټۍ
څوک راوړي؟ .... او که ښځه مې مړه شوه نو..... د هغې نه
بغیر به زۀ څنګه ژوندے پاتې شم - د هغې نه بغیر به د
ژوند څۀ خوند وي ؟
خدائے خبر چې څۀ چل وُو چې نن دې کسا ... او وي ګوره

خیالاتو د جما ګل په زړهٔ کښې طوفان راوستے وُ.... د مرګ
اوږدونو د بې شمېره وسوسو یوهٔ ورانه ماشوره وه چې د
جُما ګل زړهٔ او ذهن دواړه یې پرېشانه کړي وُو.... آخر
راپاسېدو و قُلبه یې راپرانسته جغ یې ورته په غاړه کښې
واچولو او ښځې ته یې اووے "چې پټي ته ما پسې چاے
مهٔ رالېږه زما طبیعت خراب دے - غرمې له سُکړک او
شوملې فقیر ګل له ورکړه چې پټي ته راوړي" -
قُلبه مخکښې او جمعه ګل ورپسې د کوټې نه اووتو- قلبه مخکښې او
دے ورپسې - او هغه خیالات په ذهن کښې بیا راتازه شو چې
که زهٔ مخکښې مړ شوم نو بیا به څهٔ چل کېږي او که دوی مخکښې
مړهٔ شول نو بیا.... بیا به څهٔ چل کېږي؟ هم په دې پرېشانه
خیالاتو کښې جُمعه ګل پټي ته اورسېدو.... زر زر یې قلبه
په پټي ورګډه کړه - په خپل سوچونو او فکرونو کښې ورته
هډو د وخت اندازه اونهٔ لګېده خو چې سر یې راپورته
کړو نو نمر نیم آسمان له راغلے وهٔ - د جمعه ګل زړهٔ سپین
سپین کېدو....... د کلي په لارې یو نظر واچولو خو فقیر ګل
ښکاره نهٔ شو - دهٔ بیا غوږ له چوکه ورکړه او په زړهٔ کښې
یې اووے چې فقیر ګل دوتهه راوړي نو، نو ما به
دا لږ غوښندې وښکے اړولے وي..... ........
خو.... په دې کښې د کلي نه نمبردار سړے راولېږلو چې خان

راغلے دے ټول دهقانان راغلي دي فوراً حجرې ته راشه -

زمونږ ټول کلے دد غې اکي يو خان جاګير ؤ - او د کلي ټول

دهقانان د دې اکي يو خان لکه چې غلامان وو ........

خان به کله کله زمونږ د کلي چکر لګولو - په خپل جاګير

به ګرځېده او د خپلو دهقانانو د حالاتو به ئې ځان خبرولو -

دا اکي يو خان به چې زمونږ کلي ته راغلو نو دے به يو

سم کړې کټ کېنې لکه د فرعون کېناستو او ټولو دهقانانو

به په شنه منډه ددې خان د سلام د پاره ځان حجرې ته

را رسولو او کېږ چاپېره به په مزکه د پښو په سر ناست ؤ -

نن هم چې دا اکي يو خان کلي ته راغلو ... په کټ کېنې کېناستو -

خلق په يو ټو د سلام د پاره راوُ چلېدل او په مزکه د پښو

په سر کېناستهُ نو خان کېږ چاپېره په خلقو يو نظر واچولو -

ټول راغلي وو - ټول د سلام د پاره حاضر شوي وُو نو ....

جمعه ګل ... ؟ جمعه ګل په دې خلقو کېنې نهٔ ؤ - دخان سترګې

د ډېرې غصې نه ډکې غونډې شوې - د نمبردار نه ئې

تپوس اوکړو چې جُماګے ځهٔ شو ؟ هغه ورته وے چې

تخم ئې شيند لے دے دوه کيله ورته پاتې وو وے دا پټم

نو درځم .... د خان طبيعت خته شو - په غوږونو ئې

دا خبره ښهٔ او نهٔ لګېده، د ځان سره ئې اووے چې رما

نه دوه کيله تخم زيات اهم شو ..... حکم ئې اوکړو

چې ورشئ لاس نيولے ئې راولئ .... دوه کسان بېنيې ته

لاړل ... جمعه ګل ئې لاس تړلے راوستو . جمعه ګل خان ته
سلام اوکړو او خپل عُذر ئې ورته پېش کړو . خان نهٔ
سلام واخستو او نهٔ ئې دَ دهٔ په عُذر غوږ اوګرولو ...
حکم ئې اوکړو چې په څلورو بولي غوږونه او نیسه ......
جمعه ګل په چپه خوله غوږونه اونیول او بیا .... ؟ بیا
په حجره کښې یوه غټه تیږګه ... ډېره غټه خدائے مې
دې غاړه نهٔ نیسي څو دَ لسو منو نه به سپواوه په دې
تیږګه به دَ کلي خلقو دَ لښه رسي تهکولې .... حکم اوشو چې
دا تیږګه جُماګل ته په ملا کېږدئ .... څلور کسان راپاڅېدل .
دغه تیږګه ئې راپورته کړه او جمعه ګل ته ئې په ملا کېښوده
.... تیږګه ډېره درنه وه . جمعه ګل ډېر فریادونه اوکړل، څو
دَ خان په زړهٔ دَ رحم اوبهٔ تو ئے نشوې .

بل څوا د جُماګل ښځې تنور اچولے وُ . په تادې تادې
ټکیاوه سکرکان ئې په تنور کښې پورې کړې وُو . هغې سره
دَ جُماګل فکر وُ . هغې ته پته وه چې سړې سحر چائے هم
نهٔ دې څکلي هغه به اوږے وي . ډېر به اوږے وي نو چې
روټئ ورله زر اولېږم . سکرکان ئې راونړول په دسترخوان
کښې ئې زر زر اوتړل . شوملې ئې په بټکي کښې واچولې
اوزوے ته ئې اووے چې پکښه په منډه پتې ته څه پلار
به دې اوږے وي ... دې لا دا خبره کوله چې په دې
کښې یو ماشوم په منډه منډه راغلو او دَ جُماګل ښځې ته ئې

او وے چې "خان" جمعه ګل یاندې غوږ ونه نیولې دې او
د جګړې هغه غټه تیکه يې ورته په ملا سوره کړې ده...
د جمعه ګل ښځې سینې له درز ورکړو - سرتورې سرپښې اېبله
پښې په شنه منډه جګړې ته په ژړا راغله - فقیرګل هم
په مور پسې منډې وهلې.... مور او زوے دواړه په
ژړا انګولا په جګړې را ننوتل.... د جمعه ګل تمبې خان
ته منت اوکړو چې "خان" معاف يې کړه - ماشوم فقیرګل
يې ورته په ښو کېښې سوملولو چې ددې ماشوم دې ورانو
ورانو کړیکو ته اوګوره چې جمعه ګل معاف کړه .... خو د
خان په زړه کښې رحم را نغلو - د جمعه ګل د تمبې ژړا انګولا
او د فقیرګل چغې د خان کانڼے زړه نرم نۀ کړے شو - د
جمعه ګل فریاد او دوه په کېدو شو.... فقیرګل د
پلار سرته ولاړ وُو ژړل يې - داسې يې ژړل چې ورسره
ناستو خلقو هم ژړل د جمعه ګل تمبې هم ژړل او ورسره
يې کړیکې هم سیرې ویرې کړے وُ - د سرو ښتۀ يې
هم په موټو موټو راشوکولې وُو - ډیره د غم ننداره
وه خو.... د خان غصه نۀ سړیده او څنګه به سړیده
جمعه ګل څۀ وړه ګستاخي خو نۀ وه کړې - ډیره لویه
ګستاخي يې کړې وه - او ددې دومره لویې ګستاخۍ
سزا هم دغه ده چې جمعه ګل ددې تیکې د لاندې ساه
ورکړې چې سبا له بل دهقان د خان د داسې بې عزتۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو جرأت ونه کړي ..... او چې بې ساعت تېرېږي او
نو جمعه گل یوه سلگۍ او وهله او ..... فقیر گل یتیم
او د فقیر گل مور کونډه شوه .

انا لله و انا الیه راجعون

---

# پښیماني

(اسویلی) تېر ماسختن وُ. شومه دم وه. په تاخ کښې دَ شړشمو ډیوه ټته ټته بلېده ..... دَ ډیوې تورو تورو لوګو په کوټه کښې دهند وکار جوړ کړے وُ .... شمشېر ډېر کوشش اوکړو خو خدائے خبر چې دَ هغهٔ دَ سترګو نه خوب نن کوم خوا تښتېدلے وُ ..... هغه ډېر کوشش اوکړو چې دَ سپېڅلو دا خبره دَ خپلو معزونه اوباسي ......چې "لاس دې آزاد چې څهٔ کولے شې اوکړه" ...... ډېر کوشش ئې اوکړو چې دا خبره هېره کړي دَ خپلو مغزو نه ئې اوباسي خو ...... خو نه ئې اونهٔ کړو. دَ شمشېر په سینه کښې دَ سپېڅلو خبرې اوربل کړے وُ - ډېر سوچونه ئې اوکړهٔ - دَ زړهٔ سره ئې ډېرې صلاحګانې اوکړې خو هېڅ په حساب ئې پوے نهٔ شو چې څهٔ اوکړي ... کومه لار اختیار کړي ... خودکشي اوکړم؟ خو ...... چې په کټ کښې په خوږهٔ خوب اوده ماشومانو باندې به ئې نظر پرېوتو نو ..... خودکشي؟ ..... زهٔ خودکشي اوکړم؟ ..... ځان اووژنم؟ چې دَ خلقو دَ پېغورو نه خلاص شم؟ خو..... دا سرې خولې ماشومان چا ته پرېږدم؟ ...... دوئ به

څه کوي؟ دوئ به څه خوري؟ دوئ به بیا په پردو کوڅو
کښې لوغړېږي؟ دوئ به بیا خېر ونه غواړي؟ ......
نه نه زه خودکشي نشم کولے - زه خپل ماشومان بچي پردو
کوڅو کښې لوغړېدو ته نشم پرېښودے -
(اسویلے) په تاخ کښې بله ډیوه هم هغسې بلېده - د ډیوې
تور لوګي داسې ښکارېدل لکه چې د شمشېر د سینې نه راوتي
ساړه ساړه اسویلي د ډیوې د لوګو سره یو ځاے شوي
دي ..... هلته د ډیوې باتۍ سوزېده او دلته د شمشېر
په سینه کښې اور بل و - د انتقام اور - د دشمنۍ اور -
د بېغورۍ اور - په شته جایداد کښې شمشېر د ناداري ژوند
تېرولو - دغه د ناداري ژوند ئې نور نشو تېرولے -
هغه نور ناکام نشو کولے - او د سپکوړ دې خبرې چې
"لاس دې خلاص که څه کولے شې نو ....."
دې خبرې خو شمشېر دې ته تیار کړو چې یا ځان او وژني او
یا د زور په مرۍ زور کړي او خپله حصه ترې نه قبضه
کړي .... شمشېر د ځان سره کړل د بېل ... "په شته جایداد
کښې دې زما بچي لوږې تېر وي - ولې په دغه جایداد کښې
کښې زما حصه نشته؟ ولې نشته؟ نو بیا؟ په ټول جایداد
سپکوړي ولې خېټه اچولې ده؟ زه به ..... خپل حق اخلم -
ان که د سر په بدل وي نو هم - او دلته د روستي پار په
بوګنوُ نکې خاموشۍ کښې شمشېر د خپل کټ نه راپاسېدو.....

ګرنډۍ ئې کښې اوږې ته او ټوپک ئې ښې اوګې ته واچولو -

..... ماشومان په خوږه خوب اوده وو - د دنیا د حاله

بې خبره ...... د خپل پلار د ارادو نه ناخبره په خوږه

خوب اوده وو - شمشیر په ماشومانو یو نظر واچولو....

د ماشومانو مور هم ټوله ورځ جامې وینځلې وې، هغه هم

د ځان د حاله بې خبره په خوږه خوب اوده وه .......

په تاخ کښې بلېدونکې ډیوې ته ئې یو نظر اوکتل - ډیوه

په سلګو وه - په آخرنو سلګو ..... او شمشیر ته هم خپله

ساه ځنې لنډه لنډه او را ښکلې ښکاره شوه ،

شمشیر داسې محسوسوله چې لکه د دې ډیوې سره د ده ژوند

تړلے دے - دا ډیوه په سلګو نه ده بلکه د ده ژوند په سلګو

دے - او چې ځنګه دا ډیوه په سلګو سلګو کښې مړه شي دغسې

به زه هم په سلګو سلګو کښې مړ شم - ...........

خو زه ......؟ زه پښتون یم - زما په مټو کښې زور شته -

زه به داسې په آسانه توره ډال نه غورځوم - په سلګو

سلګو کښې مرګ به زما د پاره پېغوړ شي ......زه یو د

سپېغوړ پېغوړ لمبه لمبه کړم نو صباله به زما بچي د ټول

کلي پېغوړ ځنګه اوزغملے شي - نه نه زه خپل بچي د

پېغورونو په سومبو سوري کېدو ته نشم پرېښودے - کوم

څیز چې زه د خپل ځان د پاره غوره نه ګڼم هغه څیز ځنګه

خپلو ماشومانو ته په میراث کښې پرېږدم - ځکه چې د خپلې

لمنې نه د سپغوړ دَ پېغوړ داغ دَ توپک د شپلۍ نه
په وتې کولۍ والوځوم ځم چې دَ سپغورې په سرو وینو
د خپلې لمنې داتور داغ دَ تورِ نه سور کړم .... سور داغ
تک سور لکه سور گلاب (رخندا) شمشېر دَ کړکۍ ونصرت نه
ډکه خندا اوکړه او لاړو دَ کوټې نه اووتو - دَ تېرو تک تور
څادر په ټول کلي راخور وُ - یوه یو کنوونکې خاموشي وه.
لکه چې دَ کلي ټول خلق دَ مرگ په خوب اوده وُو -
سپي هم ټوله شپه دَ غپېدو نه پس په بهوساړو او دَ
پلا لې په سنگرونو کښې اوده وُو - شمشېر په تُند وتُندو
قدمونو کوز کندې ته روان وُ - په زړهٔ کښې ئې دَ انتقام
اور په قدم قدم لمبه کېدو - دَ زړهٔ حرکت ئې تېزېدو -
نبضونو ئې ټوپونه وهل ساه ئې لنډه لنډه کېده او
چې څهٔ وخت شمشېرخېل منزل ته ورنزدې شو - دَ سپغو
دَ کورلو په دروازه ورته ښکاره شوه نو دهٔ توپک داوږې
نه راکوز کړو - چارچرې ئې ورله ډک کړو چې ..... په دې
کښې دَ نزدې جمات دَ منارو نه دَ لوئے الله دَ لويې کليمه
الله اکبر په لوړ سپیکر کښې په ټول کلي کښې خوره شوه،
مُلا دَ سحر په بانگ و پُلو شروع اوکړه شمشېر پښېمانه نیولے
شو - خدائے خبر چې ولې نن دَ سحر بانگ دَ شمشېر په زړهٔ کښې
يو نوے طوفان راپورته کړو - نن خو د سحر بانگ د هغه دنيا
بدله کړه ...... څومره خوږ بانگ دے څومره زړهٔ راکښونکے

آواز دے - ملا بانګ وېلو او شمشېر د خپلو احساساتو په
سینه لاهو وه ..... خو خدایږ خبر چې څه چل وه چې نن د
بانګ شمشېر په دې حقیقت باندې پوه کړو چې دا دُنیا
فاني ده - د دنیا ژوند د شمشېر څو ورځې دي - د دې دنیا
هر څیز فاني دے - دا هر څه به د انسان نه دلته پاتې شي -
دوه لاس او دوه پښې به ترې نه روان شي خو د دې باوجود
هم څنې څنې انسانان د حرص په خړ سېلاب کښې لاهو
شوي دي - د دې باوجود هم یو انسان راپاسي او د بل
انسان په مړې چاړه راکاږي - یو رور راپاسي د بل رور د
پښو د خولې نه نوړۍ راوُشکوي یو رور راپاسي د بل
رور سینه د ټوپک په ګولۍ غارغار کړي ؟ څومره ظلم
دے ؟ څومره زیاتي ده - هم د ځان سره او هم د خپل بال
بچ سره ..... د شمشېر زړه ویرې اونیوو ..... رېښندے ړېږې
راغلو - هغه زړه چې څه شیبه اګاهو د نفرت او انتقام
په لمبو ګړغنډې شوې وه - د سحر بانګ هغه لمبې مړې
کړې هغه اور ئې یخ کړو شمشېر خپله اراده بدله کړه ....
نه نه زه به هیڅ کله د جاېداد د پاره د رور په سینه
کښې د ټوپک ګولۍ سره نه کړم - زه به هیڅ کله خپله
تورسرې ورندار کنډه نه کړم - زه به هیڅرې خپل
وریرونه په لارو کوڅو کښې یو نمرېي و نه ورنکړم - خیر
دے که زما بچې نهر وي ، خیر دے که زما په جاېداد

زما مشر رور قبضه کړې ده ، ورور څوک دے ؟ زما رور دے
کنه ؟ د رور ښځه څوک ده ؟ هم زما بهابي ده کنه او د
سپفور بچي هم زما بچي دي کنه - رور زما رور دے - زما
وینه ده - زما مټې دي - نو ...... خپله وینه هم څوک
په خپله تویوي - خپلې مټې هم چرې څوک د خپل ځان نه
پخپله پرېکوي ؟ ...... نه نه داسې نهٔ شي کېدے - داسې
به هیچرې اونهٔ شي - زهٔ به هیچرې داسې اونهٔ کړم ......
سپفور د مزکې آمدن څهٔ تول خو پخپله کېده کښې نهٔ
اچوي - په خپلو بچو او خپلې ښځې باندې ئې خرچ کوي -
نو ..... اے ناپوهه شمشېره د سپفور اولاد کښې ستا اولاد
نهٔ دے - د سپفور د اولاد خوشحالي کښې ستا خوشحالي
نهٔ ده ؟ ..... خېر دے کهٔ سپفور زما د بچو د خولې نه
نوړئ را شکوي ده ؟ هغه ته به ځان په دې ښهٔ ښکاري -
خو زهٔ ؟ زهٔ به هیڅ کله د سپفور ماشومان پرېدو کوڅو
کښې لوغړېدو ته پرې نهٔ ږدم ..... توبه خدایه توبه د دې
ناپاکې ارادې په سوچ مې غاړه مهٔ بنده وئ - اے لویه خدایه
شکر دے زما زړهٔ کښې د انتقام اور دې په خپل فضل سره
یخ کړو ..... ځم خپل کورته واپس ځم - خبر دے زهٔ به
محنت مزدوري کوم او د خپلو بچو پالنه به کوم - څهٔ د هر
چا جائېداد او نه خو نهٔ وي - زهٔ به دا اوګنړم چې زما جائېداد
هډو وُنه - زړهٔ دومره بې همته خو نهٔ یم چې کښې د خپلو

بچو د پاره به روزي لټم پېدا کوئے - شکر دے په صورت روغ یم شکر دے روغ رمټ یم - محنت مزدوري به کوم او حقه حلاله روزي به بچو له راوړم - او اوس ......؟ اوس ځم چې په جمات کښې نمونځ اوکړم او دلوئے خدائے نه بخښنه اوغوارم

شمشېر دَ سپڅوړ دکوټې نه واپس کېدو چې په دې کښې هغه په قلبې پسې راروان دَ خپلې کوټې نه را اووتو او څه وخت ئې چې شمشېر ټوپک په لاس اولېد و نو پوئے شو چې د شمشېر څه ارادې دي - خو .... شمشېر زر ټوپک اوکړے ته واچولو او ورمنډې ئې کړې - سپڅوړ ته ور تر غاړه وتو او په سلګو کښې ئې ورته ټول قصه تېره کړه سپڅوړ هم شمشېر له کلکه غاړه ورکړه او په ډېر ټو ئې اوژړل... قلبه ئې راستنه کړه - شمشېر ئې لاس نیولے کورته راوستو - او چې بچه غرمه کېده نو بچه کړ په پولو پټو پړے اېښے وه .....

دَ سپڅوړ دَ مزکې نه ئې دَ شمشېر حصه بېلوله - او خلق.....؟ خلق حق حېران وُو چې دا څه وو او څه اوشو -؟

خوائے دو نو حېرانېږئ هم - د انسانانو په سینو کښې خدائے پاک د غوښې زړونه پېدا کړي دي - دغه دَ غوښې زړونه نرمېږے هم شي - دغه دَ غوښې زړونه پستېږے هم شي - په دې زړونو کښې الله تعالیٰ مینه محبت هم پېدا کړي دي - خو کاش چې موږ دَ غوښې په دغه ټوټې کښې په خپل صبر او خپلې حوصلې سره دَ مینې او محبت او دهٔ جذبات راوېښ کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمان چې موږ د زهرو په ځای د ګوري نه کار واخلو چې موږ په خپل عمل سره یو ظالم په خپل ظلم او یو زیاتي کوونکی په خپل زیاتي پښېمانه کړو - په خپلو ناروا موټي نادمه کړو - په خپلو بدو یې شرمنده کړو -

خوا ای رونړو زما یوه خبره د خپل ذهن پسکې پورې اوتړئ - زما یوه مشوره د خپلې لارې مشال کړئ نو بیا اوګورئ چې ستاسو ټولې کړاوونې آسانېږي اوکنه - ستاسو ټول نفرتونه په مینې او محبت بانډې بدلېږي اوکنه - ستاسو ټولې دښمنۍ په یوې خوږې درنې او نه شلېدونکې ورورولۍ بانډې بدلېږي اوکنه - او هغه مشوره دا ده چې

ای رونړو د هر قدم د پورته کولو نه آګاهو د هغې په انجام بانډې فکر اوکړئ - که چرې یو قاتل په دې خبره په سړه سینه سوچ اوکړي چې د هر قتل انجام د پهانسۍ تخته ده - د هر قتل سزا دوزخ دے - نو زما په خیال چې هیڅوک به قتل اونه کړي - دغسې د هر غلط قدم انجام شرمندګي - رسوائي او پښېماني ده نو بیا پښېمانه کېدو نه څه فائده - هغه د رحمان بابا خبره چې

تیر ساعت په مثال مړي د لحد دے
مړي چا دي ژوندي کړي په دنیا

* * *

# "اِنتقام"

(اسو یلې) ژوند .... روژوند .... یو څو ورځې ژوند .... دَ شمېر یو څو ګړۍ ژوند .... دا ژوند که ډېر څو به دے نو په ځنې ځنې حالاتو کښې ډېر تریخ شي ..... سره دَدې ظاهري رنګینو - سره دَدې دومره هنګامو - په حقیقت کښې ژوند تریخ دے .... دا بیله خبره ده چې مونږ خپلو ځانونو له تېر ورکوو - خپلو زړونو له دهوکه ورکوؤ - په زور په ژوند کښې هنګامې را پیدا کوؤ - رنګینئ را پیدا کوؤ - ګنې حقیقت دا دے چې ژوند تریخ دے .... شته دَدې دنیا په مخ ګني یو انسان داسې هم چې دهغهٔ په زړهٔ به څهٔ غم نهٔ وي ؟ دَ هغه په زړهٔ کښې به څهٔ ارمان نهٔ وي ؟

هر څوک ناقلاره دي ...

غریب ناقلاره

امیر ناقلاره

کونډه ناقلاره

تورسرې ناقلاره

دَ اولاد خاوند ناقلاره -

بې اولاده ناقلاره

د دنیا په مخ هر څوک ناقلاره دي - نو بیا ژوند تریخ شو که؟
په دې تریخ ژوند کښې څني وخت داسې حالات راپېښ اشي
داسې واقعات راپېښ شي چې ژوند زهر شي کنه پرشي -
جماله بیو مې یاده شي - ښځه مې یاده شي - هغه سروهلې بروهلې
جماله هغه لېونۍ سپېلنۍ جماله - هغه چې هروخت به اوتره اوتره
وه - هغه چې هروخت به لکه د پارې ناقلاره وه ..... ولې؟
رونړو د ولې جواب ډېر دروند دے - ډېر بوکنو ونکے دے -
د ولې جواب خو د انسان په زړه کښې پرهرونه جوړوي نو
بیا .... ؟ بیا به درته زه څه اووایم چې جماله ولې داسې ناقلاره
وه - ولې داسې لېونۍ سپېلنۍ وه - ولې یې شونډو داسې
پوستکي نیولي وو .... تاسو ته نه ده معلومه چې د جمالې په
زړه کښې اوربلېدو او د اورد غولمبو د هغې په شونډو
پارونه جوړ کړي وو - جماله د انتقام په اورکښې سوزېده -
د هغې په زړه کښې د انتقام اورپه غرغندو وُ ..... او انتقام
... د چانه؟ دیو داسې ځین نه چې هغه خبره له شوې کوله -
د دغه ځین د جمالې د شونډو په پارو څه کار نه وُ - خو
بیا هم جمالې بیو د یو سور په حیثیت د دغه بې زبانه ځین
نه داسې انتقام واخستو چې د دنیا د پاره یې یو مثال پرېښودو -
څه اووېمه جمالې .... چې ستا دا قدم ګني خودکشي وه -
ستا دا انتقام ګني ګناه وه .. ته نه زه ستا دې قدم ته، دې
انتقام ته خودکشي نشم وئیلے - تا خودکشي نه ده کړې -

جمالي بيو خودکشي نه ده کړې - جماله خو شهيده ده - شهيده - ځکه
چې هغه مور وه - هغې دا هر څه د مورولی د جذبې نه د د پرې
مجبوره تيا د کبيله کړي دي - د زوے .... د ظلمي زوے ناګهاني
مرګ د هغې دماغ مفلوجه کړې وه - هغه ئې پوښتنې کړې وه...
څوک څه خبر دي چې ديوې مور په زړه کښې د اولاد د پاره د مينې
او محبت څه جذبات وي څوک نه دي خبر چې يو مور په خپل
اولاد څومره مينه وي ..... او چې څوک نه دي خبر نو را دې
شي د جمالي بيو د پوښتوب ته دې ځان خبر کړي - د هغې په انتقام
دې ځانونه پوے کړي، او بيا دې دا فيصله او کړي چې د هغې
دا انتقام کښې خودکشي وه ؟

جماله! زمونږ د کلي يوه سپين سرې بوډۍ - زمونږ د کلي يوه
غيرتې پښتنه بوډۍ - د دغې بوډۍ ظلمے زوے وُ چې
لونګ ئې نامه وه - رونړه د لونګ د ژوند قصه به درته نه
کوم - د دې خبرې د کولو هم څه ضرورت نشته چې لونګ
مور څنګه لوے کړے وُ - په څه شو اخونږ ئې لوے کړے وُ - جمالي
ته لونګ په غېږ کښې يتيم پاتې شوے وُ - او د خپل ګناهتون
دا ۲۵ کاله دې صرف د لونګ په دراښه کړي وُو - پردي
خدمتونه ئې کړي وُو - په دې طمعه چې لونګ به مې خدائے
لوے کړي - او زما ټول ارمانونه به او رژوي .... د جمالي
په زړه کښې ارمانونه ټوټ په ټوټ پراته وو - او کله کله به
چې ځان له ناسته وه نو د ارمانونو تنسته بوده به ئې را برابر - ولله

او یوه ورځ هم داسې د تصوراتو په دنیا کښې د ورکې جمالې ترغوږو دا آواز راغلو "لونګ په سینه کښې ډوب شو" ..... دې آواز د جمالې د نیا د سترګو په رڼا کښې درې ورې کړه - د مور د پاره دا آواز د شین آسمان تند روچې په جمالې راګوزار شو -

رونړو! زړه درته د جمالې د هغه چې واره چغو - هغه د لیونو په رنګې ترکوره او ترکوڅې لیونۍ لیونۍ منډې هغه چې په مخ سر وهلو ئې راباندې کړې - هغه چې کسړوان ئې څیرې ویرې کړو - هغه چې د سر ویښته ئې په موټو موټو اوشوکول - دا ټوله نقشه درته په الفاظو کښې نشم بیانولے - ځکه چې ماسره دومره درد په لې الفاظ نشته چې د هغې د سپړو سپړو کوکارو نقشه پکښې راځائے کړم - ماسره داسې په غم لړلې الفاظ نشته چې د جمالې غم ته ئې وراغوندم - ماسره دومره حوصله هم نشته چې زړه درته د هغه وخت او هغه موقعې حالات په زور زړه تېر کړم -

یو زړه جمالې ته اووے چې راشه ته هم سینه ته ټوپ کړه چې د زوے سره ستا هم د لاش هډو پته اونه لګي - چې د لونګ سره سم ستا غوښې هم د سینه کبان اوخوري - چې مور او زوئے دواړه په یو رنګ مرګ مړه شو - خو جمالې د زړه نه تپوس اوکړو چې زما دا عمل به د لونګ سره د مینې او همدردۍ دپاره کښې د اظهار حق اداکړي؟ او دا حق که اداشي نو زما

په زړه کښې چې د انتقام کوم اور بلېږي دا به کله سوړ شي؟ نه دا اور داسې نه سړېږي. دا اور به صرف د انتقام په ذریعه سړېږي. او نن ... زه د دې کلي د خلقو په مخکښې قسم خورم چې زما لونګ په اوبو کښې مړ شو زه به پس له دې نه تر مرګه پورې د اوبو څاڅکے د حلق نه تېر نه کړم .... جمالي قسم اوخوړ. او دَ دې قسم نه پس دَ لونګ مور دَ اوبو کټورے شونډو ته نږدې نه کړو. ورځې تېرې شوې، هفتې تېرې شوې خو د جمالي د حلق نه د اوبو څاڅکے تېر نشو. ژبه ئې داسې اوچه وه لکه لرګے. لکه دَ سادېږ لوټه .... آخر تر کومه پورې. خلقو ډېر کوشش اوکړو چې جمال له یو ګوټ اوبه اوڅکي خو جمالي نه دَ چا منت منلو او نه زارې ..... آخر تر کومه پورې ...

تر کومې پورې به غمژېلې مور دَ تندې مقابله کوله؟ تر کومه پورې به دَ خپل قصد پوره کولو د پاره دَ ژوند سره په پړزولو وه. آخر حوصلې جواب ورکړو. دَ حالاتو د مقابلې د پاره توان ختم شو. د ژوندون علامې شروع شوې. جمالي حق ته ستر ګې اونیولې نو په داسې حالاتو کښې، دَ مالت بیوې زنانه دَ اوبو جام دَ جمالي شونډو ته اونیوو ..... خو دَ لونګ مور د اوبو جام له ټیله ورکړو. او په ستر ګو ستر ګو کښې ئې دغه ښځې ته اووے چې ..... زما په غېږ پورې خندا مه کوه زما دَ انتقام په لاره کښې ازبکي مه پېدا کوه ..... پرېږده چې زه خپل قسم پوره کړم. پرېږده چې زه خپل انتقام واخلم ....

او چې څو لحظې نورې تېرې شوې نو جمالي خپل قسم پوره کړو. جمالي خپل انتقام پوره کړو. مرګ له غاړه غړې ورغله خو څاڅکے اوبه ئې دَ حلق نه تېرې نه کړې. او هغې د اوبو نه ذخپل لونګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدل واخستو -

(اسو پلے) اے دَمیانو ورا منو څهٔ پوے شوی ؟

دَ مور مقام درته معلوم شو ؟

دَ مور زړهٔ درته معلوم نهٔ شو ؟

لږ په خپلو ګرېوانو نوکښې سر ونه ښکته کړئ او د خپل

هغې عمل جائزه واخلئ کوم چې تن صبا زامن دَ میاسندو

سره کوي -

اے دَ ځوانۍ په نشه مستو زلمو تېر مهٔ کوئ کو رے دَ

مور سره ضد ونه قصد ونه مهٔ کوئ - مور مهٔ خفه کوئ -

مور مهٔ ژړوئ - دَ مور د خفګان سره به درنه الله خفه شي

دَ مور په ژړا باندې عرش په لړزان شي .... دَ مور ډېر

لوئے مقام دے ډېره لویه درجه ئې ده - دَ کومې مور دَ

پښو لاندې چې جنت وي نو د هغې درجه او مرتبه کښې

د هر چا نه اوچته نشوه .... ؟ مور ډېره مقدسه هستي

ده - او ددې مقدسې هستۍ عزت او احترام په هر

اولاد باندې لازم دے - بلکه فرض دے - او کوم اولاد چې دا

فرض ادا نهٔ کړو نو خپل آخرت ئې خوار کړو - خپل ځان ئې

دَ دوزخ د طبو حقدار کړو -

# اوښکې

(اسوېلې) روستي پاروُ - مُلا لا بانګ نهٔ وُ وېلې - ټوله دنيا په
خوږهٔ خوب اوده وه .... چُپه چُپيا او بوګنوونکې خاموشي
..... نهٔ د سپو غپاں او نهٔ د چرګ چغهو آواز - کله کله به د يونيم
چرګ آواز به دې خوشې بېله ياګښې تر لرې لرې پورې خور شو
او زما د ويرې نه خور ووس زړګي به په څهٔ قدرې راغونډ
شو .... د اوبو وارې وُ - يُوم په اوګه پښې ابله پښې
تُند تُند پښې ته روان ووم - لا درا ته سمه نهٔ ښکارېده - په
خپل دليل تلم ... چې لوېږي اديرې ته ورسېدم نو ......
څه فرياد غوږو مې تر غوږ و شو .... او فرياد .... ..... زړهٔ
بوګنوونکې فرياد - د پښو لاندې نه مې مزکه اوتښتېده - زړهٔ
مې په درزېدو شو - په ځايې اودرېدم - کلېمې مې په ځان چُف
کړې - بابا کان مې را اولړزول - په دې اديره کښې زهٔ څوا
عالم
هم څو څو ځله ويرېدلې يم - دا ډېره درنه اديره ده - دلته غيب
ډېر زيات دي .... ځکه خو چې ما فرياد واوُرېدو نو رېښندي
واخستم - د کرکېنې شاته کېنېناستم او غوږ ونه مې د فرياد په
لوري اونيول ..... فرياد ..... د ښځې فرياد معلومېدو - د زړهٔ
ځل نه راوتې فرياد .... په هر فرياد کښې بې شمېره طوفانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکاریدل. ما داسې محسوسوله چې لکه په دغه وخت کښې د اديرې کانې بوټې ونې غنې هر څه په فرياد وو. داسې معلومېده چې لکه شپه دا فرياد نور نشي زغملے نو ځکه داسې په منډو منډو مخ په وړاندې روانه ده او د صبا ستورګه د دې فرياد د اورېدو د پاره په بوګنېدونکو قدمونو رو رو ساينولې راروانه ده.....
زه هم هغه شان غلے ساه را نښکلے د کرکښې شاته ناست وم. شپه ساعت تېر شو. رڼا رو رو را خورېده. په خواوشا جماتونو کښې د سحر بانګونه شروع شول. خو زما په ښپو کښې لا هغسې دم نه و..... چې رڼا ښه را خوره شوه نو رو رو په آرام د فرياد په لورې روان شوم.... فرياد اوس کم شوے و. څه ګورم چې د يو قبر د پاسه يوه ښځه په سره جوړه کښې چې لاسونه ښپې ئې په نکريزو سره وو نوره وره پرته وه. زړه مې يو درزا وکړو. په سترګو مې تياره راغله..... دا؟ دا خو د شيرين قبر دے. د ځوانې مرګ شيرين. د نيمه خوا شيرين. د مور پلار د اکې يو زوے شيرين. هغه شيرين چې تېره شپه ئې د وادهٔ ډولۍ کور ته راوړلې وه. چې مور پلار ئې په وادهٔ د خپل زړهٔ ارمانونه رژولي وو.... هغه شيرين چې د جانانې د يو نظر کتو د پاره ئې په کلونو انتظار کړے و...... نن هغه شيرين د جانانې د يو نظر کتو نه مخکښې په دې خوشې بيابان کښې د خاوړو د دې څلې د لاندې په خوابهٔ خوب اوده دے. ما ته سمد ستې د شيرين د وادهٔ شپه را په مخکښې شوه. څومره خوند و د شيرين په وادهٔ کښې.... څومره په خوشحالۍ

خوشحالۍ سره د شیرین ډولۍ راوړلې وه او بیا د وادهٔ په شپه
هغه تر تېر ماسختنه پورې شیرین په حجره کښې د دوستانو سره
ځومره خوندناک ګپ لګولے وُ - او بیا مونږ هغه کورته په تلو
مجبور کړو - چې څهٔ څوک یې ستا په انتظار کښې وي .... شیرین
مُسکے غوندې شو او کورته روان شو - په تُند و تُند و قدمونو
..... د هغه کورته ډېره تادي وه - د هغهٔ په زړهٔ ډېرې خبرې
وې چې جانانې ته یې کول غوښتل - څهٔ ګیلې هم وې او څهٔ مانې
هم - څهٔ وعدې هم وې او څهٔ لوظونه هم - ډېرو خبرو - ډېرو
سوالونو او ډېرو تپوسونو د هغه په زړهٔ کښې دغ دغ جوړې
کړے وُ - هم په دغه سوچونو کښې هم په دغه فکرونو کښې د جانانې
د دیدن خوږې تلوسې یې په زړهٔ پورې ځغستې نیولے روان وُ، چې
شیرین خپل منزل ته ورنږدې شو - چې خپلې کوټې ته ورنږدې شو -
نو ناګهانه درې ډزې اوشوې - هلته په ورومبۍ ډز شیرین پرمخې
راپرېوتو - جوړې د زړهٔ په سر لګېدلے وُ - د هغه زړهٔ په سر چې
کوم د جانان د دیدو د پاره ناقلاره وُ - چې کوم په دغه وخت کښې د
مینې محبت د جذباتو ته لبرېز وُ، د هغه زړهٔ په سر شیرین اولګېدو -
او چې د ځُجرې خلق وررسېدل نو هغه یوه آخرنۍ سلګۍ اووهله
او په دغه سلګۍ کښې هم د هغه په شونډو د جانانې نوم وُ - ......
شیرین ساه ورکړه - د زړهٔ خبرې په زړهٔ کښې پاتې شوې - نهٔ یې
د جانانې مخ اولیدو او نهٔ یې ورته د خپل زړهٔ خبرې اوکړې .....
د شیرین مور لکه د لېونو لامنډې کړې - پلار یې سرتور سر -

او پښې ابله پښې دا غلو .... او .... جماله؟ جماله هم په سره
جوړه کښې پښې ابله پښې او سرتور سر د شیرین سرته ولاړه وه
د جمالي سپین په مزکه پروت ؤ په مرګ ئې هم په شونډو مسکا خوره
وه - لکه چې جمالي ته وائي چې « اے نادانې پېغلې خندا کېږه هم -
په دنیا کښې د چا ټول ارمانونه نشي پوره کېدے ..... دغه
یو ارمان مو بس ؤ چې پوره شو - او ته په سره دولۍ او سره
جوړه کښې زمونږ کره راغلې - او نور ..... ؟ نور ملاقات به په
جنت جهان کښې کوؤ - کوم ځائے چې نۀ غم شته او نۀ مصیبت -
کوم ځائے چې نۀ قصد شته او نۀ حسد - کوم ځائے چې د دوو مینو
تر مینځه څوک دېوالونه نشي ودرلے» ..... جماله غلې ولاړه وه ....
ټول کلي د ځوانې مرګ

شیرین په ناګهانه مرګ د غم اوښکې تویولې - خو جماله غلې وه -
د مزکې غبر ختو خو د جمالي نه .... دغې په سترګو کښې اوښکې نۀ
وې .... حېرانه وه چې دا څۀ وؤ او څۀ اوشول؟ دا زۀ کوم ځائے
وم - کوم ځائے ته راورسیدم او په کوم ځائے کښې پاتې شوم ..
او غونډۍ په مزکې کښېناسته - د شیرین په وینو لړلے سرئې په
خپل پټون کښېښودو - څو ګنګه سونګه کښېناسته ..... پکار ده چې
په دغه وخت کښې جمالي په ډېر ډېرو ژړلے وے - پکار ده چې د
شیرین په وینو لړلے مخ جمالي په خپلو ډېرو ډېرو اوښکو وینځلے
وے خو ..... د جمالي په سترګو کښې چې اوښکې نۀ وې نو څۀ مخې
ژړلے هم نشو ..... او چې څۀ وخت شافی بیو او دې چې جماله

سپېره ده، دومره سپېره چې دوې سره د شیرین د پاره دود او ښکې هم نشته .... د جمالې په زړه تیاره راغله ... یوه تېره کړیکه ئې اووهله او بې هوشه په شیرین را پرېوته .... د شیرین مور پلار ناوې جماله د لاس پښو نه اونیوه او یو خوا ته کټ کښې ئې ور واچوله -

رونې! چېرې د غم ساعت وُ.... سمه د قیامت شپه وه - سباله ماښکر چې کېږي و نو د شیرین جنازه پورته شوه - د ځوانې مرګ شیرین جنازه - د مور پلار د اِکې یوزوئے جنازه - دیوې شپې د زلمي جنازه .... مور پلار ئې وزه خوله ژړل - هرچا ژړل - ټول کلي ژړل - نو جماله .... ؟ جماله هم هغسې ګونګه سونګه وه - جنازه پورته شوه ... شیرین خاورو ته اوسپارلے شو .... قبر ئې جوړ شو او هم هغه ګوره ځمکې په قبر اوغوړولے شوه.... خلق د کېس زوړ نه سرو نه کلي ته واپس راغلل -

او اوس .... ؟ اوس دا هغه دیوې شپې ناوې جماله ده چې بېګاه ئې ټوله شپه د شیرین په قبر تېره کړې ده - زهٔ ورروان شوم - ماوے چې راپورته ئې کړم او ورته اووایم چې اے د اکې "یوې شپې ناوې" خه بس دے کورته لاړه شه -

"مرې چا دي ژوندي کړي په ژړا"

خو چې زهٔ ورنزدې شوم نو جمالې لکه د لېونو د قبر سره خبرې کولې .... "شیرینه - بې وفا شیرینه! دومره خبرې دې هم را سره او نهٔ کړې او لاړې - دا وه ستا هغه مینه؟ دروغژنه چې مینه دې

بیا لیلې نشوه نو لا فې دې څخه له کولې؟ بې وفا دومره څو به را ښکاره شوې وې چې د واده په څهره کښې خو مې لید لې قدرله وې نیمه خوا زلمیه داسې ذر سرور شوې - زړه سپېره دې چا ته پر پښودم -

شیرینه ماخو د خان سره د ارمانونو یوه لویه دنیا راوړې وه - ماخو خان له د خوشحالو یو لوی محل جوړ کړې وو - بې وفا څنګه دې د سترګو په رپ کښې زما د ارمانونو دنیا ورانه ویجاړه کړه -

شیرینه! یو دوه خبرې راسره اوکړه صرف دوه خبرې چې دا زړه مې په لږ غوندې ډاډه شي - ستا دې د ښکلو ورده په دغه څهره قسم وي کومې چې اوس ستا په قبر غوړېدلې دي - ستا دې زما د پښتو لاسونو په نکریزو قسم وي شیرینه چې دوه خبرې راسره اوکړه - دوه خبرې - دوه ... جمالې یوه سلګۍ اووهله اود سلګۍ سره دیوې شېبې ناوې خه بخه وه - او چې اومې کتل نو په سهو کښې ئې دوه غټې غټې اوښکې لکه ملغلرې اویزان وې - ( راسو پلے )

رونو ډېره دردناکه ننداره وه - زړه مې غوښتل چې په چغو چغو اوژاړم زړه مې غوښتل چې لا ړشم شافیه ببو راولم او ورته اوښایم چې جماله سپېره نه وه - راشه اوګوره د جمالې د سترګو نه اوښکې راتوې شوې داسې اوښکې چې ته له اډېره ئې اولېږدوله، داسې اوښکې چې قیامتونه پکښې پټ وو -

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چپې

لکه چې نن سیند بیا په غورځنګ وُ - شل کاله وړاندې له چې کوم سیلاب راغلے وُ او دکوم سیلاب یوې چپې چې ملاله ځان سره راوړلې وه - لکه چې هغه سیلاب نن د هغې په سینه کښې بهېدو او د سترګو نه ئې روان وُ -

دَ دوُو میاشتو ماشوم ناجوړه زوئے دَ ملالې په غېږ کښې پروت وُژړېدو - د ډېر ساعت نه ئې اوچې سلګۍ وهلې ځو اوس دا سې غلے شوے ښوندې وُه ملاله نهٔ دَ ځان د حاله خبر وه او نهٔ دَ زوئے د حاله - په مزکه ئې پرلت وهلې وه او زوئے ورته په غېږ کښې پروت وُ - د ملالې کړېوان پرانستے وُ - ببېر سر - خېر نه ښځه - دا سې معلومېده چې لکه دَ ملالې کړېوان هغه ځوُول پرانستے وي - کوم چې دَ سحره راسې د هغې په سینه کښې اوتو - خدائے خبر چې په هغه خبره کښې څهٔ وو کومه چې کلدېن نن سحر هغې ته کړې وه - اوکومه یه چې کله هم هغه ملالې ته اوکړه - نو دَ هغې زړهٔ یه ئې ناقلاره کړو - د هغې د نیا به ئې تتاره کړه - باران - سیلۍ او طوفان به را غلو او د ملالې دَ سترګو نه به روان شو - دَ ملالې قرار - صبر او هغه لږ

ډېره تسلّي کوم چې دَ ماشوم زوے په وجه دهغې زړهٔ
ته وه. هغه هرڅهٔ به دَ سترګو په رپ کښې په طوفان
کښې لاهو شو. خو ګل دين دَ هرڅهٔ نه بې پرواه دَ افيمو
په نشه کښې نيم ويښ او نيم اوده وُ. هغه دهيڅ نه
نهٔ وُ خبر. ګل دين موچي وُ. په کلي کښې به ئې دَ زړو پېزار
مرمت کولو. دَ افيمو نشې دَ هغهٔ نه په ځوانه ځوانئ
کښې بوډا جوړ کړے وُ...... ملاله په پښغلتوب دَ
ګل دين د شکي طبيعت او سخت مزاجۍ نه خبره وه. اوکله
کله به چې د کلي پښغلو دګل دين د سخت طبيعتئ ذکر
ملالې ته اوکړو نو هغه به ورته مُسکۍ شوه او
جواب به ئې ورکړو چې خېر دے دَ وادهٔ نه مخکښې هر
ځلمے داسې وي اوچې وادهٔ اوکړي نو بيا ...... بيا به
کهٔ خېر وي هرڅهٔ سم شي ...... او دَ وادهٔ نه پس څهٔ
موده ګل دين سم دم وُ.. دَ ملالې سره ئې ډېر ښهٔ تعلق
وُ. خو رو رو هغه بيا په زړهٔ لاړ روان شو. سپکې سپورې.
سنغې خبرې او رټل. هروختې په نهٔ څهٔ خبره بدې
ردې وېل دَ ګل دين عادت شو. او يوه ورځ خو ئې چې
ملاله په نهٔ څهٔ خبره راګيره کړه او وې وهله نو دګلدين
په دې زياتې دَ ملالې زړهٔ ته لويه صدمه اورسېده...
او بيا دا څهٔ يوه ورځ نهٔ وه بلکې وهل او ټکول دَ ملالې
تقدير شو. دې ټولو نارامو ته ملالې غاړه ايښودلې وه.

دا هر څه هغې زغمل څو ..... یو دا خبره ؟ دا خبره هغې
نه شوه زغملے دا هغې نه شوه برداشت کولے .... هغې دا
منله چې هغه په ماشوم والي سینه کښې د سیلاب یو چې
چپې د ځان سره راوړلې وه - خو هغې دا یقین وو چې
هغه .... "هغه" نه وه څه چې ګلدین وائي .... ملالې د
ګلدین دا خبره نه شوه زورېدے - او هر کله به چې هغه
ملالې ته دا خبره اوکړه نو د ملالې به د خپل ځان نه هم
زړه توره شو او د ګلدین نه به هم ورله کرکه ورغله .....
په دې اکښې شک نشته چې د ماشوم د پېدا کېدو نه پس د
هغې مینه روس تقسیم شوې وه - د ګلدین زور زیاتے چې د
ماشوم زوے په مینه کښې را نغښتلې وه - خو د دې باوجود
هم د ګلدین دا خبره نه د هغې د پاره ښه وه نه د ګلدین
د پاره او نه د هغوي د ماشوم بچي د پاره ښه وه .......
هر څو که د ملالې د ګلدین سره هغه هومره مینه نه وه نکه
چې مخکښې وه خو ..... بیا هم خاوند خو چې وو کنه ؟ ملالې نه
غوښتله چې خاوند ورته څه داسې خبره اوکړي چې هغې له
پرې د خپل ځان - خپل خاوند او د خپل ماشوم زوے درې
وارو نه کرکه ورشي - خو هغه بېوسه وه ، هغې خاوند
نه شو منع کولے - ملاله به د ګلدین نه دومره ویرېده چې
د هغه په مخکښې به ئې په زوره ساه هم نه اخسته ......
نن سحر هم هغه چې د کوره وتو نو په نه څه خبره ئې په

ملالۍ دا یاندې کړې ښه چې اووهله او په تلو کښې چې د
ریښې غوټې تېرې ده لمحه کښې اووے ‹‹ حراموني ›› او د
دې تکې په اورېدو د ملالۍ په زړه هغه تیاره را غله
کومه چې دیر طوفان د را تلو نه اول راځي .... ګلدین لاړو
د کوټې نه اووتو - او ..... طوفان را غلو .... سپېلې ب
را غلو - کوم سیند چې د ملالۍ په سینه کښې غورځنګونه
وهل هغه د ملالۍ د سترګو نه روان شو .... چپې چې
وهلې ..... د سحر نه ما ځیګر شوځو طوفان د کمېدو یا د
اودرېدو نوم نه اخستو ..... کېدے شي چې دې چپو هغه
لاهو کړے وے - ځو په دې کښې چې د دروازې د لړې کېدو
آواز تر غوږ وشو .... د ملالۍ د زړه درزا په زیاتېدو شوه -
د هغې خیال وُو چې جوړ موچې ګلدین را غلو، او خدائے خبر
چې ولې نن د هغه راتلو کښې ملالۍ ته خپل مرګ ښکارېدو
.... ځو .... جوړ هغه نه وُ دروازه هوا لړې کړې وه - په
کور کښې ګوټ روبڼه نه وې - د جالې سره فکر شو چې د هغه
د را تلو نه مخکښې د سیند نه یو منګے اوبه راوړي
نو بیا به کټے شي ..... هغې ماشوم زوے په ژړا په کټ
کښې پرېښودو او منګے په سر د کوټې نه اووته د واده نه
پس دوه کاله اوشول چې ملاله هم په دې لاره سیند ته د اوبو
دپاره ځي راځي .... نن خدائے خبر چې څنګه چل وُو چې منګے په
سر په دې لاره اوبوله روانه شوه نو خپل پښتو ب ورته

را مخکښې شو. په پېغلتوب هم ملاله څه مالداره نه وه.
ولې بیا هم دا لاره داسې شاړه او داسې سپېره خو نه وه.
دوه کاله آګاهو به چې ملاله منګے په سر د نورو جینکو سره
په دې لاره روبوله تله نو خپل ځان ورته دومره بې وسه
او مجبوره نه ښکارېده، ځکه چې د ګلالین خیال او د
ګلالین سره د ژوندون د پسکی په تړلو هڅې ته ځان د
نورو همځولو جینکو نه ډېر ښسته من او ښکاله ښکارېده
خو هغه ټول خیالونه او خوبونه څونن دروغ ثابت شول..
....دا ولې؟ او دا ولې؟ په جواب به ملالې لاسوچ کولو چې
مخامخ سند ښکاره شو. چُپ چاپ غلے غلے.... او خاموش
خاموش به ېده .... ملالې زر زر په تادۍ منګے ډک کړو او
په تُند و تېز قدمونو کورته راروانه شوه او چې کورته را غله
نو ماشوم بچوړې ډېر ژړلي وُو. ځکه چې اوس یې د ژړا په
ځاۓ اوچې سلګۍ وهلې .... ملالې منګے په کړو بج
کېښودو. ماشوم یې راوا خستو خپلې سینې ته یې راجوخت
کړو او یوه اوږده ساه یې وا خسته. د ماشوم سینې ته به
رانږدې کولو د هغې زړهٔ ته ډېر اطمینان اورسېدو. هغې
داسې محسوسوله لکه چې د هغې خور وور زړهٔ را ټول غونډې
شو ماشوم هم داسې ملالې په خپلې سینې پورې نیولے وُ
چې په دې کښې ګلالین موچي د پښو دو لچه په لاس په کوڅه
را ننوتو. او د راتلو سره یې په مړاوي آواز اووے......

درنز کار نهٔ وُ ډاغلے - بس دومره پیسې مې کټلې وې چې ځان له مې اېښم او د چا ښو د پاره مې دا پیسې دا وړل ""

ګلډین په دالان کښې خپل د موچې توب د سامان صندوقچې کېښودو او د پیښو دو ولچه ئې ملالې له ورکړه او ورته ئې اووے چې زهٔ حجرې ته لړ ځم چې راشم نو بیا به چائے څښم ..... ملالې دو ولچه د ګلډین نه واخسته په جارګې ئې کېښوده او بیا ئې ماشوم په غېږ کښې واچولو او د سوچونو او فکرونو په سمندر لاهو شوه ..... په دې کښې پښتو راغله د پیښو دو ولچه ئې پرېمخې د جارګې نه راګزارکړه ..... پسې توئے شول او د ملالې سره غم شو چې اوس به څهٔ کوم - اوس به چائے د څهٔ نه پخوم - اوس که ګلډین راغلو او خبر شو چې پسې د مزکې خوراک شول نو هغه خو به ما مړه کړي - هغه خو به په دې تېر ما سختن ما د کوره اوباسي - او چې د کوره مې اوباسي نو زهٔ به چرته ځم - زهٔ به کوم خوا ته ځم - زهٔ به د چا کوره ځم -

وخت په منډه منډه روان وُ تېرېدو - ملاله هیڅ په حساب نهٔ پوهېده چې څهٔ چل اوکړي ... په دې کښې ئې خپلې سینې ته پام شو - ماشوم تا جوړه وُ تقوله ورځ کښې ئې سینه نهٔ وه څښلې ..... سینه ئې ډکه وه - د ملالې سینه ډکه وه ..... هغې هډو نورې سوچ اونهٔ کړو خو دو ولچه ئې راواخسته او زر زر ئې دواړه سینې په

دوړې ئې کښې تښتي کړې - پښتې ئې په نغري سوره کړه ....
او په څه ساعت پس چې گل دین د ځبرې نه را غلو.... په
کټ کښې کښېناستو نو ملاله په مړو مړو قدمونو لاړه - پیالې
او چاے جوش ئې راواخستل او گلدین ته ئې په مخکښې کېښودل -
گلدین پیالې ډکوله او پیالې به ئې تشوله - ملالۍ په کښېنه
سترګه گلدین ته کتل .... د هغې زړه غوښتل چې را پاسي او
د گلدین د خولې نه پیالې راوشوکوي او ورته ووايي چې
گلدینه مه کوه .... دا څه کوې - دا چاے مه څښه دا چاے
چې په کومو پیسو کښې پخې شوي دي هغه پیسې په تا حرام
دي - خو .... ملالۍ له به دومره زړه چا ورکړے وے - دا
ټولې خبرې که د هغې زړه غوښتلې نو هم کولے نو ئې نه
شوې کنه .... د هغې په زړه یوه تیاره تله راو بله
راتله .... سوچ ئې کولو چې دا څه وو او څه راپېښ
شو - دا نوي غمونه کښې لږ وو چې دا نوے غم ئې د خپله لاسه
خپل ځان له راپیدا کړو ..... ساګ ترې نه سېلۍ اوړے
و - ماشوم هم د لوږې د لاسه الوان بلون کولو - په ژړا
ژړا ئې زړه ستړے شو - گلدین ډېر صبر اوکړو خو آخر
صبر ئې تمام شو - او په سختۍ سره ئې ملالۍ ته اووے ...
څه له ئې ژړه وې پیسې ورکړه کنه".... پیسې؟ پیسې درکړم
د څه پېره ورکړم .... دا سینې ته ئې واچوه کنه!....
په سینه کښې څه دي - تا چې کوم پیسې راوړلې وو هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښو ټوټې کړل - او ماتاله چاپې د خپلې سينې په ښو کښې
پټې کړې - هغه ګلدين د کټ نه را ټوپ کړو - څنګه د کټ
سره نژدې ښخته پرته وه - هغه ئې را اوچته کړه او چې را
خطا ئې کړه نو ملاله خو څه شوه خو د ماشوم د سرنه يوه سره
داره د ملالې په مخ خوره وره لاړه .... ماشوم اول يوه
تېره کسرېکه او بيا يې څو سلګۍ ووهلې او غلې شو - ملالې
د زوې د سرنه د وينې دارې چې اوليدې نو بې هوشه په
مزکې پرېوته - او ګلدين ؟ ګلدين را پاسېدو - ملاله ئې د
څو ښتقې نه اونيوه را اوچته ئې کړه - د هغې مخ په وينو
لېت پېت وه او په داسې حالت کښې ګلدين ورته اووې چې
يو - دوه - درې - ته په ما طلاقه ئې - څه او څه د دې
کور نه چې کوم څوا دې خو بنه وې لاړه شه ..... او ملالې
خپل ماشوم زوې را پورته کړو او نېغه سيند ته را غله -
په سيند کښې سېلاب را غلې وُ - سيند په غورزنګ وُ چپه
به راتله او چپه به کښېناسته ... په دې کښې يوه چپه
را غله - د نورو چپو نه لويه ډېره لويه - او ملالې
ته داسې ښکاره شوه چې لکه د غه چپه د دې مور وي هغه
مور چې دې ليدلې نه وه - چې د هغې په سينې دې چرې
لوبې نه وې کړې - دې داسې محسوسه کړه چې د غه
چپې خپله غېږه خوره کړې ده او ملالې ته وائې چې اے
د دنيا غمونو ځپلې لورې را څه چې زه دې په خپله

غېږ کښې ځای ورکړم او ملالۍ خپل زوی په سینې پورې کلک له
نیولی د غه چېچې ته ځان او سپارلو او د غه لویې چېچې ملا
په خپلې غېږ کښې و اخسته او لاړه په قلاره شوه - او ملالۍ
د ستړي ژوند د ستومانو نه د تول عمر د پاره خلاصه
شوه -

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اِنسان اوُ انسانیّت

(اسو پیلے) ..... دَ دې دنیا په څنګ ډېر داسې زړونه شته چې

ډېرو غمونو پیکنې تنهاکې جوړې کړې دي -

ډېر داسې انسانان شته چې دَ هغوی زړونه

د ډېرو غمونو دلاسه

سُوري سُوري او غار غار دي -

ډېر داسې پلاران شته

چې په ژړا ژړا یې سترګې کوغالو ته پرېوتې دي -

ډېرې داسې میندې شته

چې په ژړا ژړا یې دَ سترګو تور په سپین بدل شوي دي -

ډېرې داسې تورسرې شته

چې د خپل ځوان خاوند په ناګهانې مرګ یې ځوانۍ دَ خاورو

سره خاورې شوې ده - چې ارمانونه یې په اورستي شویدي-

څو په ژړا دچا قسمتونه چرې نهٔ دي بدل شوي -

مړي چرې په ژړا نهٔ دي ژوندي شوي -

ارمان چې دَ ګلاب غوندې ښکلو او نباتشته ځوانۍ مرګانو

دَ خپلې بودۍ مور

دَ خپلې زړهٔ چاودې مور دَ خپلې غم ژبلې مور دَ زړهٔ سره -

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړهٔ د تل نه راوتے فریاد اورېدے شوے
هغه فریاد چې عرش ئې په لړزان کړے وهٔ -
چې فرښتې ئې هم په سرو سترګو ژړولې وې
ارمان چې د ګلاب په رنګ شهیدانو څو
د پلار د سترګو نه داروان هغه سېلاب لیدے شوے کوم
سېلاب چې د سترګو په رپ کښې جهانونه غرقولے شي، کلي او
ښارونه ورانولے شي -
ارمان چې د ګلاب په رنګې
ښېمه څو ژشاه زلمو څو د خپلو کوندو توره سرو
هغه سلګۍ اورېدے شوې
چې کومې سلګۍ د اورېدونکو په زړونو کښې زخمونه او
پرهرونه جوړوي -
اے د خپلې مور د سترګو توره ګلابه
ته کښې د خپلې غم ژړلې مور فریاد نهٔ اورې
اے د خپل پلار د زړهٔ ټکوره ګلابه -
ته کښې د خپل بوډا پلار د سترګو نه روان
د رنو رنو اوښکو سېلاب نهٔ وینې
اے د چا تورسرې د ژوند ملګرې په ګلابه ته د خپلې تورسرې
د پرهر پرهر زړګي نه د زخمي زخمي زړګي نه راوتے فریاد
نهٔ اورې -
اے بے غمه ګلابه د غه سلګو څو ټول کائنات په لړزان کړے دے

دغه فریادونو څو عرش په لړزان کړے دے .

دغه د پلار د سترګو اوښکے څو کانړي زړونه هم اوبۀ اوبۀ
کوي اوشۀ ......؟

تۀ بیا هم غبر نۀ کوې،
تۀ بیا هم خاموشه شونډې پروت يې!

ګلا به خدائے ګواه دے چې تا څو به د پردو په سترګو کښې اوښکې
نشوې لیدے .

خدائے ګواه دے چې تا به د خپلې مور په تندي کښې د خفګان
ګونځې نۀ شوې لیدے .

تۀ به د پردو پلارانو دپاره د داد وې
تۀ څو به د پردو تورو سرو دپاره دلاسه وې
نو بیا اوس ؟
اوس ولې دا سې غلے پروت يې
اوس دې ولې دا سې د صبر څادر رغوستے دے ؟

اے د بې غمۍ په خوابۀ څوب اُودۀ شهید د سردا پورته
کړه او اوګوره چې غمونو او خفګانونو دې د مور په تندي
کښې څۀ څې په ټول مخ کښې يې کندې کپرې جوړې کړې .
ستا څو بڼ پلار څو هم ستا غم په خپل ناتوان زړۀ بوردې څخت
نیولے دے . په هرځا ستا ګمان کوي
د هرچا په مخ کښې ستا نقشونه لټوي
څو ګلا به !

(c) ketabton.com: The Digital Library



اے ښکلیه ګلابه !

ستا د تندي د نقشونو په شان نقشونه موندل خو ګرانه

خبره ده - ناممکنه خبره ده -

ځکه چې ستا د تندي نقشونه خو

د رحمت فرښتو په خپل لاس جوړ کړي وو

نو ستا پلار خو د ورکي په تشکل کښې دے - او په دې تشکل

کښې ئې د هر څه جائزه واخسته هر تندي ته ئې ښه په

غور او کتل د هر انسان جائزه ئې واخسته

خو ګلابه ستا په رنګې څه د بل چا نشته

خو ګلابه ستا په رنګي تندے د بل چا نشته

ستا په رنګي نقشونه هډو د بل چا کېدے نشي

نو ځکه زهٔ درته دا وایمه چې ستا پلار به

ستا د تندي د نقشونو ارمان د ځان سره قبر ته یوسي -

زهٔ دا منم چې مړي چرې په ژړا نهٔ دي ژوندي شوي

کهٔ مړو د پلار کو نهٔي ملا چرې پېدے شوے

کهٔ مړو د مور پر هر پر هر زړهٔ چرې کتے شوے

کهٔ مړو ته د خپلو تور سرو ښځو ګرېوان او بېرسرونه نیکاره

کېدے شوے نو د مور فریادونو به ګلاب وختي را ژوندے کړے وُ -

د پلار د سترګو نه روان د اوښکو سېلاب به ګلاب وختي

د قبر نه په راوتو مجبور کړے وے خو ګلاب په داسې خوب

اوده شوے دے چې هغه د پلار د سترګو نه د اوښکو روان

سیلاب نهٔ وینې - چې هغهٔ ته د خپلې تور سرې څېرې کړېوان
او بېره سره نهٔ ښکاري - چې هغه خپلې خوږې مور له د یوې څېرې
جواب هم نشي ورکولے - ارمان چې ګلاب صرف دوه خبرې د مور سره
کړے وے .

چې د مورې تسلي شوے وے
چې د مور ناقلاره زړهٔ ته لږ په قرار شوے وے

ګلابه ستا مور ستا په قبر باندې هره ورځ څهٔ د دې د پاره ژړېږي
نهٔ څکوي چې کني تهٔ دې د قبر نه راپاسې او د دې د زړهٔ دا ورا
و یجاړ کنډر کور دې بیا آباد کړې ستا مور دا هم نهٔ غواړي چې
تهٔ دې بیا زړے ماځیګر مُسکے مُسکے په کوټه راننوځې او د
مور زړهٔ دې دریاندې بیا را ټول شي .

ګلابه ستا مور هم لکه د نورو میندو په رنګ مور ده
ددې هم په زړهٔ کښې بس اکې یو ارمان دے
یو داسې ارمان چې د پوره کیدو نهٔ دے
تو څهٔ اوکړې د خپل زړهٔ نه مجبوره ده
د خپلو جذباتو او احساساتو نه مجبوره ده
ډېره مجبوره ده .

ځکه خو هره ورځ ستا قبر ته ناسته وي
ژړا هم کوي او فریاد هم
دُعا هم کوي او تپوس هم
چې ګلابه پکیه سر دا پورته کړه

او مال د دواؤ، صرف دَ دواؤ خبرو جواب راکړه -

نو بیا اوده شهٔ خپر دے

بیا درسره زهٔ دا لوظ کوم

چې بل تپوس به درنه نهٔ کوم

بیا به دې دَخوب نه نهٔ راویښوُم

بچیه صرف دومره قدر له راته اووایه

چې په ګولۍ، دَ زړهٔ دَ سر د پاسه څو نهٔ وے لګیدلے هن ؟

تهٔ خوږ شوے څو نهٔ وے هن ؟

چې تا سلګۍ وهلې نو خپله مور دې یاده کړې وه ؟

تا دا وئیلي وو چې " وئ مورے مړ شومه "

تا نه مور زار شه بچیه ! تا زما انتظار ولې نهٔ کولو

مرګ ته دې داسې تادې وه چې خپله مور هم درنه هېره وه -

په دومره اوږد سفر داسې بې تپوسه لاړې -

تا خو به دَ مورنه دَ تپوس نه بغیر بهر قدم هم نه اخستو

کلا به ! سر را پورته کړه . بچیه

دا ټول حالونه راته په یو ساه اووایه

نو بیا خپر دے اوده شه

زهٔ درسره دا لوظ کوم چې بیا به ستا مور

ستا په قبر اوښکې نهٔ څڅوي -

زهٔ درسره دا وعده کوم چې بیا به

ستا مور ستا په آرام کښې خلل نهٔ اچوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا به ستا مور د نیل خدای نه دا سوال کوي
چې ما هم تا سره سلګرے کړي - او د لته
تا سره نزدې - ستا په څو ازکښې او ده شم
چې زه هم را شم او په دې خوشې بیابان کښې - د مړو په دې قبرستان
کښې تا سره څو ا په څوا اوده شم - او چې دا سې اوشي، چې ما هم
خدای مړه کړي، چې زه هم تا سره په ځنګ کښې ښخه شم - نو زما
زړه ته به څو مره تسلي اوشي - اوُ ستا څوک ووزړه به هم زما
په را تللو دا تهول غوندې شي - کنه ګلابه .... ؟
زویه ! په دې خوشې بیابان کښې - په دې تکو تورو شپو کښې
په دې سیلو ګلو او طوفانونو کښې - په دې غمو په دې تمرونو
کښې څوک دا سې یو اځې پیښېږو نشي ......
رونو - څویندو رونو ! د ګلاب د ژوند دردېد لې قصه به
دا وخت نهٔ چېږم . د هغه د شهٔ سرې توپ یا نه به هم دا
وخت نهٔ اړوم - د هغهٔ د ځوانۍ صفتونه به هم نهٔ کوم دا
خبره به هم ورېږدم چې ګلاب په خپله سینه کښې د یو انسان زړهٔ
لرلو - یو داسې زړهٔ چې پیکښې د هرچا د پاره د مینې محبت او همدردۍ
نه سیوا بل څهٔ نهٔ وو -
زهٔ صرف دا تپوس کوم چې بیا ولې د یو پښتون د تماچې نه وتې
ګولۍ، د دغه څو ندرې انسان په سینه کښې سرې شوې -
بیا ولې یو تش د نامې پښتون را پاسېد او اوُ د دې عظیم
پښتون او عظیم انسان په پاکو وینو ئې خپله لمن داغدا ره کړه -

د ګلاب غوندې انسانان هم ګني د داسې عمل لائق وي د ګلاب غوندې
پښتون سره هم ګني څوک داسې د کرکې او نفرت نه ډک سلوک
کوي ..... ؟

اوه ..... ! ډېر داسې ناپوهه پښتانه شته - ډېر داسې د
ناپوهه پښتانه شته چې هغوئ د بد ګمانو اوښکو په څرسیلاب
کښې لاهو شي او د ګلاب غوندې د ښکلو او خوږ خوږو انسانانو
په وینو خیږې منګولې سرې کړي -

ته پوهېږم چې دا لا کومه پښتو ده - دا لا کوم غیرت دے - زه
خو د داسې خونړو دے اقدام ته پښتو نشم وئیلے زه خو د دغه
ظالمانو دې حرکت ته غیرت نشم وئیلے - داسې قدم خو د پښتو او پښتون
دپاره پېغور دے - دا حرکت د بُزدلۍ او بې غیرتۍ یو ژوندے
ثبوت دے - ځکه چې ګلاب انسان وه ..... بني آدمان خو د دې
مزکې په مخ بې شمېره دي خو انسانان پکښې د شمېر دي - نو د
یو انسان وژل خو د انسانیت وژل شول -

ته پوهېږم چې دا خلق ظالمان، انسانان ولې وژني ؟
اے ناپوهو پښتنو انسانان مه وژنئ ..... انسان کورے ډېر
په مشکله پیدا کېږي .... د یو انسان نه په لکهونو بني آدمان
قربان شه - د یو انسان نه په لکهونو بني آدمان ټوټے شه -

رونړه دغه عظیم انسان - دا د پاک زړه خاوند - دا د مینې
محبت او شرافت مجسمه ګلاب ..... د تن نه څلور کاله اګاهو
یو ورځ ..... د ماښام په څره کښې .... ستړے ستومانه په تندو

ټټر و قد مونو د ښارنه کورته راروان وُه - داسې معلومېده
لکه چې د ګلاب ټن کورته ډېره تادي وه - خدائے خبر چې څه
چل وه خو ټن د ګلاب زړه ډُځه بې واره غونډې درزېده و - په
سوچونو او فکرونو کښې ورک ګلاب وے چې څومره زر چې کېدے
شي چې کورته اورسم ...... او څه وخت چې د کور کښې شهید
ته راورسېده و نو ...... درې ډوبې ډزې اوشوې درې
ګولۍ د تماچې د شپېلۍ نه راووتے، او د ګلاب په سینه کښې
ښخې شوې ...... ګلاب راپرېوتو ...... ګلاب یو څو لتې
او تکولې - ګلاب یو څو فریادونه اوکړل - او بیا ...... بیا د
مور نیازبین روئے یوه سلګۍ اووهله او د همېش د پاره
غلے شو - ...... کلي ته خبر لاړو - خلق په یو څو راوچلېدل -
ټول راغلل - واړه - زاړه ښځې او سړي ټول راغلل ......
په دغه ښځو کښې یوه د ګلاب مور هم وه - دغه مور سرتور
سر او پښې آبله پښې داسې کو ټټې را روانه وه لکه چې د ملا
تېر ئې مات شوے وي ...... او واقعي چې د ګلاب د مور د
ملا تیر د تماچې درپو ګولو درې ځاینه چپ چور کړے وُه ...
مور راغله - خپل نیازبین روئے ئې چې په وینو کښې ککړ
اولیده و نو ...... رونو هغه نقشه زۀ نشم بیانولے داسې
الفاظ زما سره نشته چې زۀ د ګلاب د مور د ښونتوب حالت پکښې
احاطه کړم - ډېره دردناکه موقعه وه ډېره بوکنونکے لمحه
وه - ...... د ګلاب مور لکه د لېونو بې واره او بې اختیاره چغې

او وهلې .... لويو ژړل ماشومانو ژړل. ښځو ژړل - هرچا ژړل ...... خو په ژړا څوک چرې مړي نۀ دي ژوندي شوي - مور د خپل زوئے، په وينو لړلے سر په خپل پښتون باندې ايښود لې وه - او په ژړا کښې ئې د ګلاب سره داسې خبرې کولې ..... زما ځواني مرګه ګلابه تا خو څۀ جُرم نۀ وُو کړے چې ظالمانو درله دومره لويه سزا درکړه - تا خو چې څۀ ليدلي وو هغه دې په عدالت کښې ويئيلي وو - چې څه دې ليدلي وو هم هغه ګواهي دې ورکړې وه - نو د حقې وينا کښې دومره لويه سزا وي"......

رونړو ! د ګلاب مور اوس هم ژوندۍ ده - د ګلاب تورسرې بچي بچۍ او د ګلاب بوډا پلار اوس هم ژوندي دي څلور کاله د ګلاب د مرګ اوشول - په څلور کاله کښې په دې کور کښې بيا د چا په شونډو خندا خوره نۀ شوه هغه ورځ شوه او دا ورځ شوه چې د ګلاب د مور د سترګو اوښکې اوچې نشوې د پلار فريادونه او د ګلاب د تورې سرې آهونه ساړۀ نۀ شول -

خو اے د ګلاب پاکې مورې او ښکې دې اوچې کړه - اے د ګلاب نيمه غلېه پلاره فريادونه دې په قلار کړه - او اے د ګلاب پښتنې تورسرې آهونه دې بس کړه - ګلاب مړ نۀ دے ..... بنيادم مړکيدے شي خو انسان نشي مړکيدے - ګلاب انسان وۀ - يو داسې انسان چې چا د دنيا خلقو له - د دې کلي او مالت خلقو له د انسانيت سبق ورکړے دے - ګلاب پخپله يوه مينه وه - يو محبت وۀ يو خلوص وۀ، نو مينه او محبت چرې هم نۀ مري -

خلوص او شرافت هیڅ کله نهٔ مري ......

. ښتورې دي هغه مېنه ده چې د ګلاب په رنګ زامن يې زېږولي دي. ښتوردي هغه پلازانې چې د ګلاب غونچې زامن يې لوی کړي دي. ښتورې دي هغه تورسرې چې د ګلاب غونچې د ځوين انسان د ښتنتۍ توب نوم ورپورې دی ..... او څنګه ځوزهٔ دا وایم چې ګلاب ژوندی دی. هغه به ژوندی وي تر هغه وخته پورې چې تر څو پورې کډې کلي کډې علاقې په پښتون هم ژوندي وي. او اې شهیده ګلابه د شهادت دا لیه مرتبه دې مبارک شه ځوانان دا ایمان دی چې تهٔ ښکوا خپله خدای په خپلو رحمتونو کښې نغښتلې یې. نو اې خدایه ښښلیه ګلابه جنتونه دې مبارک شه.

---

# دوه یاران

عَلَمه یو تر بل ځاریږئ ~

دنیا فاني ده مېلمانهٔ دي صورتونه

او دنیا فاني ده د دنیا صورتونه د ساعت ګړي مېلمانهٔ دي
هیڅ پته نهٔ لږي چې ساعت له څهٔ شي ګړي له څهٔ شي - هیڅا ته
نهٔ ده معلومه چې زهٔ به ترصبا پورې ژوندے یم او که نه - ترصبا
پورې څهٔ چې دا هم چاته نهٔ ده معلومه چې زهٔ دا ساه، یو ځل
په خوله او باسم نو چې دا به بیا زما وجود ته واپس هم راشي کنه
نو..... څومره بې اعتباره دے ژوندون ؛ ځکه خو هوښیارانو
تپه کړې ده چې ~

عَلَمه یو تر بل ځاریږئ

دنیا فاني ده مېلمانهٔ دي صورتونه

خو راځئ چې لږ د دنیا د حالاتو جاج واخلو، د دې خلقو اندازه
لږه واخلو - راځئ چې اوګورو چې دا د دنیا خلق تر څومره حده
پورې دیو بل نه قربانیږي - څومره کسان دي چې زړونه
ئې د انسان او انسانیت په مینه کښې ناقلاره دي - څومره کسان
دي چې دَ بل په غم غمژنه دي - او د بل سره په زړهٔ کښې مینه
محبت او همدردي لري - په سلو کښې یو کس به کني داسې وي، په

زړو کښې به یو کس ګنې داسې وي چې د هغهٔ په زړهٔ کښې د هر چا
د پاره، د نو مې انسان د پاره، صرف مینه او صرف محبت وي؟
..... زما په خیال څو نا ممکنه ده - زما په خیال څو نا شونې ده .....
نشته او نه زمونږ په زړونو کښې مینه نشته، زمونږ په زړونو
کښې همدردي نشته .... مونږ ه دوستي کوؤ، مونږ ه تعلق ساتو،
مونږ ه ورور ولي کوؤ، خو دد غه دوستۍ، د غه ورور ولۍ او د
د غه تعلق مزے دومره کچه وي، چې صرف "په مهٔ قربان مهٔ وشیږه"
لوظونو باندې او شلیږي - ددې دوستۍ مزے دومره کچه وي چې
په ډیره معمولي خبره هم په منځ دوه ځایه شي -

دا احمد او ګلاب مثال مې په مخکښې دے، .... د ګلاب هغه غار
غار سینه او د احمد هغه مات تخت به مې هېر نشي - او څنګه به مې
هېر شي، که ګلاب په شکل او نامه ګلاب وهٔ، نو احمد هم ترې څهٔ
کم نهٔ وهٔ، دا احمد په زلمي توب کښې هم د کوټې ایښوود ځاے
نهٔ وهٔ .... دا دواړه زلمي همزولي وُو، دواړه د دوه ویشتم کال
په څو کاټ قدمونه ایښودلي وُو، دواړه د یو کلي وُو، د یو کندي
وُو، او دواړه یاران هم وُو، .... شپه ورځې یو ځاے ګرځیدل -
یو ځاے کښېناستل او یو ځاے پاسیدل وُو ..... دواړه نبهٔ دوستان
وُو، ډېر نزدې دوستان ..... دد غه خوږو دوستانو په یو
کونتره جهګړه شوه، صرف په یو کونتره - احمد وے چې
زما په بنیره ناسته وه او ګلاب وے چې زما په بنیره ناسته
وه ..... خبرې کړ مې شوې ..... او د غه ګرمې خبرې ګرمېدې

کرېږدي چې جهګړه ترې نه جوړه شوه، او په دغه جهګړه کښې احمد
دومره تاو وا خستو چې لاړو کور ته ټوپک ئې راوړو ..... او خپل
خوږ دوست، د چوتي يار، هغه چې شپه ورځې به يو ځائے کښېدل،
د هغه ګلاب په لړمون کښې د غوګين غبرګې ګولۍ سرې کړې او ګلاب
لکه د چوړلندي او چوړلېدو، په زمکه راپرېوتو او لکه د حلال کړي چرګ او پرپړېدو
.... لاړو احمد د يوې کونترې دسره خپل دوست قربان کړو .... د ګلاب مور
سر توره را غله .... په زوئے راپرېوته ..... د ګلاب خوېندې په
ژړا اشکولا راغلې، په ګلاب راپرېوتې دَ ګلاب ماشوم دور دَ
دنيا د حالاتو نه ناخبره دَ ګلاب سرته ولاړ وهٔ. او په ماشومه خوله
ئې لالا لالا کول. ماشوم څهٔ خبر وهٔ چې لالا د کونترې په تس
کښې لاړو. د خپل دوست دلاسه ..... ارمان دے چې د غه وخت خو
دا مزکه چاودلې وے، ارمان دے چې د غه وخت خو د آسمان نه کاڼي
ورېدلې وے، خو .... نهٔ مزکه او چاوده، او نهٔ دَ آسمان نه کاڼي
او ورېدل خو په چا چا به مزکه چوي. په کومه کومه واقعه به
د آسمان نه کاڼي ورېږي. دا کښې صرف ګلاب وهٔ چې خپل دوست
د زړهٔ په سر او ويشتو، نه ..... دا سې ډېر ګلابان احمد يانو د زړهٔ په
سر ويشتلي دي او لا به ډېر احمديان راپاسي او ډېر ګلابان به دَ
يوې کونترې دَسره زاره وي، ... نو ځکه خو نهٔ مزکه چرق
چوي او نهٔ د آسمان نه کاڼي ورېږي .... لاړو ګلاب د دنيا ته
تېر شو، .... ځواني ئې خاورې ايرې شوه ..... مور هم ورله دَ وادهٔ هغه
جوړه راوا خسته چې کومه به ګلاب دَ وادهٔ په پانګ اچوله .... او

هم هغه د وادهٔ کوله لګنګی ئې ورته په سرکړه چې په کوچې باندې به
دهٔ دَ وادهٔ څهره تړله ..... دَ ګلاب مړے ، لکه د وادهٔ د زلمي خاوُرو
ته اوسپارلے شو ..... راځئ چې دګلاب د غم داستان د لته پرېږدو
..... پرېږدئ چې دګلاب مور لکه د لیونو د شپې په خوب کښې ګلاب
ګلاب چغې وهي پرېږدئ چې دَ ګلاب خوېندې د دور په قبر خورې
ورې پرتې وي ..... پرېږدئ چې دګلاب پلار د زوئے په قبر هره
ورځ دګلونو نوې نوې څهره غوړوي اوپرېږدئ چې دګلاب
ماشوم رور هم د غسې د لالا لالا دېنګتې غږ وي ..... ګورو
به چې تر څو به دګلاب مور په خوب کښې ګلاب ګلاب چغې وهي . تر
څو به دګلاب خوېندې د دور په قبر خورې ورې غوړېدلې وي
تر څو به ئې پلار هره ورځ دَ زوئے د قبر دپاره نوې نوې څهرې
راوړي او تر څو به دګلاب ماشوم رور لالالا لا کوي . د مرګي مخ سوړ
دے هر قسم زخمونه دَ وخت سره سره پخپله خوله ورولي ......
راځئ چې لږ د احمد خبر واخلو ..... دقاتل احمد د چالاسونه چې د خپل
خوږ دوست په وینولړلے شوي وو چاچې د څلورو روپو د کونټ دپاره خپل
یار وژلے وُ . د غه قاتل احمد پولیس اونیوُو ........
...... لاړه مقدمه شروع شوه ، د دنیا ورځې قصه وه ، په دریمه
پیشۍ کښې احمد شیشن شو . او شیشن احمد ته د پهانسۍ فیصله
واوُروله . اوُ احمد د پهانسۍ په کوټه د ننه کړے شو ..... د لویو
لویو فولادي ثمبو شاته ، کوم ځائے چې په انسان د دنیا باد هم نهٔ
لږي . په هغه ځان له کوټه کښې ز لیمے احمد چې ایله شونډه ئې شنه
شوې وه ، چې په سرئې لا د وادهٔ څهره نهٔ وه تړلې . چې لا په پالنګ

نهٔ وهٔ اوورېدلې - چې په ډولۍ پسې ئې چالا کلا نهٔ وې ناري کړي،
هغه احمد د پهانسۍ په کوټه کښې بنديوان شو، دَ احمد مور
هم د زوي د څهرې ليدو په ارمان وه، د احمد خوېندې هم دَ
رور دَ ډولۍ په طمع وې، د احمد پلار هم دَ زوي دَ واده خوشحالي
ليدل غوښتل، خو هر څهٔ لاړل تالا تر غه شول، دَ شګو ګوټنې
دَ سترګو په رپ کښې وران شوه،...... احمد په ژوندوني لاړو
.... پلار ئې ډېرې منډې ترړې اووهلې، اپيلونه ئې اوکړل -
رحم درخواستونه ئې اوکړل، خو دَ ګلاب خون احمد ته اونه بخښلے شو،
او د پهانسۍ حکم په ځائے پاتې شو، ..... تاريخ مقرر شو، چې دَ
راتلونکې مياشتې په څلورم تاريخ به احمد پهانسي کيږي - خو احمد
لا اوس هم د پهانسۍ په کوټه کښې په دې انتظار ناست وهٔ چې
اپيل به منظور شي، خو هر کله چې احمد خبر شو، نو د دنيا د ژوند
نه ئې ټوله توجه آخرت ته اوګرځېده، احمد په خپلو کړو پښېمانه
وهٔ، بې شانه ډېر پښېمانه، د هغه نه د ګلاب څهره ديوي لحظې
د پاره هم نهٔ هېرېده - او څنګه به هېرېده؟ ولې ګلاب کښې دَ
احمد دوست نهٔ وهٔ، ..... دوست ئې وهٔ، يار ئې وهٔ، خو ..... دَ دې
باوجود هم دَ ګلاب قاتل وهٔ .....   رو رو دَ پهانسۍ نه يوه ورځ
اګاهو ټول خپل خپلوان د احمد د آخري ملاقات د پاره جېل ته
لاړل .... هر چا ژړل .... هر څوک خفه وهٔ .... او احمد؟ دَ
احمد په وجود کښې ساه نهٔ وه، تک زېړ سکه کورکمان، غونډه سونډه
توره بږيره ئې ساتلې وه، په لاس کښې ئې تسبې وې - څومره ښکلے

ښکارېدو احمد! او ښکلے به ولې نۀ ښکارېدو، آخر ځوان وۀ، زلمے وۀ .... احمد د ټولو نه ښځنه او غوښته، د هر چا نه يې ښځنه او غوښته، او چې زغم يې تمام شو، نو سترګې يې پټې کړې، آوازې يې ودرو شو ..... ټول خلق سرې سترګې د جېل نه راواپس شول... رونو زۀ تا سو ته نشم وېلے چې هغه شپه د احمد مور، پلار او نورو په کوم قيامت کښې تېره کړه ..... توبه خدايه توبه د دشمن مې دداسې شپې نه ساتې - نو مې مسلمان د داسې او زنه ساتې د احمد مور نو ټوله شپه سکه د لپونو وازه خوله اسمان ته نيولې وه، دَ احمد خوېندو نو ټوله شپه آسمان په سر راخستے وۀ، يقين اوکړئ رونو چې په دغه شپه ټول کلي خوب نۀ وۀ کړے .......

خدائے خبر چې په احمد به دا شپه څنګه تېره شوې وي .. چې احمد له څۀ وخت د جېل عمله راغلې وي، د شپې په چپه چپيا کښې، چې ټول عالَم به خوب اودۀ وۀ، چې په دغه وخت کښې دوئ احمد د پهانسۍ تختې ته روان کړے وي، نو چې د غه وخت به د احمد څۀ حال وۀ، چې د غه وخت به احمد قدمونه څۀ رنګ پورته کول، چې د پهانسۍ په تخته به څرنګ ولاړ دي - او چې څۀ وخت د پهانسۍ تختې د کړک سره مخ په ښکته تلي وي نو چې د غه وخت به احمد څۀ وئيلي وي؟ ..... توبه خدايه توبه - يا الله توبه - يا الله اُل اولاد چې د داسې ورځې نه اوساتې - نو مې مسلمان دَ داسې وخت نه اوساتې - آمين - سحر په توره خره د احمد مړے کلي ته راورسولے شو، ..... څټ يې مات وۀ د اَحمد مور سور رومال دَ احمد

دمات ځتې نه چاپېره کړو، زما په خیال چې دا دومال یې مور ساتلی وه،
چې دَ وادهٔ د ښکرېزو په شپه به پرې احمد له پکه کوته کړي - دَ
احمد مور هم زوې ته دوادهٔ جوړه وراغوستوله اود وادهٔ توله
او ګنګرې یې ورته په سر کړل - احمد په کټ کښې پروت وه - په
مخ باندې یې دَ زلمي توب ځنګښې نښانې ځرګندې ښکارېدې -

رونق د احمد مور او خوېندو چې په دغه ساعت، په دغه
وخت څهٔ کړي دي هغه نقشه زهٔ تاسوته نشم بیانولے - الله دې احمد
او ځنګښي ..... زهٔ منم چې هغه قاتل وه، خو دَ انسان نه په غصه کښې
داسې حرکتونه کېږي چې بیا په پښېمانه وي - الله دې کلاب
هم او ځنګښي ځکه چې هغه شهید وهٔ،

خو اے رونق! اے دَ خوانیې په مینه مستو رونق - اے دَ
غفلت په خوب اودهٔ رونق د خدائے خاطر اوکړهٔ چې لږ ساړهٔ شوې -
لږ د حوصلې نه کار اخلئ، د انسان ویشتل د انسان وجل کهٔ هر څو
اسان دي خو انجام یې ډېر عبرتناک دے - د داسې عبرتناک مرګ نه
دې الله تعالیٰ هر مسلمان ساتي - داشئ په دې خپلو زړونو
کښې مینه محبت راپیدا کړئ دَ انسان سره مینه اوکړهٔ چې خدائے
در سره مینه اوکړي چې دین او دنیا دواړه موځائسته شي -

عالمه یوتوسل زادینزئ

دنیا فاني ده مېلمانهٔ دي صورتونه

# تربور

د زړه پرهرونه که په ژړا رغېدې شوې نو ما به د اوښکو په ځائې په وينو ژړلي وې. د زړه زخمونه که په ژړا جوړېدې شوې نو ما به په ډېرو ډېرو ژړلي وو. خو دا زما د زړه زخمونه چې زه يې نا قلاره کړې يم. او دا پرهرونه چې زما د شونډو نه يې خندا راشوکولې ده دا زخمونه او دا پرهرونه نه په ژړا رغېدې شي او نه په انګولا.

ترڅو پورې چې زمونږ په معاشره کښې غلطه پښتو شته. ترڅو پورې چې زمونږ په معاشره کښې انصاف، صداقت او مينه محبت نه وي راپېدا شوې. ترڅو پورې چې يو انسان بل انسان خپلې سينې ته نه وي را نزدې کړې نو زمونږ په معاشره کښې قلارې نه شي راپېدا کېدې. سکون نشي راپېدا کېدې. اطمينان نه شي راپېدا کېدې او دما غوندې حساس طبيعت خاوندان به تل نا قلاره وي. تل به پرېشانه وي او تل به يې په سترګو کښې د غم او افسوس رنهې اوښکې ځليږي. اې لويه خدايه دا انسان ولې داسې بې مينې شو. د انسان د زړه نه هغه مينه او محبت ولې داسې اووتل. انسان ولې په حيواني خويونو کښې داسې راونغښتې شو. انسان خولاړو حيوان شو بلکه په

ځنې موقعو کښې څو انسان د حیوانیت د درجې نه هم راپرېوتو
اے لویه خدایا دا به ترکومه پورې وي انسان د بل انسان
وینې څښي - ترکومې پورې به انسان د انسان په وینو خپل
لاسونه لړي - انسان به د انسان په مرۍ چاړهٔ راکاږي ؟

اے لویه خدایا ته په خپل فضل وکرم سره انسان صحیح انسان کړې -
چې ستا په دې ښکلې او رنګینه دنیا کښې سکون او اطمینان راپیدا
شي - چې دا ښکلې دنیا چې د بد رنګ والي او ګنده والي په لور په
تُندۍ سره روانه ده چې د دې ښکلا قائمه پاتې شي - چې دا دنیا
ستا د مخلوق دپاره د دوزخ په ځائے جنت شي هغه جنت چې هرڅوا
ته پکښې خوشحالي او اطمینان وي - چې هرڅوا ته پکښې مینه او
محبت وي - داسې دنیا چې یو انسان پکښې بل انسان خپلې سینې ته
رانزدې کړي - چې انسان پکښې انسان ته د رور په سترګه اوګوري -
چې یو تربور په کښې بل تربور ته د تربور په سترګه نه بلکه د رور
په سترګه اوګوري تربور زمونږه رور دے - تربور زمونږ
دشمن نه بلکه زمونږ مټې دي - تربور زمونږ دشمن نه بلکه
زمونږ ملاتړ دے - د یو نیکهٔ اولاد هم چرې د یو بل دشمن کیدے
شي - په وینه شریک هم د یو بل وینه تویولو ته تیاریدے شي -
خپله وینه هم څوک تویوي - د خپل رور په مرۍ هم څنې څوک چاړهٔ
راکاږي - د خپل تربور سینه هم څوک په ګولو غارغار کوي
نه ... هیڅ کله نه دا خبره عقل او دماغ نهٔ مني چې یو رور دې
دا پاسې او بل رور له دې په دې وجه په مرۍ زور کړي چې معاشره

هغه له د تربور نوم ورکړے دے - یو رور دې د بل رور په سینه
کښې شپږ ګولۍ ځکه سرې کړې چې معاشرې دغه رور د تربور
په کرکجن نوم یاد کړے دے څو د دې دومره دلیلونو باوجود
هم د دې دومره حقیقتونو باوجود هم زمونږ په معاشره کښې
تربور ته د دشمن په سترګو کتے شي - ولې ؟ ځکه چې تربور مونږ
خپل میراث خور ګڼو - تربور مونږ خپل سیال ګڼو - او پښتون
هرڅۀ زغملے شي خو خپل میراث خور نشي زغملے - هرڅۀ برداشت
کولے شي خو خپل سیال نشي برداشت کولے - او دا زمونږ د تنګ
نظرۍ غټ ثبوت دے - دا زمونږ د ناپوهۍ ژوندے ثبوت دے -
دا خبره د دې ثبوت دے چې زمونږ په زړونو کښې بغض دے - حسد
دے بدګمانې ده - که چرې زمونږ په زړونو کښې بغض او حسد
نۀ وے که چرې زمونږ په زړونو کښې بدګمانې نۀ وے نو مونږ
به تربور ته د دشمن په سترګه نۀ کتل - تربور به مو خپل رور خپل
خوا خوږے او خپل ملاتړ ګڼلو - څو ارمان چې مونږ د حقیقت
نه سترګې پټوو - او زمونږ د حقیقت نه دې د سترګو پټولو عمل
ډېرې خونې ورانې کړې - ډېرې تورسرې ئې کونډې کړې ډېر
ماشومان ئې یتیمانان کړل - او خدائے خبر چې نورې به څومره
خونې د کرکې او نفرت په دې تنور کښې ورتیږي - ځکه څو
ماله ژړا راځي -

د ډېرې مودې خبره نۀ ده - د کلونو خبره هم نۀ ده -
د دوو میاشتو خبره ده چې یوه ورځ چې د ماښکر نمر په زیړېدو

شو - چې ټمرخېل ځغ د تاتړې د غرنه د پناه کولو د پاره په تُندی
تُندې ځغ په قبلې روان وُه - مارغان او کارغان په بېړه خپلو
ځېلو جالوته په الوت وو الغاؤ تلغاؤ ئې جوړ کړے وُه - د مارغانو
په دغه الغاؤ تلغاؤ کښې ملوک خان د جوارو د پټې نه د مېښے په لاس را اُووتو-
په ځولو کښې جب جُوب وُه - په تندې ئې لاس کېښو نمر پرېوتهٔ
ته ئې اوکتل - خدائے خبر چې څهٔ چل وُه نن ملوک خان دېر
ستړے ستړے وُه - په درنو قدمونو د پټې نه را اووتو - لاړو د
لختې په غاړه کښېناستو، اودس چار اندام ئې اوکړو - اوُ هم د
جوارو په پوله ئې د ماښام د مونځ نيت اوتړلو - خدائے خبر چې
څهٔ چل وو څو نن ملوک خان په مونځ کښې د خپل خدائے سره په
خبرو کښې داسې ورک وُه چې دېر وخت ئې وانخستو - او د مونځ نه
پس ئې يوه لنډه شان دُعا اوکړه ... "د خدايا ايمان مې نصيب
کړې" لاسونه ئې په مخ راښکل او ښغ کورته را روان شو - خدائے
خبر چې نن د هغه کورته ولې داسې تادې ده - ولې ئې ماشوم زوئے
سيفور داسې دېر په زړهٔ را اوورېدو - لکه چې دېره موده شوې
وي چې خپل نياز بين زوئے ئې نهٔ وي ليدلے - په زړهٔ کښې ئې
د سيفور سره خبرې کولې را روان وُه او چې د شهيد کنډاؤ نه
را وُ ورېدو نو ناګهانه د پودل خان د تماچې د نلي نه سرې ګولۍ
که ... ي لمبې، اووتې او د ملوک خان په سينه کښې ښخې شوې -
ګولۍ ښخې شوې او ملوک خان هم ښخ شو - هيڅ ئې او نهٔ وے -
چغ ... رله ئې د ځولۍ نه او نهٔ وته صرف دومره قدر له ئې اووے

(c) ketabton.com: The Digital Library



"خدایا ایمان مې نصیب کړې"

ملوک خان ښه ځوان وه - او دغه ښه او ښکلي ځوان د پوردل خان تربور وه - تربور! چې موږ ورته د بېړې بور وایو - تربور چې موږ ئې دشمن ګڼو - د پښتو په لغت کښې تربور د دشمن دوېم نوم دے - حالانکې د خدائے په نیز د انسانیت په نیز تربور دشمن نه دے ورور دے - تربور د بېړې بور نه دے ملاتړ دے - تربور د یو نیکه اولاد دے او د یو نیکه وینه ئې په رګونو کښې ټوپونه وهي - خو د دې دومره نزدې تړون باوجود هم پردل خان راپاسېده او خپل د تره زوے ئې شپږ ډزې اوویشتو - ولې ..... ؟ ځکه چې ملوک خان په ډکه حجره کښې پوردل خان ته خبرې کړې، وې - د بدو چارو ئې منع کړے وه - خبرې ډېرې ښې وې خو کاش ملوک خان نه وے کړے - دا خبرې که بل هرچا پوردل خان ته کړے وے نو خیر وه خو د ملوک خان دا حق نه و چې پوردل خان ته ئې دا خبرې کړے وے - ځکه چې ملوک خان د پوردل خان تربور و - او د تربور خبرو پوردل خان دومره په غصه کړو چې خپله غصه ئې داسې اوویسته چې د تربور په سینه کښې ئې شپږ ګولۍ سرې کړې -

د ملوک خان ماشوم زوے د پلار د راتلو په طمعه کله کور کله کوڅې ته تلو راتلو - نن د سپفوږ هم خپل پلار ډېر ډېر یادېده - ځکه خو ئې داسې بې صبرې کوله - خو ماشوم سپفوږ نه وه خبر چې د هغه پلار د تربور ولې د سره زار شو - تېرماسختن چې د ملوک خان مړے کورته راوړلے شو نو ماشوم سپفوږ د پلار لاره ئې

ته په کټو کټو کښې اوده شوے وه څو په خوب کښې يې اوچې
اوچې سلګۍ وهلې ..... جوړې دغه پاک ماشوم په خوب کښې
دَ پلار د مرګ ټوله ننداره ليده له څکه خو يې په خوب کښې ژړل -
څکه خو يې په خوب کښې سلګۍ وهلې دا سې سلګۍ چې د راويښېدو نه پس هم
په خندا بدلې نه شوې - دَ سپڅور ژوندون يوه سلګۍ شوه دا سې
سلګۍ چې ټول عمر به دَ ده په ماشوموشوندو خوره وي - دَ
ټربورولۍ سلګۍ - دَ کرکې او نفرت سلګۍ - دَ غلطې پښتو او غلط
احساس سلګۍ ... الله پاک دې په مونږ رحم اوکړي - الله پاک دې
زمونږ دَ زړونو نه بغض حسد او کينه او باسي - چې دا دَ ټربورولۍ
په ناولو جذبو کښې ښکار شوے دنيا په مونږ جنت شي - آمين

# وږی بابا

(اسو پلے) دنیا د غمونو کور دے - او.... واقعي چې دنیا د غمونو کور دے، که دنیا د غمونو کور نهٔ وے نو نن به سپفور ماما داسې لیونے سپیلنے نهٔ گرځیدو، نن به سپفور ماما داسې ځیرې گریوان نهٔ گرځیدو، .... مال شته خو د سپفور ماما جامې شلېدلے دي - دولت شته خو سپفور ماما لیونے سپیلنے گرځي - ولې؟ د ولې جواب دا دے چې دولت گورے د هر مرض دارو نهٔ دی، دولت د هر مصیبت علاج نهٔ شي کولے - اے په دنیا مېنو رونړو راشئ د سپفور ماما د حال نه عبرت واخلئ - اے په دنیا پسې ایمان خرڅوونکو راشئ د سپفور ماما د قصې نه سبق واخلئ راشئ او گورئ چې دولت د انسان نه غم نهٔ شي اخستے - صرف دولت انسان له خوشحالي نهٔ شي ورکولے، بعضې وخت په شته دولت کښې هم انسان لیونے شي، په شته جایداد کښې هم انسان بربنډ شي، دخندا شي .... زهٔ تاسو څه نگ پوهے کړم رونړو، زهٔ تاسو ته په کومو الفاظو کښې اووایم رونړو، چې راشئ، اے په دنیا مېنو دولت ته سجدې لگول پرېږدئ ....

دولت ته جنگکړو او سلامونه کول پرېږدئ - د دولت د پاره خپل ایمانونه مهٔ خرڅوئ - خپل اخرت مهٔ خرابوئ د دولت د پاره

خپل ضمیرونه مړه څخرېږي کوئ، ځکه چې دولت هیڅ څښتن نهٔ دے، دولت هیڅ نشي کولے، دولت د انسان نه هر غم نهٔ شي اخستے، هر مصیبت ترې نشي اخستے. هره خوشحالي ورله نشي ورکولے، که دولت او جایداد دا هر څهٔ کولے شوے نو نن به ئې د سپفوړ ماما د زړهٔ په پرهرونو باندې مرهمونه ایښودلي وو، نن به ئې دَ سپفوړ ماما د دردمنلا زړهٔ څهٔ درمان کړے وهٔ ..... څومره لوئے غم غریب ته ورتر غاړه شوے دے - انسان ډېر سخت دے کني نو پکار خو دا وه چې سپفوړ ماما هم هغه تماچه دې خپلې کپړې ته راړولے وے، یا ئې د خپل زړهٔ سرته نیولے وے، چې د خپل زوئے سره دے هم د تور لحد تور او تیارو ته تلے وے، خو سپفوړ ماما نهٔ سرته تماچه رونیوه او نهٔ زړهٔ ته، ځکه چې ځان خوږ دے کنه، ..... ډېر خوږ دے. د مور پلار نه خوږ - د ښځې نه خوږ، او د اولاد نه هم خوږ، که خوږ نهٔ وے نو ...... یوه ورځ کوز ما ځیګر سپفوړ خان دَ پټې نه سترے ستومانه راغلو، ..... لا په کټ نهٔ وهٔ ناست - چې خدائے خپل زړهٔ ورته څهٔ اووے چې نیغ لاړو کوټې ته تماچه ئې راواخسته، په کټ کښې ئې ځان ته کېښوده، او دا ئې خیال وهٔ - چې لږ دمه شي نو تماچه به صفا کوي ډېره موده اوشوه چې صفا کړې ئې نهٔ ده، هسې نه چې زنګ شي ..... سپفوړ خان غریب څهٔ خروهٔ چې ..... په دې کښې دَ سپفوړ ماشوم زوے شکوړ راغلو ..... ر بابا [illegible] د تماچه [illegible]

څهٔ کے ځئ؟» ..... په دې به دزې کوو بنه» ...... «لاکه چې زهٔ
په دزې اوکړم» ...... نه چې چې تهٔ لوئے شې نو بیا به پرې
دزې کوې بنه» «نا مالا اوس لاکه زهٔ پرې اوس دزې کوم»
..... «درته وېم چې لوئے شې نو بیا به پرې دزې کوې» ...
«هن هن مالا اوس لاکړه»
«درته وېم چې مړ کوه ورانے»
«نا زهٔ به پرې دزې کوم»
«نهٔ منع کېږې؟ کهٔ ورانے کوې نو او به دِلم»
اوٌ سپفور خان تماچه راوخسته، د هغهٔ دا خیال وهٔ چې تښته
ده او د زوئے د ویرولو دپاره یې هغه ته اونیوه - او په دې کښې
دز شو، .... ماشوم پرمخې راپرېوتو او د راپرېوتو سره یې چغه کړه
«وی بابا بیا به نهٔ کوم» .... ماشوم لکه د حلال کړې چرګ
په مزکه اولوغړېدو، مور یې رامنډه کړه .... او سپفور هم په
وینو لېت پېت زوئے د مزکې نه راپورته کړو، خپلې سینې ته یې
رانژدې کړو، .... ماشوم په وار خطا سترګو د پلار مخ ته اوکتل،
او په سترګو کښې یې پلار ته اووے چې ..... «بیا به
نهٔ کوم بابا، زما دې توبه وي بابا - پام چې بل دز اونهٔ کړې
بابا» ..... او یوه سلګۍ یې اووهله .... او د دغه سلګۍ سره
ماشوم شکور د پلار په غېږ کښې یخ پخ شو - مور یې په مخ
راباندې کړې، د سرو ښتهٔ یې اوشوکول، جامې یې تار تار
کړې - او سپفور خپل ماشوم زوئے هم هغه رنګ په سینې پورې

نیولې وه .... حق حیران وه چې دا څه وو او څه اوشو -
دا سې معلومېده چې لکه سپفور څکه ماشوم زوئې په سینې پورې
نیولې دے، چې دا خپله ساه دَ هغهٔ په وجود کښې داخله کړي -
سپفور دا غوښتل چې زما د زړهٔ حرکت دې بند شي خو چې د شکور
ماشوم زړهٔ بیا په ټوپونو شي، .... سپفور غوښتل چې زما
سترګې دې پټې شي خو چې دَ سپفور د نښې رڼې او خوږې
خوږې سترګې بیا اوغړیږي - خو نهٔ د سپفور د زړهٔ حرکت
بند شو، او نهٔ د شکور ماشوم زړهٔ بیا په ټوپونو سر شو .... نه
د سپفور سترګې پټې شوې، او نهٔ د شکور د نښې رڼې او
خوږې خوږې سترګې بیا اوغړیدې .... سپفور شکور ښکل
کړو، په دواړه مخه ئې ښکل کړو، په دواړو سترګو ئې ښکل
کړو، .... دَ سپفور خوله دَ شکور په سرو سرو پاکو وینو
سره شوه .... دا سې ښکاریده چې لکه سپفور د شکور وینې
څښلې وي، دَ خپل خوږ زوئې وینې، د خپل نیازبین زوئې وینې
.... او دلته دَ سپفور زغم تمام شو، حوصله ئې ختمه شوه یو
سپېره کړیکه ئې اووهله - جامې ئې اوشکولې او لاړو په کوڅه
اووتو .... سپفور لېونې شو نهٔ د شکور د جنازې نه خبر شو
نهٔ دَ شکور قبر له راغلو، نهٔ ئې شکور لحد ته کوز کړو او نهٔ
ئې په لحد کښې د شهید او نیازبین زوئې مخ اوکتو، سپفور ماما
چې هغه لېونې دے، نو لا خدائې خبر چې تر څو پورې به لېونې وي...
په لاروکوڅو کښې به ګرځي - شلېدلې جامې سر تور سر- پښې ابله پښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بالکل چپ خاموش، پټې سترګې زور ړند سر، لکه چې د څه په تلاش کښې وي، لکه چې څه لټوي.... اوُ! سپفور ماما د څه په لټون کښې دے .... د سپفور ماما نه شکور ورک شوے دے - ماشوم شکور، نیازبین شکور ماشومان نه ورکیږي، تل ورکیږي - او بیا را پیدا کیږي، .... خو اے بد قسمته سپفور ماما، شکور به پیدا نهٔ شي۔ شکور په دا سې لار ورک شوے دے، چې د هغه لارې ورک شوي چرې بیا واپس نهٔ دي راغلي، هغوي بیا نهٔ دي پیدا شوي۔ نوتهٔ څهٔ له زوړ ړند سر او تیتې سترګې کړې، تهٔ ولې داسې سروهلے بروهلے کړې - ترکومې پورې به کړې .... اے بد نصیبه سپفوره - اے بد قسمته سپفوره، زهٔ څهٔ او وېم چې تهٔ څومره بد قسمته يې..... ستا لاسونه د خپل ماشوم زوئے په وینو لړلي شوي دي؛ تا خپل نیازبین زوئے په غړېدلو سترګو په خپل لاس وژلے دے؛ ځکه تهٔ لیونے شوے؛ ځکه تهٔ داسې سروهلے بروهلے کړې ؟

اے رونړو! اے پښتنو رونړو! دا تاسو دومره بې احتیاطه ولې يئ، داد وسلې سره تاسو داسې لوبې ولې کوئ - دا د وسلې نه تاسو څهٔ جوړکړي دي، چې هرڅا به يې يو سیپار غاړې ته اچولے وي، چې هرچا به يې يو او دلنړوئے په اوږه کړے وي - او هر د تماچې او ټوپک خاوند به کوڼ کوڼ په نخره وګرځي - د شرافت معیار ګڼي تماچه او ټوپک شو - د موتبرۍ معیار ګڼي وسله شوه،

مهٔ کوئ رونړو بې ضرورته وسله مهٔ ګرځوئ - هیڅ ضرورت نشته چې هرڅوک د ځان سره وسله ګرځوي - څومره خوښې دې ټوپکو

تماچو ورانې کړې - څومره تورسرې ئې کونډې کړې، څومره کلې ئې دکلي کېدو نه اکاهو اوړتوپي - نو اے دوسلو خاوندانو دخدائے خاطر اوکړئ او وسلې سره لوبې مهٔ کوئ - ځکه چې وسله د پس پې اعتباره څیز دے -

او اے سپفوره ماما خدائے دې ستا دې غمژپلي ژوند خاتمه اوکړي - الله دې تاله صبر درکړي - او الله دې ستا دا ښونتوب په خوږتوب بدل کړي - دنیاد غمونو کور دے دلته غم شته - مصیبت شته - پرېشانی شته، او ددې غم - مصیبت او پرېشانی علاج نهٔ ستا دولت کولے شي او نهٔ ستا جائېداد - په عقل ستاد رنځ علاج کړان دے - هغه چا تپه کړې ده چې -

ے

دخدائے په لوئے کرم به کېږي

ن

په عقل کرانه ده زمادجانامینه

# اَحمد

(اسوېلې) احمده خدائے ګواه دے چې ستا په سترګو کښې د اوښکو سېلاب دَ انسان زړهٔ اوبهٔ اوبهٔ کړي - زهٔ څهٔ اوکړم، کهٔ دا غم دا غښتو وے نو ما به درنه څهٔ قدرې کم کړے وهٔ ...... کهٔ زما وس کېدے نو ما به ستا دې پرهرپرهر زړهٔ له ټکور ورکړے وهٔ - ما به پرې ملهمونه او پاهې ایښودلے وے - ما به ستا د زړهٔ دا سېپړې سېپړې سرېکې لږې قلارې کړې وې ..... خو څهٔ اوکړم .... زهٔ هیڅ نشم کولے .... ځکه هغه سوزې چې اور پرې بلېږي .... زړهٔ هغه خوږېږي چې پرهرونه پکښې جوړ شوي وي .... سترګې هغه ژړېږي چې د زړهٔ تسکین او آرام ئې چالو تښلے وي .... ته څومره بد قسمته ئې احمده! ..... ستا په بد قسمتۍ خو ماله ژړا راځي ....... چې ته ژاړې نو خدائے شته چې ما ته دا خیل زړهٔ وائي چې زهٔ هم درسره په چغو چغو اوژاړم - ...... ځکه چې ستا غم زما زړهٔ هم ناقلاره کړے دے .... زما دَ شپې خوبونه ئې هم زمانه راشوکولي دي ..... زهٔ منم چې آفتاب ستا زوے دے .... زهٔ منم چې آفتاب ستا د زړهٔ ټکړه وه .... زهٔ منم چې آفتاب ستا د اُمیدونو مرکز وهٔ، ځکه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا مشرے زوے وهٔ ..... د ټولو نه مشر ..... تا د آفتاب سر د
څومره خوارۍ کړې وې - څومره شوا خون دې ورسره کړے وهٔ
..... او اوس ؟ اوس ایله ستا د اوګو نه پېټې لږ سپک شوے
وهٔ ..... اوس آفتاب تا نه ستا غمونه په خپلې ماشومې څټې اخستې
وُو ..... آفتاب د پرورا ن وهٔ کنه ؟ د پر شوخ وهٔ کنه ؟ .......
تا به د هغهٔ نه همېشه سرتېکولو کنه ؟ .... ولې بیا هم چې د کله
نه د هغهٔ شونډۍ شنه شوې وه ، نو ستا د ملاتیں مضبوط
شوے غونډې وُو .... تا په خپلو مټو کښې طاقت غونډې محسوسولو
.... ځکه چې آفتاب ستا مشرے زوے وهٔ .... او مشرے زوے د
مور پلار د ملا تیں وي ..... خو نن ستا د ملاتیں مات شوے، نن
تهٔ بیا خپلې مټې کمزورې محسوسے .... ځکه چې آفتاب ستا د
سترګو تور آفتاب ...... د وخت نه اکاهو .... تهٔ غمونو او
مصیبتونو ته یو اخې پرېښودې .... لاړو آفتاب په ټول عمرې
خوارۍ د خوب اوده شو، او تا ته ئې یو نهٔ هېرېدونکے غم .... یو نهٔ
قلارېدونکے درد .... یو نه ختمېدونکے مصیبت پرېښودو..... احمدهٔ!
ستا غم که هر څو نه هېرېدونکے دے، خو دا غم به تهٔ هېره وې .....
ستا درد که هر څو نهٔ قلارېدونکے دے، خو دا درد به تهٔ په خپل
همت او په خپلې حوصلې قلاره وې ..... تهٔ به دې غم ته غاړه
غږېدو ورځې .... تهٔ به دې درد له سینه په سینه ورځې ..... تهٔ انسان
ئې .... تهٔ مسلمان ئې ..... انسان د هر مصیبت مقابله کولے شي ....
مسلمان هرې سختۍ ته غاړه بدي ..... راځه روره راځه .....

(c) ketabton.com: The Digital Library



د آفتاب د قبر په خاورو ژوبلګي مه تویوه ..... د آفتاب قبر ته ژړا مه کوه ...... پرېږده چې دا ظلمي شهید ..... پرېږده چې دا ماشوم شهید د دنیا د لانجو نه بې غمه د جنت په رنګینو کښې د آرام او اطمینان ژوند تېر کړي .... دا پاسه .... راځه ...

رورو! دا احمد زموږ د کلي - زموږ د چم کاونډیانو یو نرے نرۍ چکے کمزورے سړے دے ..... خو دې نرۍ نرۍ چکي انسان له قدرت ډېر همت ورکړے دے - په دې ماندہ هډوکو کښې لویه حوصله او لوئې زغم پروت دے .... د احمد د ژوند نور حالات به پرېږدو - زاړه واقعات او زاړه حالات به نه زیاده وو..... خو د نن نه پنځلس ورځې اګاهو د دې احمد مشرے زوئے آفتاب سحر وختي په سائیکل سور د کور نه خوشحاله خوشحاله مدګر وسره سکول ته روان شو .... تېر له ورځې په سکول کښې سبق ووئیلو او ماسپخین پاؤ باندې یوه بجه د سکول نه چهټي شو ..... په سائیکل سور د کلي په لور راروان شو ..... د تېرې ورځې سبق د آفتاب مخ مړاوے کړے وه ..... په خپل ترنګ کښې کور ته روان وه ..... په خپل فکر کښې د کور په لورې روان وه ..... خدائے خبر چې دغه وخت به د آفتاب په زړه کښې کوم خیالونه او کوم فکرونه په غورځنګ وو......

خدائے خبر چې دغه وخت له آفتاب په زړه کښې څه کرل او څه ریل .... خو چې د مېچني پهاټک ته ورنږدې شو.... چې د خپل کلي او کور نه لا دوه میله لرې وه ..... نو د مخې نه یو ټرک تکه داجل په صورت د آفتاب مخې ته راغلو .... او چې ماشوم آفتاب د ځان د

حاله خبرېده و خبرېدو ..... نو دغه ځوړي ټرک لکه دیو مست
هاتهي بیا د خپلو پایو د لاندې چخړې کړے وه ..... یو درز
اوشو او په دغه درز کښې یوه نرۍ غوندې کړېکه یوه زړه
بوګنوونکې غوندې کړېکه راپورته شوه ..... څومره هیبت
وه په دغه کړېکه کښې څومره درد وه په دغه کړېکه کښې
..... توبه خدایه توبه ..... دغه کړېکې څو د ځواؤ شا موجود
خلقو زړونه هم په لړزان کړل ..... خلقو را منډې کړې او
چې آفتاب له راورسېدل ..... نو ماشوم شهید په خاورو کښې
غړېدو ..... په وینو کښې لت پت خپل خدائے ته رسېدلے و
..... د ماشوم آفتاب سر د ځوړي ټرک پایو چخړې کړے
وه ..... هرچا دا نقشه اوکته هرچا دا زړه بوګنوونکې ننداره
اولیده ..... د هرې سترګې نه اوښکې څڅېدې هرچا ژړل ...
او آفتاب! ماشوم آفتاب د دنیا او د دنیا د اوسېدونکو د حاله
بې خبره په خاورو کښې پروت دے ښکارېده و چې لکه مسکے وه
تا به نه وے چې آفتاب مړ دے ..... تا به نه وے چې آفتاب
یو بې پرواه دراېور د خپل ټرک د پایو د لاندې چخړې کړے
دے ..... پلار ته خبر لاړو چې را شه ستا آفتاب ټرک اووهلو
..... مور ته جواب لاړو چې راشه ستا د سترګو تور تا نه د ټول
عمر د پاره جدا شو ..... پلار پښې آبله پښې را منډې کړې
..... او مور ..... ؟ د مور په زړه تیاره راغله ..... مور بې هوشه
شوه ..... مور دغه غم برداشت نه کړے شو ..... مور دغه سپېځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اواز او نه زغملے شو .... مور بې هوشه، د ځان د حاله بې خبره
کور پرته وه، او پلار سرتور سر او پښې ابله پښې د خپل زوئ
دکټو د پاره په منډه را خلاص وه .... رونړو هغه نقشه درته نشم
بیانولے - د انسان زړه د دغه نقشې د لیدو او اوریدو توان
نه لري - لاړو د احمد د سترګو تور د ټول عمر د پاره جدا شو...
شهین خاورو ته او سپارلے شو.... مور ډیرې وینا کانې وکړې ....
ډیرې چغې او سورې ئې اوو هلې - خو مړي په ژړا چرې نه دي
ژوندي شوي - د احمد د زړه د نیا ورانه شوه، د آفتاب د
سور د زړه د نیا ویجاړه شوه ..... چا ویجاړه کړه؟ .... د ټرک
دیو د ډرایور لږې غونډې بې احتیاطي ..... د ټرک د ډرایور
لږ غونډې غفلت یو کور وران کړو .... د یو پلار د ملا تیر ئې
مات کړو .... د یو مور د زړه په سرکښې ئې زخم جوړ کړو....
څومره کورونه د ټرکونو او لارو د ډرایورانو وران کړل .... څومره
کلونه ئې اوړژول ..... څومره کلي ئې د خاورو سره خاورې کړې
...... اے رونړو ولې! .... دا ولې داسې کوئ .... دا ولې د زړونو
آزارونه اخلئ .... دا ولې میندې بورې کوئ پلاران ژړوئ ....
دا ولې تورسرې کونډې کوئ .... دا ولې د تور سرو څونې ورانوئ...
مه کوئ رونړو مه کوئ - اے د ټرکونو او بسونو خاوندانو د
خدائے خاطر اوکړئ .... لږ روښئ لږ په قلار چلئ - داسې په هوا
مه الوځئ .... د خپلې لږې غونډې فائدې د پاره تاسو څومره
لوئے جرمونه کوئ .... داسې جُرمونه چې د معاف کولو نه دي......

اے د هغې تورک خاوندہ چې آفتاب دې د خپل تورک د لاندې څخړې کړے وۀ .... ته څۀ خبر یې چې احمد بېګاه د یاران سیلۍ او طوفان دا هېبتناکه شپه دا ده د خپل زوے په قبر په ژړا تېره کړې ده .... ته څۀ خبر یې چې د دۀ د زړۀ نه څومره فریادونه ختلي دي ..... ته نۀ یې خبر چې د دۀ د زړۀ د تل نه را ختلو سوو لوو فریادونو بېګاه د قبرستان مړي هم آرام ته نۀ دي پرېښودلي ..... احمد مجبور وۀ .... هغه په دې زوال او طوفان کښې خپل نیازبین آفتاب په دې لویې څو شي بیابان ادیره کښې یوا ځې نۀ شو پرېښودے ..... نو ځکه څو په نیمه شپه کښې را غلے دے او د شهید زوے په قبر دا دے څوړ وور پروت دے ..... نو اے د تورک خاونده، راشه لږ د احمد د زړۀ په پردو کښې او ګوره چې ستا لږې غوندې بې احتیاطۍ په کښې څومره پرهرونه جوړ کړي دي ..... دۀ دا منم چې دا به د آفتاب په قسمت کښې وو - دا به د آفتاب په تقدیر کښې لیکلے شوي وو - خو اے د تورک دا پوره په دې دلیل به ته کښې د الله په حضور کښې د سزا نه بچ شې - نه تا نه به ستا د غفلت او ستا د بې پروائۍ تپوس کولے شي - الله تعالیٰ به تا له د خپلو کړو سزا درکوي او اے احمده راپاسه - را ځه چې کور ته لاړ شو مړي چرې په ژړا نۀ دي ژوندي شوي - تا له دې خدائے صبر درکړي او ستا په زخمي زخمي زړۀ دې الله د خپل فضل او مهربانۍ پټۍ کېږدي - آمین

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژوند

(اسوپلے) سه سحر شي، ماسپخين شي، ماښام شي ما سختن شي
دَ ژوند ګهړۍ کمېږي ناګهانه به پوره شي

او دَ ژوند ګهړۍ کمېږي - ژوند د خپل منزل په لور په تندۍ سره
روان دے .... څوک خپل منزل ته رسېدلي دي او څوک بس ور رسېدونکي دي
د چا د ژوند ډيوه پخوا ګل شوې ده او د چا دَ ژوند ډيوه بس په سلګو
ده ..... دَ ګل کېدو په انتظار ده ..... دَ مړ کېدو په انتظار ده .....
بس دَ باد يوه نرۍ غونډې چپه ..... دَ هوا يوه نرۍ غونډې چپه
به يې ګل کړي ..... او بيا ....؟ د دې آبادې او ودانې دنيا نه به .....
د غمونو مصيبتونو او تکليفونو دَ دې دنيا نه به ..... د دې ښکلې ښائسته
او رنګينې دنيا نه به .... دَ ګورستان هغه خوشې خوشيا ته ورسي..
د قبرستان هغه چُپې چُپيا ته ورسي .....دوه لاس او دوه پښې به
د منونو منونو خاورې دَ لاندې ښخ کړے شي ........ او بيا ....؟
بيا په د غه تورۀ لحد کښې ..... بيا دَ مړو په د غه خپل خانه کښې ....
نۀ څوک دَ فرياد اورېدو شته ..... نۀ څوک دَ ژړا دَ اورېدو شته
نۀ څوک د تسلۍ شته او نۀ څوک د داد ګيرنې .... زوے نشته چې د فرياد
سره را منډې کړي چې .... « ولې بابا... څۀ تکليف دے درته - سر
درله او منډم پښې درله او منډم » .... لُور نشته چې د وۍ سره را منډې

کړي چې .... " د خپر شه بابا - ولې بابا ... څه دي؟" ښځه نشته .....
مور نشته ..... خپل نشته - پردے نشته ..... یو ځان .... یو دَ لحد
تورې تیپ توره تیاره او یو عمل .... عمل زمونږ د لارې مل .... عمل زمونږ
د قبر ملګرے دے .... عمل زمونږ د سختۍ او اسانۍ سبب دے .... عمل
به په مونږ د لحد سختۍ اسانه وي .... تورتیپ لحد به راله روخانه کوي
عمل به راته دَ لحد نه سرې سروټکي جوړه وي .... سور تنور به راته
ترې نه جوړه وي ..... او په دغه سروټکو به مونږ تېر قبرونو
په دغه سور تنور کښې به مونږ وریتېږو ..... ډېر سخت مقام
دے رونړو ډېر سخت .... دَ دویم ژوند ابتداء ډېره سخته ده ......
دَ ابدي ژوند د شروع کېدو مقام ډېر سخت دے ..... راځئ رونړو
چې هغه سختۍ ځان ته آسانې کړو .... راځئ رونړو چې دَ لحد سرې سروټکي
په سرو ګلونو بدلې کړو .... راځئ چې د لحد تورې تیرې په رڼاګانو
بدلې کړو ..... راځئ .... راځئ .... اے مسلمانانو چې سم مسلمانان
شو .... راځئ چې د خپلو زړونو نه بغضونه او یاسو' او د نفض کینې
او حسد په ځاے .... د غوښې په دغه کور کښې د غوښې په دغه بوټي
کښې مینه راپیدا کړو ............ د حسد په ځاے محبت
راپیدا کړو ..... د کینې په ځاے الفت راپیدا کړو .... هغه مینه!
چې انسان پرې د انسانیت معراج ته رسېدلے شي .... هغه مینه، چې
انسان پرې انسان خپلولے شي ..... چې انسان پرې انسانیت خپلولے
شي .... هغه مینه چې د خداے خوښه ده .... هغه مینه چې د رسول الله
صلی الله علیه وسلم خوښه ده راځئ چې د مینې په برکت دا تول معراج ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل کړو .... راځئ چې د مینې په برکت په معاشره کښې ځان له هغه
مقام راپیدا کړو .... چې د مرګ نه پس .... زموږ په جنازه باندې د
ګلونو د څهرې په ځای د انسانانو د ګکو د نیپې رښې او پیاکې پاکې او ښکې
څهرې شي .... ګلونه شي .... امیلونه شي .... د پاک ضمیر د خاوند
په جنازه ... د ګلونو د امیلونو ضرورت نشته .... د میته ناک زړه د
خاوند په جنازه باندې د ګلونو د څهرو ضرورت نشته ..... ځکه چې
ګلونه د محبت د روښکو سیالي نشي کولے .... ګلونه د عقیدت د روښکو
سیالي نشي کولے .... ګلونه د چامښن د اوښکو سیالي نشي کولے ... راځئ
رو ښو چې صحیح انسانان شو، چې انسانیت را باندې سر ښکے شي ..... راځئ
چې صحیح مسلمانان شو چې اسلام را باندې سر هسکے شي .... راځئ چې
سم مخلوق شو چې خدائے پاک زموږ په تخلیق و یاړ اوکړي ..... دا موږ
د ځان نه څه جوړ کړي دي .... دا موږ د ژوند په کوم لوري روان
یو ..... دا موږ د ګلګېچونو ..... پېچونو او کندو کپرو په کومه
لار روان یو ..... موږ په نامه انسانان د انسانیت نه څومره لرې شوي
یو .... موږ په نامه مسلمانان د اسلام نه څومره لرې شوي یو ....
سمه لار موږ ته ښکاري دې .... په کندو کپرو سر یو .... ښغه لاره موږ ته ښکاري
ده په کږو وږو روان یو ..... آخر تر کومه به موږ دغسې تېرې کړو ....
تر کومه به موږ د حقیقت نه سترګې پټوو .... اے غافله انسانه ....
اے ناپوهه انسانه ..... زموږ هر قدم موږ مرګ ته یو قدم ورنږدې
کوي .... زموږ هر پل موږ لحد ته ورنږدې کوي .... دا مزل به آخر
یوه ورځ ختم شي .... دا لار به آخر یوه ورځ اووهلے شي ..... اوهر

کله چې منزل ختم شو... لا ر ختمه شوه نو بیا؟ ..... څه په ورو ستو هم
هم نشته .... څه په شا هم هم نشته .... بیا څنګښې قبرستان د ے
او په دغه قبرستان کښې یوه وړه غونډۍ ته ګوره په کښې کنډرې
دوه نیم ګزه مزکه یو ټوټ ډېر ټوټ .... لکه ګو ے لحد .... دغه زمونږ کور
د ے ..... دا ښکلي موټرونه به شا ته پا تې شي .... دا مزکې جایداد ونه
به شاته پا تې شي... په دغه تک تور لحد کښې به دولت زمونږ په کار نه
شي .... سره سپین به زمونږ پکار نه شي .... بلکه په ناجائزه ګټلے دولت
به زمونږ د پاره لړمانان شي .... د یتیم حق به را ته خاماران شي ..... د
مظلوم آه به را ته سرې لمبې شي .... د مزدور اسو یلے به را ته لوګے لوګے او تورې
تیرې شي .... نو اے انسانه .... اے مسلمانه که ځان د قبر د لړمانانو
نه په امان کول غواړې نو ناجائزه ګټه پرېږده ، په شودو کښې اوبه اچول
پرېږده ، ناجائز کاروبار پرېږده ، ملاوټ پرېږده ، غل بازاري پرېږده -
که ځان د قبر د لړمانانو مارانو نه ساتل غواړې نو یتیم ته خپل حق
واپس ورکړه .... یتیم ځان ته رانزدې کړه .... د یتیم په سر د مینې
همدردۍ او محبت لاس راکاږه .... دونو اوویرېږه د یتیم د ژړا نه
..... د یتیم د سترګو هره اوښکه کورے طوفان د ے ..... د یتیم د سترګو
هره او ښکه کورے عذاب د ے .... د مظلوم هر آه .... په خپله لمن
کښې سرې لمبې لري .... د مزدور هر اسویلے به مو کورے لوګے لوګے او
ایره ایره کړي .... په دې فاني دنیا پورې زړونه مه تړئ .... په
دې نیمګړې دنیا دومره مه مئینېږئ .... د مرګ خیال د زړونو نه مه
او باسئ .... مرګ؟ .... یو حقیقت د ے ... مرګ؟ .... د هر ژوندي پیله

(c) ketabton.com: The Digital Library



قسمت کښې لیکلې دے .... نو د دا سې حقیقت نه سترګې پټول کنې هوښیار تیا ده ؟ .... د دا سې حقیقت نه بې پرواه کیدل کنې عقل مندي ده ؟ ...... نه! دې ته هوښیارتیا نشي وئیلے - دې ته عقل مندي نشي وئیلے .... بلکه دا د زمونږ غفلت دے .... دا زمونږ ناپوهي ده .... او د دې غفلت او دې ناپوهۍ انجام به ډېر خراب وي .... ډېر.... ډېر .... اوس هم وخت شته - اوس هم موقع شته .... اے انسانه که ته اوس هم صحیح مسلمان شوې نو مبارکه دې شه ..... اے خدایه! ته انسان په صحیح معنوکښې انسان کړې .... اے خدایه ته مسلمان په صحیح معنوکښې مسلمان کړې ....چې انسان ستاپه دې دنیا کښې د ژوند په خوند پوے شي - آمین

ه

سکرشي - ما سپڅين شي ماځيګر شي ما سختن شي
د ژوند ګهړي کمېږي ناګهانه به پوره شي
(سمندر)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**